

# نوی ژوندون

قیام الدین خادم

د پښتو ټولنی دنشریاتو څخه

تاریخ طبع ۱۳۲۰
د کابل عمومی مطبعه
تعداد طبع ۵۰۰ جلد

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

## دمضامینو فهرست

| مضمون | مخ |
|---|---|
| نوی ژوندون | الف |
| مخکینۍ خبری | ۱ |
| مینه او محبت | ۲ |
| زه دانه غوا‌ړم | ۸ |
| دخاوند خوښه | ۹ |
| خفه کیږه‌مه | ۱۰ |
| کار اوژوند | ۱۲ |
| ددنیا مشین په علم چلیږی که په عمل ؟ | ۱۳ |
| دژوندانه دری لاری | ۲۳ |
| دترقی اویه لار | ۲۹ |
| هلك اودهغه استاذ | ۳۲ |
| نارینتوب | ۳٤ |
| دجګړو عزو زمری | ۳٦ |
| ناروغه زمری | ٤۲ |

PROPERTY OF ARIC Established 1989
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00007173 7

| مضمون | مخ |
| --- | --- |
| یوز نگلی بنی ادم | ٤٩ |
| دتو تکی جاله | ٥٢ |
| داصلاح لاره | ٥٦ |
| احسان | ٥٨ |
| عملی تعلیم | ٦٠ |
| شعر | ٦٤ |
| دتیکی حال | ٦٨ |
| دغمجنو سره | ٧٠ |
| نا کامی | ٧٦ |
| پسرلی | ٧٨ |
| خبری | ٨٣ |
| په ځنګل کښ یو ما ښام | ٨٥ |
| متقابل اخلاق | ٨٩ |

مضمون | مخ


| مضمون | مخ |
|---|---|
| دژوندا نه طلسم | ۹۵ |
| دیارانی ژوند | ۹۹ |
| چه ورسپېرم نودمه به کوم | ۱۰۲ |
| دخپل هر فعل اجر | ۱۰٤ |
| سنګه بشی | ۱۰۷ |
| دستورو دنیا | ۱۱۱ |
| تنګ نظری | ۱۱۵ |
| د کوترو کور | ۱۳۱ |
| نجات په سه کی دی ؟ | ۱۳۸ |
| سیلاب | ۱٤۱ |
| په ننني دنیا کی دفکر قیمت | ۱٤٤ |
| استقلال او ازادی | ۱۵۱ |
| ویده ماشوم | ۱۵۵ |
| استعداد | ۱۵۸ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| دپښتو ټولی روح | ١٧٢ |
| مشر او کشر | ١٧٥ |
| ترقی | ١٧٧ |
| دثروت چل | ١٧٩ |
| دچا کچری مه تر هوه | ١٨١ |
| دغوگو خدمت | ١٨٥ |
| پردی خط لوستل | ١٨٨ |

# نوی ژوندون

لوی خدای لره شکرونه دی چه دهواد درفاه او آرامی ترسیوری لاندی پښتو ټولنه موفقه شوه چه د نوی ژوندون کتاب طبع او خپور کړی .

دا کتاب دهغو هیلو په اساس طبع شوی دی چه پښتو ټولنه ئی دمنثور ادب دخدمت په لاره کښی لری . څرنګه چه واضحه ده ځمونږ په آثارو کښی منظوم آثار ډیر زیات دی او مخصوصاً دپښتو دنهضت په دوره کښی منثور آثار و ته ډیر زیات احتیاج لرو . ځکه چه هغه کسان چه په کورسو کښی یا په مکاتبو کښی ئی پښتو ویلی او درسی کتابونه ئی او ستلی دی او په پښتو کښی ئی دمطالعی استعداد پیدا کړیدی داسی آثارو ته خورا ډیر محتاج دی .

نو ځکه پښتو ټولنی دبلی ډیوی دکتاب په اساس چه مخکی

طبع او خپور شو دنوی ژوندون کتاب ترتیب او سره
دډیرو مشکلاتو ئی چاپ کړ .

په‌دی کتاب کښ برسیره په‌هغه ملاحظاتو چه‌دادب
له‌خوا نظر لاندی نیول شوی دی داهم سنجول شوی‌ده
چه مضامین ډیر عصری اوحیاتی او افکار دجدیدی
تربیئی‌داساس سره‌سم‌وی . څرنګه چه‌داوستلو نه‌ورو ستنه
معلومیږی دقیام‌الدین‌خان «خادم» ددی کتاب مولف
زیار اوزحمت ډیر زیات‌دی زه ددی دپاره یودلیل لرم
چه‌هغه‌دمولف لوی‌موفقیت‌دی اوڅرګنده ده چه‌دغومره
موفقیت بی له ډیر زیار اوزحمت څخه لاس ته‌نه‌راځی .
نو پښتو ټولنه دی اثرته دقدر په‌ستر ګه ګوری اومولف
ته تبریك وائی .

مونږ دښاغلو لوستونکونه هیله کوو چه ددی اثر
نه استفاده وکړی او دپښتو ټولنی زیار اوزحمت تقدیر
دکتاب په‌لوستو او استفاده کولو وکړی ځکه چه خمونږ
بی له مفید خدمته څخه بله هیله نشته .

په پای کښي دومره زیاتوو چه ددي کتاب انشاء او اسلوب او سبك ډېر جدید او تازه اوددي دنامه او مضامینو سرد سم دی او لوستو نکو ته به برسیره په دي چه په پښتو ادب کښي یو لوی سرمشق گڼل کیږی دفکری او دماغی استفادی په لاره کښي هم مفید لار ښو نکی او مفید اثر شمېرل کیږی .　　　　«عبدالرحمن پژواك»

مخکینۍ خبرې

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله والصلوة والسلام علی نبیه محمدوعلی اله واصحابه اجمعین - دا کتاب : « نوی ژوندون » چه زما دډېر مودو دفکری اوقلمی زیار نتیجه ، اودمنثورو اشعارو ؛ ادبی نثرونو اوعصری مضامینو مجموعه ده - دحیل تنکیالی قام حضورته یې وړاندې کوم - له څښتنه غواړم چه زما دا زحمت زمادقام دحساسو افرادو اوادبی ذوق والاؤ په نزد ملیت ( پښتو اوپښتنو الی ) ته مفید زیارو بلل شی .

کابل ۱۰ دلو ر ۱۳۲۰

قیام الدین « خادم »

# مينه او محبت

دمو رو پلار غيږ ... دميني لاس راخکلی ... جـان
وقربان ، پخلا کـول ، پېرزوينه ؛ دهر ګړاو او ستونزي
په وخت کښې پهسر سيوري کېدنه ... څومره خوازه وه ...؟ !

داپوهه او هغه وخت ... !

تېره وختونه بيا بهرانه شي ... ؟!

خوزه کمکيتو به ! ته درتړا بربښناوي که داملتهالقدر
شپه ! چه ماونه ليدي تېر شوي !!!

څهوختونه وو !! څه رښتيني محبت ؤ ؟!

آه زه مينه او محبت لټوم !!!

* * *

دخوينډو ورونـړو ، تربنډ تـرو نو ـ خپلو خپـلوانو
الفت او شفقت خوندوردی ، مزه ناك دی ، خوارمان چه
هغسې خوږوی لـکه دمور !... بې بدله وی !... بې معاوضې
وی !... په سودو زيان نهحرا بېدی !!!

دیوې سیني غوټې ، په یوه غېږ کښې اوی شوی ، په یوه تی خواله ایښې ، سکه ورونه سره ولې مایوه شی؟! . سره ولې پردی شی ؟!.. او کله خوږه ورورې دزهرو ګوټ شی !!..

چېرته دی دمیني خوږه شات ؟!

په کوم بازار کښې دی ؟!

آه زه مینه او محبت لټوم !!!

* * *

یاری بنده ده ، اشنایی خوږه ده ، خو کاشکې چه دیو سلام پرځای دوه نه غوښته کېدی ! . . . د اشنانه دهغه بوی نه راتلی ! . . دخوار لسمې دسپوږ مې په څېر سباته نه کمېدی ! . . . دکاپر ګل غوندې سبا مخ په نمر خاته او بېګا مخ په نمر پرېواته نه کېدی ! . . دعباسی پشان په ستر ګې رپ کښې پخپله نه مړاوی کېدی ! . . .

وښتیاني دوستی څو مره لوی نعمت دی ! څو مره خوږه لری ؟ ! . .

آه زه مینه او محبت لټوم ! ! !

* * *

انصافدار مشر چه دظلم په وخت کښې دسر سیوری شی دظالم دلاسه ورته ژړاوشی اود مظلوم اوښکې پاکې کړی ! . . .

مهربان استاذ چه شاګرد ته د طوطی په رنګ دعلم شکرې ورکوی ! . . .

خوا خوږی طبیب چه د تکلیف ، درد او خوږ په وخت کښې دنا روغ اوبدلی زړه راپور ته کړی ! داد ګېرنه‌ور کړی ! . . . اوپه‌ز خمو بې پټی کښېږدی ! څومره ګران وی ؟ !

خوچه تل په یو رنګ وی ! ! . . دلمر په دودیې هر چاته په یوه ستر ګه ګتی ! . . . په خبرو نه تېر و تی ! نه‌پقاربدی ! . . . اودقهر په‌وخت کښې بې د ګنا نه زړه ته سزانه ورکولی ! . . .

نوای‌نیازمینې زه‌تا چېرته وګسم ؟ ! . . ته چېرته‌یې ؟ !

آه زه مینه او محبت لټوم ! ! !

* * *

دسپا دباد پشان مې هره سانګه وخو څه له ؛ دغرو سرونه مې و کاته ؛ صحرا اوچمنونه مې ولتول ، دشنیلو په فرش ورغښتم ؛ د ګل په پاڼو وګرځېدم ، دبلبل سره هم اوازشوم ، دنریو ویالو دخرامان تګ سره ملګری شوم ، — ولې ، شیرین اشنامې نه کړ پیدا ! ! . .

بلبل رانه واووت ! ګل رانه مخ د پاڼو په پلو پټ کړ !
اوبه رانه په مستۍ مستۍ تېرې شوې ! !
زه دمینې تږی اود محبت وږی ! ! !
آه زه مینه او محبت لټوم ! ! !

* * *

نامردې سپوږمۍ ! اربان دربان دڅا نه خفه ، نیمه ریږې نیمه خوارا و وتم چه تاسره مشغول شم ، دستړې زړه حال درته ووایم ، تالکه شرمنا که پیغله کاله دې مخ ښکاره کاوه او کله دې دوربځې په پلو پټاوه اومسکه کېدې ، اخرلاړې دافق په توره کېږدۍ ننوتې !

زه دي الق دلق پر ښودم !!

ماو یل ته به راسره وفا و کړي !!

آه زه مينه او محبت لټوم !!!

* * *

ای زما ښکلي معشوقې ! ای چه بې له تا

دژوندانه باغ سپیره او خړ معلومیږی ، ستا

لور چېر ته دی ؟ . هان ، چېر ته دی ؟ !

ته دمهر بان بادار کره به لامکان کښې اوسې ؟ !

هغه ښښتن چه دهغه کرم نه تماميږی !

هغه خاوند چه دموراو پلار نه ډیر مهر بان دی او د

هغه مینه بې بدله بې معاوضې ده ! هغه، چه کمزوه سپین

ږیری شم هم دی را باندې هماغسې مهر بانی کوی، لکه

ماشوم چه وم !

هغه چه عذر قبلوی او گناه ښښي !

که زه هرڅه و کړم دی دخپل قانون نه نه تیر یږی ! —

به ویره گناه غټه سزانه را کوی !

اخ داز لې محبت لاله گون جام ! هغه چه دژوند دسوی
اوتاونه پرې خبرشم ! . . . دخدمت هغه جذبه چه دځښتن
رضايرې حاصله کړم ! . .

اود هغه معشوقې وصال پرې ومومم !

خاونده دغه مې سوال دی !

باداره !

ستامينه او محبت لټوم ! ! !

# زه دانه غوارم

زه دانه غوارم چه ما د دنیا د مصائبو ( کړاو ) څخه خلاص کړه، بلکه دا ـ چه زما ضعیف زړه ته داسې ضبط وبښه چه د ژوندانه مشکلاتو او خطروته خلاصې تینګ تیږې تیږې ورشي ! دانه !ـ چه ته ما د جوړ کړو ـ روغ کړو شیوتو خاوند کړه، بلکه دا ـ چه زما په زړه کښې د ښو خبرو مینه واچوه ! چه د هغو د کولو او پرځای راوړلو خوشحالي مې نصیب شي !ـ

هره ورځ مې په نوو ارادو او غوښتو رښتیا کړه ! او هر ماښام مې په هوساینې او راټول زړه راوله !ـ

ته ما ته دا توفیق را کړه چه زما خپل او خپلو زړه ستا د خوشحالۍ آئینه شي، او زه په ټول عمر پوازې ستا د ښایست او حسن د ښکلو ننداري کوم !

# دخاوندخوځه

عاجزان په‌سختۍ سره مه‌رټه ! عاجز د خدای خوښ دی ، اوڅوك چه‌دهغه خوښوی هغه‌ته په نفرت مه‌گوره !

که‌ستا فطرت د صحیح احساس نه خالي‌وی نوستر ګي ټیټي کړه ـ اوپه‌خپل کلك زړه اوښي ټوپي کړه !

که‌ته زړه لرې نود چازړه مه ازاروه ، په‌او ښو توبو ونکو ستر ګو دملا ئکو زړونه ټوټي ټوټي کیږي ، اودبخو زمن زړه‌غگ دعرشه پورې رسیږي ، ځکه چه عاجزی دخاند خوښه ده ، اوهغه تل خپلو غمجنو بندګانو ته‌په خپلې خوا کښې ځای ورکوی !

# خفه کېدګه

خفه کېږه مه ! خدای شته ، هغه د هر غمجن زړه فریاد اوري ، او د هر وران زړه د ړاتو لېدو سامان پیدا کوي :

ته په خپل مصیبت کښې ترورېې ، لیکن د ی پوهېږې چه ستا غم ستاد لاعلمۍ په سبب دی ، ستا مصیبت ستاد بې زړه توب او ستاد ناڅیزه خواهشو نو څخه پیدا کېږي !

هغه چه د ګل په خوالاس او زد کړي او داغزي دلشکې څخه فریاد کوي ، هغه دخپلې ناپوهۍ اعلان کوي ؛ خدای ده تـه تـکلیف ور کوي لیکن ورسره تمیز هم وربښي ، په تـکلیف خوسړی اخته کـوي خوپه دغه شان سړه یې خپلې خواته رانږدې کوي هم !

دژوندانه په خوځېدو کښې ددغو لغزشو څخه دخلاصې لاره لټه ! ددنیا په تـکلیفو کښې دهغه بېشماره نعمتو نه را یادزړه کوه ؛ کههغه بېغرضهذات ستاد ساتنې خیالونه لري نوستا به څه حال وي ؟ دا : هغه پـاك ذات بېغرضه مینه

دە چە ستا د دومره سر کشیء سره یې خپل لاس و تا ته در نږی دی او د دنیا په مصیبتونو کښې تا ته لار ښوونه کوی !

تــه پخپله دسپینو اوسرو خاوند یې ، او دخپل غــم او خوشحالیء پخپله امین ؛ و گوره ستا مستقبل ستا دستر گو لاندې تیار ولاړ دی ، چه کومې خوانه ستا ستر گې پورته شی ، دی دخپلو ټولوقوتو سره تادپاره په کار بختیږی !

آه ! ای بیسکوره غمجنه زړه ! دادغم غږوندی چه تا ته په غاړه دی ، دا تا ته دهغه خوشحالیء لاردرښیی چه تیك ستا په نصیب کښې ده ، بې یامی به تر څو تا بیکاره کوی ، پورته شه ! اوددغه دخپله لاسه خولنو څخه ځان خلاص کړه ! په آزادیء سره دمنزل مقصود په خواو ووځه !ـ زړ شه هله چه هغه طلایی شبه راورسیده !!

# کار او ژوند

هرهغه مشق ، عمل او کړنه چه دلاس ، پښتو ؛ زړه ؛ مغزو ؛ پلو ، او غړیو په واسطه کیږي ، هغه کار بولی .

په دې خبره باندې پخوانی خلق هم پوهیده او اوسنی هم وربانده پوهیږی چه « کار داسان دژوندانه د ډیرو ضروریاتو را غونډوونکی دی » .

په کار کو اوسړه سړی دولت گټلی شی ؛ علم حاصلولی شی ؛ کور و کلی ودانولی شی ؛ ددشمن او نورو مضراتو دپنجې څخه ځان خلاصولې شی .

مگر داخبره اوسنیو پوهانو ثابته کړه چه « کار دژوندانه قوام دی » ـ بې له دېنه چه دژوندانه ضروریات په کار پورې اړه لري ؛ په خپله ژوندون یو قسم حرکت او فعالیت ته محتاج دی .

علماء وایی : « یوازې روغ او جوړ خلك نه ! بلکه مریضان او ناجوړه خلك هم باید کار وکړی . مگر هر څوك دخپلې اندازې سره سم »

دا مریکې زیات پوهان پس له ډیرو څیړنو څخه دې نتیجې ته رسیدلی دی چه « دعمر داوږدوالی راز د « کار » په درې حرفی کلمه کښ پټ دی . »

# د دنیا مشین په علم چلیگی

## که په عمل ؟

دلته زمونږ مراد په علم سره تش علم دی چه د عمل نه بیخي خالی وی ؛ او مراد مو په عمل سره محض عمل دی ، چه د علم پکښي هیڅ دخل نه وی ؛ اوس نو گورو چه د دنیا مشین په علم چلیږی که په عمل — ؟

که مونږ وغواړو چه دا خبره معلومه کړو چه چراغ په اکسیجن بلیږی که په هائیډروجن که په دواړو ؛ نو مونږ به یووار په یوا ځي اکسیجن او بل وار په یوازي هائیډروجن کښي بلته بله کړو ، او وبه گورو : که هروار په دواړو کښي بلته مړه شوه نومعلومه به شي چه هریو یوازي نه ! بلکه دهغوا دواړه جزونه دچراغ په بلیدو کښي دخل لری ، او که په هائیډروجن کښي باقي مړه شوه او په اکسیجن کښي نه شوه مړه ؛ نو دا نتیجه به حاصله شي چه د بلید لو سبب یوازي اکسیجن دی ، نه ، هائیډروجن !

په دغه شان سره که مونږ معلوم وو چه د دنیا مشین په علم

چلیږی له په عمل ، نوبه کاردی چه روم‌بی بو داسې ملك فرض کړو چه په هغې کښې بې داهل علم او اهل نظرو څخه کار کوونکی او لاس وپښې خو خوونکی نه وی ؛ نو کورو بهچه دغه ملك څو مره موده ودان پاتې کیدی شی ؛ بیابه بل بوداسې ملك فرض کړوچه په هغې کښې پرته له ساوستو مزد وراتو او کاری خلقو څخه دعلم دخاوند نښه هم نه‌وی ، نو بیابه کوروچه دغه ملك ودان پاتې کیږی که نه ؟ _

دغه دی روم‌بی موبږ داسې ملك فرض کوو چه دهغه او سید ونکی له بو مخه عالمان ، فلسفیان ریاضی دانان مصنفان شاعران او فاضلان دی مگر په دوی‌ء کښې یو هم داسې سړی نشته چه ددغه واجب التعظیم حضراتو دپاره دخوړ لو څښلو ، اغوستلو ، دهستو گنې او ایك اوست اسباب تیار کړی روم‌بی خو ، بې دکار کوونکو خلقو څخه داسې ودانیء ادو پیدا کیږی نه ! او که فرض کړو چه په کوم ځایکښې دڅو ورځودپاره‌داسې ناممکنه

وداني عینده هم شي ' تو ښه ! آ خر به یې څه وي ؟ ـ
ممکنه ده چه ځیني دمطالعې په شوق وخوند سره یوه
ورځ نیمه ورځ په وابزه تنده نه‌شي پوه ! اوځیني دیوې
مشکلې مسئلې دبرانیتو (حل ) په خوشحالیء مـړه
اوسي : یو وخت دوه وخته دخوړ لو ښبلو پروا و نه
لري ؛ یابعضو ته دیو مضمون په یو ختمیا تر کومه وخته
دخوراك ښبا لـ بروادانه شي ' لیکن دېر زر به پوه شي
چه‌مونږ یوداسې مخلوق یوچه‌وږی یو ' روزی رسا ن
مونشته ؛ بې بند یو ' پټو ونکی' نه لرو ! آبر یو ' حـاجت
روانه لرو ؛ تو اوس به دوي ء څه کوي ؟ ـ یابه په خپلو
مشرفو لاسونو هغه تول ذلیل اوسپك کارونه کوي چه
عوام کالا نعام یې کوي ' یابه دستی ددې ملك نه کوم
داسې ملك ته هجرت کوي چه هلته ددوي ء دپاره حکم
منونکی بند گـان یا بنده پالو نکی بادار په لاس ور شي :
په هره خوا نتیجه دا را وو ځی چه : « ددنیـا مشین په
تش علم نه چلیږی . »

ددينه ورورستمه ، موږ بل بوداسي ملك فرضوو چه دهغې واړه او سپين ونكي ناالوستي او ناپوه (علم) دى ، ولي ډېر زيار كښ اوخوارى كښ دى ، اودخپل ژوند دتېرولو په تيارىء كښ خورا (زښت ډېر) بخت اومصروف دى ، كه څه هم ، دوىء دخرڅون (تجارت) لاني (زراعت) ، جوړولو (صنعت) ، اودلاس دكارو اصول په كتابو كښي نه دى لوستي ، ليكن دوى خپل هغه ټول ضروريات په خپله پوره كړى چه دهغې پورې دانسان ژوند نښتې او موقوف دى؛ قدرتي خواهشو نه اوطبيعي اړتيا چه څنګه دوى ته څه ورښيي ، اودپله پسي تجربو څخه چه څومره ددوى پوهه زياتيږى اوددي په رڼا كښ چه دوى څه ببږ ني ، هغه ټول ئى په خپله اجرا كوى ، كرل ، ريبل ، وريشل او بدل ، جوړول اودلاس اوپښو كار ؛ لنډه داچه ټول مهم ضرورتونه بې په ورو ورو سره په خپل سر و اخستمه ، اوس ددوى هيڅ كار بندنه پاتي كيږى ، اونه معطليږى . بوسري

نې پیدا کوی ، دویم یې اوده کوی ، دریم یې پـخـوی ، پیادرې واړه په ګډه کښېنی خوری یې . یو کس پنبه کری ، بل یې آنوی ، دریم یې اوبی ، څلورم یې ګنډی ، بیا یې څلورواړه په اتفاق اغوندی . دوی دغل غدونه ـ دسره ویر بېړی نه ! ځکه چه ددوی سره یې دخپل لاس اوپښو دمحنت نه نور څه شته دی نه ! او نه پکښې بیکاره و زی سړی شته چه دغلا فکر و کړی ؛ دوی ددښمن دحملې هم هیڅ پروانه لری ځکه چه دوی دخپل همت په برکت ددښمن هر قسم مقابلې ته تیار تکړه دی . په دوی کښې بد کاری او بدچلنی هم نشته ځکه چه هر یو په خپل کار اخته دی ؛ ددی خبرو فرصت نه لری . په دوی کښې ناجوړه او مرض هم نشته ځکه چه طبیب ایړدا کېتر نشته ، په دوی کښې پېري جنبې هم نشته ځکه چه هغه وز کارخلق چه ددې خبرو سبب ګرځی هغه نشته ، ددوی په مینځکښې جګړې او مقدمې هم نه پیښېږی ځکه چه دفساد منشا نشته ؛ په دوی کښې بل هیڅ عیب نشته پرته له دې چه سویلا ئزد ( مهذب ،

تعلیمیافته ) نه‌دی ، نو ددې نه دا ضافه ظاهره شو ه چه :
" ددنیا مشین په عمل چلیږی نه په علم ! "

اوس فرض کړوچه ددی ملك دا و سپد و نــکـــه گذ ران دیوداسې قام سره شوچه د هغوی ټول کاروونه په علمی اصوالو بنادی ؛ هغوی په کرنه ، خرڅونه ، جوړونه حرفت اودغسې په ټولو حربی اوسیاسی کا رو کښې علم خپل رهبر گڼلی دی ؛ د هغوی جولا ، نـداف ، پښې تر کان ، زر گر ، گنډونکی مه چی ( چمار ) خټگر بلکه ټول کسبه دعلم په رڼا کښې خپل کـــا رو نه اجرا کوی ، -

نو ددغه علم اوعمل والااقا م گذ ران ، ددغه و دان ملك ناالوسته خلقو ته دیر نقصان ورساوه ؛ دهغوی تجارت ددوی دڅوند اخراجات داندازې نه زیات کړو ، د هغوی د صنعت په مقابله کښې ددوی صنعت معطل شو ، دهغوی دلاس کار ددوی دلاس کار رد کړو ؛ مگر دیوې زمانې بو ر ې دوئی په دې خبره دسره پوه نه شوه ! چه زمونږ

کسبه واې وز کار یاني شول ؟ ـ کته وته ولي بې بره بې بر کته شوه ؟ ـ زمو نږ لکت خنګه ورځ په ور ځ زیاتیږی ؟ ـ او کته مود لکت سړنه د کو ی ؟

لیکن ددغه پر دی قامسره چه څومره ددوی ګډ ون زیاتیدو ، هما غومره دهغوی او دهغوی دږبی ژده کو او ضرورت هم زیات شو ، دوی پومبی دهغوی ژبه زده کړه ، بیابې ورووړو دهغوی دعلم په زد کړه شروع وکړه ، د کومو علمو په ذریعه چه هغوی په هر فن کښ اوږ والی مینده لی و ، هغه علمونه قابو دوی هم زده کړه ، مګر پر ته دپیښو لو او ندې څه عملی فائده ترې وانه خسته ! هغوی علم دعمل دپاره ګاوه ، دوی علم تش دعلم دپـاره زده کړو ؛ هغوی دې خبرې ته رسیدلی وو چه علم دانسا ن دپاره پیدا شوی دی ، مګر دوی دېږ یه اوڅو یوڅوا یله یه دې و رسیدل چه انسان دعلم دپاره پیدا شویدی ، هغوی دعلم نه خپله هم فائدې اخستې ، او خپلې سیمې ( وطن ) او قام ته به یې هم فائدې ( ښیګنې ) رسولې ، مـګر دو ی

د گونگی په شان گونګه و خوږه خوځوك نه شوه بېره چه حوزه وه که ترخه ! هغوی ددنیا دنور و قاموتو ژبې ددې دپاره زده کولې چه په توله دنیاکښې د نور خپېدل ، دنور وخلقو سره ګنبېنا ستل پاڅېدل ، دهغوی دعلومو او فنونوڅخه بې ځان خبروالو ، او هغه یې په خپله ژبه کښې راننه ا یستل ؛ دوی هم د هغوی ء پېښې و کړې ، دنور وقامو ژبې او دهغوی ء لغطونه یې زده کړل ، مګر نه ددې دپاره چه په نور وملکو کښې وګرځی او د نورو قامونو علمونه او کمالونه په خپله ژبه کښې راننه باسی ، څکه چه دوی ء لا د اوسه پورې خپله ژبه پېژندلې هم نه !!! بلکه تش د ددې دپاره چه دطوطی په شان د بل چا په ژبه خبرې وکړی کوندې وی چه هغوی ء ته پېدې باندې شه ښکاره شی . هغوی ء برق دلګواو ، مېز د لیکلو ، چوکۍ ء د کښېنا ستلو ، او ساعت ( شپېه ) دوخت او د کار د و پش دپاره جوړ کړی او را خوند کړی و و ، دوی ء هم داتول راجمع کړل ، مګر تش دسیالیء اودول دپاره !

ددې تولو خبرو نتیجه داشوه چه د دغه خلقو حـال د بدنه بترشو ؛ دعلم په شوق و ذوق سره دوی ء لاس ویښې حوځول پر ښودل ؛او دعلم غوږ دوی ء ددنیا دحقیرو کارو څخه منع کړل ، ښه نو ! ـــ ترڅوچه دو ی ء علم د عمل دپاره ونه لولی ، او دعلم نه عملی فائده وانخلی ، نودا کېدی شی چه علم ددوی ء په ښه ور شی ، او ددوی ء حال بېر ته ښه شی ؟ ـــ نه ! نو ددې نه داښکاره څر ګنده شوه چه : « د دنیا مشین په علم نه چلیږی بلکه په عمل چلیږی »

زه دانه وایم چه مونږ ګوندې ، علم ته نه یوایی بلکه په دې وخت کښې مونږ علم ته داسې اړ یو لکه تږی او بو ته ؛ لیکن څه رنګ چه دیخو او بوپه غړغړو تنده نه ماتیږی بلکه لاز یاتیږی نودغه شان په تش لفظوزده کولو ،او سرسری اصطلا حاتو یاد و لو او ظا هری نقالیء سره نه خوك ځان ته اصلی فائده ر سولی شی او

نه وطن (سیمی) ته ، بلکه ویره لا دا هم شته ! چه داسې خلق وطن ته مضر ثابت شي !!

زموږ چه کوم علم ته ضرورت دی هغه ، هغه علم دی چه زمونږ مړاوی او ویده قوتونه ویښ او تازه کړی ، نه هغه علم چه زمونږ متحرك او تازه قوتونه مړه او مړاوی کړی !!!

# د ژوندانه دری لاری

د ژوندانه د ر ي لارې د ی چه تو لې و هغې یوې خواته چه دټولو سرچینه بلل کیږی ! — ځی.

دژوندانه دري لارې دی : علم ، عمل ، عشق ! دعلم لا ر یه‌هوا کښې د ه ؛ دعمل په‌ځمکه ؛ او دعشق په‌اوبو کښې — عالم‌الوزی ، عامل‌درومی ، او عاشق (مین) لامبو وهې !

عالم ته چپ ، او بوازې فضایه مخکښې د ه ، عا مل ته سختې ز مکې او د ې ژورې او کړنګونه ، عاشق ته دتېزو سیندو اوطوفانی د ر یاو څخه پور یو تل !

علم د بیژندو ارمان دی ، عمل دڅه کولو خواهش او عشق د یوځای کېد واو وصل کېد و آرزو !

دعلم نه د پل‌چا ، دعمل نه د خپل ځان ، او د عشق نه د ځان او دهرچا — څرك اګی !

علم د جهان قصه ده ، عمل د ځان ، او عشق د حق

علم اقرار دی ، عمل اظهار دی ، او عشق احساس !

علم ، عمل ، او عشق جلا جلا دی ؟ په دېله سره واسطه نه لري ! ؟ —

رښتینی علم هغه دی چه د جد و جهد لاره وښیی ، او زمونږ په زړه کښې د هر سړی او هرې خبرې سره مینه پیدا کړی ؛ ښه عمل هغه دی چه په مونږ کښې د غور او فکر عادت واچوی ، او مونږ ته د ښو چادیاره د ښه کولو ترغیب را کړی !

او حقیقی عشق هغه دی چه مونږ ته د رښتینی علم راز را وښیی او د ښو کار و لار را ته صاف کړی !

له علم ، عمل او عشق څخه کومه لار د بره ښه ده ؟

هر کله چه ته لېی لاری د عشق په مرکز پېر خوا ځی نو مونږ کومی یوې ته سم او لیې ته لاړه ویلی شو او که نه ؟ په دنیا کښې څه لږ علم لري ، څوك د عمل سره شوق لري ، او څوك په عشق اخته دی ؛ یعنی د چا الو تل خوښ دی ، د چا د ګلانو سیل ، او د چا لامبو وهل او غوټې

خوړل . نواوس موږ ښه ورڅلی شو، چه په دوئی کښې ترټولو
ښه کار کوم یودی ؟ – ترټولو ښه هغه دی چه تر ټولو
ښه و کړی شی ! –

چاپه علم زړه ور کړی دی، دی دعالم او دده داسرارو
څخه خبریدل غواړی ، دی پوښتنه کوی چه " دادنیاڅه
ده ؟ نمر او سپوږمئی له کومه شویدی؟ وریځ څه شی دی؟
هوا څه ؟ " دی اکثره پوښتني کوی ، مګر کله کله
یوه شی چه جواب یې ومومند، دی شیونه ګوری اواتوری
یې ، په خبرو غور او فکر کوی ، لیکن ځینې شیونه داسې
دی چه همداسې تاوراتاو او غښتی راغلی دی، دهغو څخه
لمن رانغاړی او دښه دنه خاندی.

چاعمل ته بدېږ وهلي دی ؛ ده ته دنیا اودنیا کارونه
خوند ور کوی، دی دشیونو په سپړلو او دخبرو په بر څېرولو
خپل وخت نه ضائع کوی ، بلکه دکولو پسې ځغلی . دی
" څنګه ، څنګه " نه لري ، دی "وو" او "شی به" هغه
وخت منی چه ده ته یی " دی " او " وشو " کړی ،

اوورویي ښیي! دی په کور ، بهدنا ، کوزو پاس کښ ایښتی دی، اخته دی بخت دی ؛ دی په خو ځیدو کښ قلاری اویه حرکت کښ برکت اویه کار کښ ارام مومی؛ ښارونه یې ودان کړه، سړکونه یې جوړ کړه ، باغونه یې تیار کړه ، کارخانې یې وچلولی ، عمارتونه یې ودرول ، محکمې یې قائمې کړې اویه زرګو ضرورتونه یې پیدا کړه، چه د کارو لکونه لکونه سلسلې تري پخپله جاری شوي؛ مطلب داچه زمونږ دنیانه ده ، یود کار ځای اود لو بو میدان جوړ کړو ـ څوك دعشق غلام دی؛ دی په بـل کښ محو کیږی خپل ځان هیروی ، دی دپیږندلو اوکولو څه پروانه لری؛ دی یوجزدی چه دنورو سره دیوځـای کیدلو او کل کیدلو ارمان لری؛ یه دې ارمانونو اوپلټو ن کښ دی دځان نه ندی خبر ! بلـکه پرته دځـان نـه دهرسري اوهرشي ښیګڼه دده مد نظر وی ؛ اودا ددې دیازه چه ده ته یه دې کلفت کښ راحت اویه دې بیقرار ئی کښ ارام ، اویه دې ځان وره کولو کښ دهر څه موند لو

خوند حاصلیږی ؛ دژوند بلق چه کوم وخت دده ترلږه
څخه تیریږی نو دبلهٔی دنال پشان رنګونه بکښی ځلیږی
او دنیا دده او دهرچاد پاره یوه اسمانی دنیا جوړیږی !

دژوندانه یهدی لاروتلل دیوی اندازی پوری اسان
دی څکه چه فطری دی ، لیکن ددی لاروطی کول خورا
مشکل دی ! کهڅهم دموند اوآرزوا کثره ضعیف انسان
غولوی ، دی ګمان کوی چه بس ودی منزل ! او بیاد
خود غرضیٔ عکاس ورته یهخکښی دربیږی اوداسی داسی
تصویرونهورته ښکاره کوی چه یه نقل باندی داصل خیال
کاوه شی ! —

څومره دعلم خاوندان دی چه دا ګمان کوی چه ته
یههرڅه یوه شوی او دی یه هیڅ نه وی یوه ! یا دا چه
دده علمی او فنی کارنامی دنیابربباد کړی ! څومره
کار کوونکی دی چه ددوی مشاغلو ددنیاته ددوزخ
نمونهجوړه کړه ؛ اوڅومره دمحبت شیدایان دی چه دوی
یا کوجذباتو ته دککړ وخواهشو جامه وراغوستی ده —

حقه‌داده چه کښېنیت دسړی ملګرتی وی نودژوندانه
په هره لاز تلونکی هغه لوی سړك ته‌رسی چه دهغې منزل
مقصود دخدای کوردی . خدای یو دی مګرده ته درسېداو
لاري دومره دی لکه څومره چه دانسانانو زړو حونه دی .

# دترقئ لویه لار

پهدنیا کښې بهداسې څوك وی چه خپلځان دترقئ پهاوچته سام ختلی لید ل نه غواړی ؟ هغه به څنګه زړه وی چه دخپلو ارادو دپوره کولو اودخپلو مرادو دحصول ارمان نه لری ؟ هغه به څنګه بنیادم وی چه دخپل ځان داوبی غوښتو ںکی نه وی ؟ هغه به څنګه دماغ وی چه دخپلو همځولو نه بردوړل نه غواړی ؟

ددې پوړ نه پوښتنو جواب دادی چه داسې هیڅوك نشته چه دهغهزړهاودماغ ددې ارماندونو دداغ نه خالی وی.اوس تو سوال دادی چه هغه کسان چه دخپلو ارزو ګانودحصول دپاره میدان ته راووځیاوزیار کاږی ولې دټولو ارمان نه وو ځی ؟ اوولې ټول دترقئ داسما ن نمر اوسپوږ مئی نه شی کېدی ؟

تاریخ اومشاهده مونږ تهراښیيچهدپوخو بنیادمانو نه پرته خو ، نور ټول په خپلو ځایو برابه قسمت ژاړی ،

او په ځلګيو ځلګيومرۍ . اوددغه ښوکسانو څخه هم
ځينې داسې دي چه لږ څه ورانديې لاړشي نو دهمت يې ټي
له ملا ورايځي ، کښينې اوځينې نورچه دوی نه لږ مخکښې
ځي ، کوم بخت چه هوا لګوي مخالفه ووينی ، بس ، هلته
دقناعت په مرض اخته او له تلو پاتې شي .

مطلب دا چه په دوئی کښې چېرته کوم يو ، داسې
خبری را ووځي چه دلارې ددهشتناك مناظر و اوډ ډ ه
نوزونکو کيفيتونو څخه و هو پر پېژنی او دمقصدخاينو رسيږي .

اصلي خبره دا ده چه دترقۍ غوښتونکو ښيا د ما نو
دپاره يو څو صفتونه ضروری دي چه له هغو څخه يو منزل
مقصود ته د سېډو سختو لېوالتيا ده ، بل ، دلارې بلدتيا ،
چه دتاريخ اودغه کسانو دسوانحو دلوستو نه حاصليږي
چه په دغه لاربې ترقي کړې وي ، او که قدرت دغه دماغ
دهمدې لارې دپاره پيدا کړی وی نو بيا تاريخ او بل څه
ته دومره حاجت هم نشته

درېم شي چه دتوا ونه زورورډی اودکاميابيدو دپاره

ددغه شی وجود ډېر ضروری دی ، هغه استقلال دی چه بی لهدې نه ترقی اوو کېږی نه !

کوم وخت چه د ترقئی دلارې لمدوونکی په وجود کښې له دغه تېرو خبرو څخه کومه یوه نهوی پالېږدوی ؛ نو د ترقئی پهاوبه لار تلونکی بنیادم په نیمهلار کښې پاتې کېږی ، او که چېرې دا ټول قوتونه پهځان کښېپوره وُلری نو بیا ددنیا پوطاقت هم دده مخه نه شی را بندولی !

# هلك او دهغه استاذ

ادي جاني ! زما هير شوه ـ ماوويل : "اوه اته اوه وېشت » بس معلم صاحب په‌قار شو !

ادي جاني ! په دغه سيل کښې چه لالا مې راتـه دېنځو ايکو ښايسته دلوبوشی (لوبونی) اخستی ؤ اوماته يې راکړی ؤ ـ

هغه ماد کتاب لاندې پټ ايښې ؤ !ـ کوم هلك معلم صاحب ته وويل اوهغه‌ډير په‌قار شو :دلوبو شی‌يې راخست مات مات يې کړو اولاړې يې وشغولو ـ

او ويې ويل " شپه‌ورځ ستا فکر دلو بو سره دی! شيطانه ! ليك لوست ته‌دې‌بو بخری زړه نه‌لګيږی !! »

ادي‌جانې ! زه اوس‌چا ته لاړشم او وو ايم ؟

دمعلم صاحب کوم بو استاذ نشته ؟

چه زه ورته ورشم‌او شکايت وکړم !ـ

ادي جانې ! معلم صاحب لو بې نه‌کوی ؟

هیڅکله ؟-

په هیڅ شی هم ؟-

هیڅکله خپل وخت په لوبو نه تیروی ؟-

که چیری هغه ته څوك په قارشی او دهغه دغه دلوبو شی

په ځمکه وۀلی نووایه څنګه به وی ؟-

دمعلم صاحب دزړه به څه حال وی ؟!      (تیکور)

# نارېښتوب

کوم وخت چه سردار محمد ایوب خان غازي، د انګرېزانو سره نظربند ؤ، نو یوه ورځ په لاهور کښې د آس او د ګډلو لو سیل ته راغی؛ د فوج غټ غټ مشران حاضر دي، لوبه جاري ده؛ دې بې پروا پراس سور مېنځ ته راننووت یو کرنیل د ده مخې ته را ولاړ شو، دی یې د وړاندې والي نه منع کړو، او په سخته وینا سره ورته لګیا شو چه: "ود رېږه! د اته اجازه نشته! ته د اته څنګه راغلې یې!......"

په دې مېنځکښې د غټ مشر (لوی جرنیل: کمان افسر) له ورانه په دوی ‌ء سترګې ولګېدې دستي یې په آس اوکې ء وا وړو اوه، په ترا ټ راورسېد، وار اوه وار ه یې سردار ته خولۍ ء کوزه کړه، او د سردار یې خورا ډېر تعظیم وکړو، کرنیل چه دا حال ولید، ډېر وار خطا شو چه ما د دومره لوی سړي سره بې ادبي کړېده، جرنیل

ورته مخ راواړاوه چه « ته دانه پېژنی ! چه دا څوك دی دا د میوند زمری دی !!! »

دډېنه وروسته یې سردار ته ډېر عذرو کړوچه « کرنیل صاحب ، ته ونه پېژندې ، تاسې سره بې ادبی وشوه ، زه ډېره معافی غواړم ، تاسی طبعه خفه نه کړیء » بیا یې نود خانه سره خپلې هغه اویې خیمې ته یوړه ، چه هلته کرسیء او مېزو نه ایښې وو ، دو مېی یې دی پر کرسیء کښېښناوه ، خپله جرنیل او نور فوجی منصبداران و روسته شاو خوا کښېنا ستل ، او د لته یې بیا ورته عذرو غوښت چه « ته خفه نه شې ! تاسې سره په نا پوهیء کښې بد سلوك وشوه زه معافی غواړم ! »

دا څه وه ؟ . . . دا د سردار هغه توره وه چه د میوند په جنگ کښې یې د ښمن ته ښوولې وه ؛ او د محمد غې مېړانې په سبب یې خپل او پردی ټول د زمری په نامه یادوی ؛ د نامه احترام یې کوی ؛ او محمدا سې به تر پېړیو پېړیو په عزت او حرمت یادېږی .

کابل = ۱۲ جوزا ۱۳۱۵

# دجگوغرو زمری

لکه‌چه څرگنده ده، زمری او پړانگان په‌او یو ځنگلو او او د وغرو کښې اوسېږی، لدې کبله: چه قدرت ددوئی جسمانی ساخت او ذهنی قوتونه ددې دپاره خلق کړیدی چه‌دوئی په‌پاچئی (توامشری) کوی: اود توامشرئی دپاره ارت، پراخه او وسیع میدان پکاردی، چه دېلچا دخل پکښې نه‌وی: ځکه‌چه، په یوه پنډه کښې دوه پښي نه ځائیږی. »

* * *

اوربدلی مې دی چه چېر نه یو لوی، مهیب، قوی هیکله زمری ددامې غرو په مینځکښې د خپل سلطنت پای تخت تا کلی وو چه دسراو زئی د کېړه به‌یې داسمان سره‌جبرې کولې. غرونه څه وو ؟ . . چه‌په رنگا رنگ ونو، مېوو، او په زړه رونبانه کوونکې هوا شنه بخملی چمنو، صافو سپینو او بو او شرشرو سره‌یې دجنت څاری

پهٔ دنیا کښې جوړ کړی وو نوزمری به په دې دنیاوی غرنی جنت کښې خپل ژوند تېراوه : مزې به یې اخستې؛ بوه شیبه به چېرې ډ ووت ' ښکار به یې و کړو ' نور به راغی په خپل کور کښې به خوش وخرم پروت وو؛ کله به یې چه خوښه شوه نو دخپل سلطنت په حدود و کښې به یې سیل کاوه ' نو دشوقه به یې کله کله یو یو غرمې هم ووېښتو ' په کروهونو لېرې به چه چېرته غلیم واوریډ نو بیا به یې دټینګیدو تاب نه وو .

* * *

په دې شان سره دې ډېرې مودې دخپلې شاهۍ کوونې نو کرچا کړاو خپل رعیت سره هواوسېد نزدې او لرې علاقو به ورته دعزت او تعظیم باج ورکاوه ' اوده دخپل شاهی عدل لمن په ټول رعیت غوړولې وه ' دظالم او خائن په سر به یې ګوزار کېده ځېر و او به یې دمظلومانو زړونه ساتل ؛ ولې چه باد شاهی

دعوا موقبضه په خپلې لاس کښې ساتلى دى

* * *

زمانه په یو رنګ نه پاتې کیږي ورځې او کلونه لکه دناټک دیرووپه شان بدلیږي را بدلیږي؛ او نوي نوي تماشې ښکاره کوي. دخداى کړه وو، چه پهلوان او شه زوره زمري څه خو دځوانۍ په تیریدو کم قوته، او څه داسماني مرضو او آفتو په سبب عاجل او ناجوړه شو، وروو وروو دده ناجوړتیا او نقاهت زیاتیده وچه د ځاى شو؛ په کور کښې حویږي او لادلاره؛ بې بنیاده نه و، او تمه هم وړ نه کیدى شوه. ځکه چه دزمري ځوى زمرى خیږي، مګر اوس لا یو تکى یو تکى و، دخرپ وزدپ نه وو

څه موده خو دده دبها دړګې په پخوانۍ ردپ سره علیمان د ګیدړو غوندې په ټارو کښې پټیده، مګر چه څه زمانه تیره شوه، او دزمري دعمر ښپهار عمر یې په عوږو رانغی، نو په زړونو کښې یې شک پیدا شو، نو دبیږو ګمانو یوه ډله په قلاره د زمري دسلطنت حدود وته رانږدې

شوه او پښه نیولی پښه نیولی رانئوته ، نه یې چېر ته پخوانی اسمان ځیروونکی زړه و پستوونکی داړې دعوزه شوې ؛ او نه یې دپادشاه ( تولمشر ) د گزمې دوړې په ستر گو کښې ولویدې ، نودا ډله داده شوه ، او دپاد شاه ځای پته دو پاندې کیدو زړه یې وکړ . زمری که په ځای پروت دی مکرویښ ، گوری چه سپین ستر گی دښمنان څه خیال لری ؟ . . .

پهاخر کښې یې پوزگیږ و ... وکړو په آرخ و اوو ښت د ... گانو د انبکر څه دوه یې زړه پوټ و خوت ... اه مخ په ... پ کړو تښتید ، ځکه د زمری زړه ته ده دی سپین ستر گی د هغه ... ورسید ، چه هیڅ یې ځان نه شو ... د قهر ... شوو لی څه ه کړ ، ناچوره دی !

* * *

د زمری لوړ همت داعواړی چه خوک ور باندې ونه پلوسی دی په چاغرض نه کوی ، خو چه څوك ور ته په بده ستر گه

ږګوري نو شجاعت يې بيايه سوړ اندکار هم نه ايږکوي !ـ
وړ باندې ور غورځوه زی يې که مړ شي مړ دې شي ، نو ،
خسيس دښمن ته انتقام (پور) څنګه ورېږدي ؟ . . . . . ؟

* * *

ماله وړيدلی دی : هغه څوك چه زمری نيسی ، هغوی
دده ددې جذبې نه کار اخلی ، هغوی دا چل زده
کړيدی چه دځنګل په خواؤ خواؤ کښې ګرځی ، چېرته
چه وړاندې زمری ووينی ، دوړا يه ور باندی يو ګولۍ
. کړی ؛ بس ! زمری ته خو يه ګولۍ بس دی ، هغه ورپسی
راخلاص شی ، دی ورته مخ په وروستو منډه کړی ،
نژدې ورته دوبودك ډنډ وی ، دمری سره خښکړی وی
ژر په ډنډ ورو لوېږی زمری چه راورسی بې د بله هغه
هم ورپسی دانتقام په جذبه او بوته ورو غورځی . په
اوبو کښ بيادی څه کولی شی ، نو په دي حيله سره
د دښمن په دام کښ ګير شی : په څه چل يې ونيسی .

* * *

حیر ، زمري د دښمنانو په سیك نظريء سخت متاثر شو ، نو لخا من یې راوغوښتل ، واقعه یې ورته . د دې الفاظو په ښیښه کښ وښوده ، چه یو شاعر هغه داسې اړيء کړیده :

# ناروغه زمری

* * *

دغم د تاوه مې په زړه باندې پولۍ خپلې
ماد رقیب دلاسه ډیرې غمازۍ لیدلې

هغه زمری یمه چه ومه زه امیر د ځړو نو
تن ولې سپو بیحیثیته را پسې غپلې

همیش مې کړیدي ښکار وته د ګیدړو خیله
داسې سپي مایه خیلو نوکو په ږر ګوښې لې

شاته بې کړې وی چه څوک مې وی راغلی په مخ
که نه ایده نه داجل سې هغه دم ارلی

چرچه تیر شه لړی په عالمي په ملک بادوام
داسې مې ډیر ملک د عدم ته په دات شړلی

چه بې اد په مې په مخکښې چا و هلو قدم
ماد نامه غوتې د دعو په غانبو سپړلی

څما اه رعبه په دریاب کښې نهنګان ویریده
پټ په دریاب کښې ګرزیده چاپي اثار کښلی

لکه سپوږمۍ په ځلېدمه په اسمان دعدل
نن په ځانګود مذلت کښې مې تا لىء خوږ لې
زړ ګیه‌ولي نه‌چوي وخت دي دچاودودغه‌دی
چه رقیبانو مې په سپك نظر په خوا کتلی
"خادم" که یمه یم دقام ، کله ذلت قبلوم ،
داراته موږ په وخت دستر ګو غږېدو ویلی

* * *

داجبري دزړه په‌غوږو واورېدې ، نو دخپل فطرتي شجاعت له‌جرار ته هر یو دقهره خولې خولې شو ، نوپه‌ادب ېې عرض و کړو چه : باباجانه ! مونږ که‌واړه یو نو بیغیرته او جرامیان نه یو ، زمونږ په رګو نو کښې شماعه وینې ګرزي چه‌زمونږ پلار نیکه وزمانه‌دي ژوندکړیدی : مونږ د ښمن دومره خیرسه‌تر کیء نه نه یو ېږدو !. مونږ دومره واړه هم نه یو ، هوښیاراو متل کړیدی " که مرمه ، دنامرد یرخه په‌خورمه » باباجانه ! هیڅ حبګسان ندی پکار !

میړو ته د شجاعت مرګ عزت دی . نو ستاسو به امروی اوزمونږ به ذخیره سره اول وی !

* * *

د دښمنانو چه فرصت اوټ کېنلو او بیض بی کتلو ، د دی خبرو پسه اوریدو سره د دوی سینی شویه ، د حرص غاښونه یې پسخ ، او د همیت پتیء یې اه هلا وشلیدې چه تللی دی پسې تللی دی ،

رښتیاده چه « وطن په ابنا بداری ء حوبږی »

کابل ۱۳۱۵ ش

ای د هر چاد ـ امید شائسته معشوقې ' خو شحـا لیء !
د دنیا هر یو زړه لرو نـکی چه څو مره ستاینه ځو ښت یسې
ګرځی هغو مره ته ورنه تښتي ' او منډی وهي ! ـ

اخر دا څه سبب دی ؟ مشهور متل دی چه : » په لټو لو
سره خدای هم موندی شی . « اه دی ګـکیله ای د ـ ز ښتیني
خو شحالی ښکـاري ! زه په تا پسې لیو نی یم ! او ر ما دا تمه د ه
چه تا به څه وخت ضرور زمایه مخه راشې ؛ خکه چه ته
هیڅکـله د خپلو لیونو په دلاسا کوا او خو شحالو کښې
د بل او نمه نه کوې ! ـ

نو ! زه لن تالټوم او تاسره دمخامخ کېدو شو ق لرم ــ
چه تا مو ندم کړم او د هغه پټ رازیه بیر ته ګـکولو
کامیاب شم ـ

نه نو ! یو ظالم مشر یه خو شحالی ء قبضه لر ی ؟ نه !
هیڅکـله یې نه لری ؛ ځکه چه هغه دخپل ظلم د بل کړی

اور په لمبو سوځي ؛ او هېڅکله د ښځې په خوب نه شي
ویده کېدی ؛ د هغه د ښېښیانۍ ء خوشحالۍ سره څه نسبت
دی ؟ بېرته له ده نه بوتري ژړي او عیش پالونکي تو لمشرد
خپلې تمامې ورځې د قرانشادا له د ستو ماښیانه ور وستـه
د شپې خو په راحت ویده کېدی نی ؛ مګر هغه ته هم ستا د
بېمځې ښهري دایدو فرښتې پـه ... ور ځي ، ځکه چه
"عشق تو بېستی د جهان غم ! " -

نامناسبه به نه وي که یادې ځای کښې د دغې ورځې دیوپادشاه
( حضرت ابراهیم بلخی رح ) واقعه یادې شي ترڅ کښې بېره
کړو : - داهغه څوک دی چه یو ورځ د دربښتیانی خوشحالی
دهدندارو دیاره یې فقیري په پاچهي خوښه کړه : ویوه ورځ
ناڅاپه د ده خوی چه د ده په ځای پاچاو ، او د بلخ ... دپاره
راوتلی و ، په دغه ځای را ښکاره شو چه ابراهیم بلخی رح
یلني د زښتیاني خوښحالي دخوانا او په ... چادر

خوی دخپل پلار په دحال بو ښتنه وکړه . ابراهیم
بلخی رح وفرمایل : " الحمدالله ! څه می چه لټول په لاس

راغلل تلر د اشنایه مینه مست یم . د رښتیاده هر څوك
چه دمولی پهمینه کښ فانی وی هغه د دولت او نعمت
خاوند دی .

مګر ای رښتیانی خوشحالی از ه ددنیایه جګړو کښ نشتی
ستا دو صال ارمان لرم ! څه بختور دی هغه عاشق چه
دیار وصال یې نصیب شوی وی ، مګر ده ګوندې رښتیا نی
خوشحالی موندلی کړه ؟ نه ! پهدې خوشحالی کښ ده ته
دبیلتون دتورې شپې صورة په خیال ورځی اودی د دې
نعمت دخوندله تمه خوا کړی ! .

لاالهنده طالب علم (۱) تمام کړی اعتحان ور کړی
بیا نتیجې ته غوږ په اواروی ، که نتیجه ښه را و ورځی ،
نو خوشحالی خووی ، مګر نه ، رښتیانی اغریب لرو نکی
(دهقان) خوب په ځان حرام کړی ، یمه شپه بوی احلی
یتی ته ځان رسوی ، چه یتی قلبه کړی ، تخم و شیندی ،
نو دشنه کیدو یه غم کښ وی ؛ ورو سته دځمکې او آسمان د
افتو څخه و یریږی ، چه فصل ښه شین- او یوخ شی ، د رمند

واخلي ! نو په خوشحالي بې کورته راوړي مګر د ستي
د پور او د لګښت په غم اخته شي . او دا فکر يې د رښتياني
خوشحالي څخه بې نصيبه کاندي !

هو ! ددې ټولو څخه پرته د رښتياني خوشحالي په رښتيا
سره ور (لائق) فقط يو سړی دی څوك ! هغه ـ چه په رښتيا
سره قومي درد په زړه کښې لري : او له خدايه وېرېږي
چه د ناکاميو نه وروسته يو د رخ اروهره دوري بيا پسته
بېګړي په سرو تري ! نو د رښتيني خوشحالي خاوند شي !

بواى د رښتياني خوشحالي اته وسکو اده د ... او هغه
خوز به خپله زړه ونه لښ پيدا لري ، ځکه چه يه د نه لاس
بوازې همدغه شي د رښتياني خوشحالي آله ده !!!

قندهار ــ ١٣١٣

# یوزنگلی بنی آدم

داسې وایې چه پخوا پخوا چیر ته یو اولس ودان و ، دا اولس په خپله زمانه کښې ښه یاد او نامتوو ، په دې اولس کښې قسم قسم کسبه اوسېدل : چا به دهقانی کوله ، چا به مال ساتلو ، چا به جولا ګری ندا یې ـ او ځینو به نور نور کارونه کول .

په دې اولس کښې یو سړی داسې هم و ، چه دده ګذاره په ښکارو ه . ددې اولس په اطرافو کښې چیر ته یو اوی بې سرو سامانه ځنګل موجودو . په دې ځنګل کښې هر قسم مرغان او د ښکار حیوانات پیدا کېدل . دا ښکاری به اکثره دې ځنګل ته تلو ، او هلته به یې ښکار کاوه . او پردغه ښکار به یې د کاله ګذران چلو لو .

شپې او ورځې همدغسې تېرېدلې . یوه ورځ د ښکار په وخت کښې ده ته یو ځنګلی بنیآدم په مخه ورغی . ده هغه وکړه ، او په څه صورت سره یې ونیو : کلی ته یې

را ووست . دا خبره په اولس کښې خپره شوه ، په ټول اولس کښې هاهاجوړه شوه چه فلانی ځنګلی بنیادم راوستی دی . چه سبا به شونوجوېې جوېې خلك به راتله ، او د ځنګلی سیل به یې کاوه .

په دې شان سره ډېرې ورځې تېرې شوې . ښکاری د ځنګلی په ساتنه او پاسنه هم تنګ شو . آخر یې دخانه سره وویل ، چه دا ځنګلی نه خبرې کوی ، اونه کار . زیاتی می لاتاوان کوی ؛ څه یې کوم ، پرې به یې ږدم چه د رومی .

نو یې پرېښود . ځنګلی بیر نه خپله مخه ونیوه او ځنګل ته ننووت نورځنګلیان چه دده په وره کیدو خفه وو . د ده په را تګ خو شحاله شوه . ټول ورته راغونډ شوه ، ویل یې : ښه وشو ، چه بیا مو ولیدې ، او په خیر راغلی ! ــ او ترې پوښتنه یې وکړه ، چه وایه ، په دې دومره موده کښې چه دا ولسی اومدنی بنیادمانو سره اوسېدې څه دې ولیدل ؟ . . . »

ده ورته په بیان لاس پوري کړو ، چه په دوی کښې می سخت کم عقلتوب او لیونتوب و لید . — او رېد و نکو په خورا مینه او شوق ورته وویل ، چـه : « ښه ، څنګه ! » — ده ویل : —

په دوی کښې خو لیونتوب دادی چه پـه کورنی کښې په یوه با ندې د بابا ، د ادا ، لالا ، ترِه یا ، د مشرتوم کېږدی ، نو بس څه غم او کړاو چه دی ټول دده پـه سروی ؛ نور تر او ښځی د ـ اوښ په شا سواره ؛ د ـ هر څه نه بیخبره ؛ شپې او ورځې په خبروا ترواوخوشو تېروی . هغه د ـ درنو بارونو لاندې خولې خولې وی ؛ او دوی د بیـکاری د لاسـه تمـام عمر او سپـلی کوی .

« یو یې ګټی او سل یې څټی ! »

کابل ـ ۱۵ سنبله ۱۳۱٦

یوزی پښتو

# د توتکی چاله

ساړه تېر دی ، تودوخی لیګېدای ده ، ونی غوړ ېږی غوټی سپړی ، شنیلو په ډا ګو اود . غرویه امنو شنه یوړنی غوړ ولی دی . —

ګیڼ وختی چه سری نمانځه ته پاڅېږي ، نود ، چوغکو چونهار اود . ترېو خوږو وږ مولګېده زړه ته د ـ نوی ژوند اوبه ور کوی . —

یوه ورځ دنمانځه نه د روسته خپله کوټه کښې د کټ وپا سه و غځیدم ، د ځا نه سره اتکل وهم ، کړ کۍ او وروونه بېر ته دی ! چه پر شو ، یوه توتکی رانوته په کوټه کښې څلورواړه خواو ګرځېده ، د کوټی دېوا اونه اخېر لی اوښویه دی چه نو کا نونښتو ځای پکښې نشته . نو ډېره پوري پر ېده پرېده بیاد ـ وره دپاسه په همدغه ښویه دېوال

پەځه ډېل سره تینگه شوه . نو بیایې وزرونه خپاره کړه او یه ور ووته ، چه مې کاته دغه دی بله ملګرې یې وخانه سره راوسته ؛ بیادواړه یه هماغه ځای پورتې ښتې ناستې وی . بوتر بلهیې سره کاته ، او یه خپلو ترېواوخوزو ژبوبهیې څهسره ویل ، دانو ددوئی پخپل مینځکښ د ځای دخوښو لو اود کور دجوړ ولو جرګه ده . —

داسې راوبریښیده چهجرګه یې سره سمه را غله ، د واړوچتچت وکړ دوره ته یې وکا ته ، او لاړ ې ووتې ددې نهپسته ، چهدوئی خپلې چارې تهپه ګډه څومره کلکی ملا ګانې تړی ، داد . هرسړی دپاره ییی لیکـنې اوبې بوښتنی ښوونه ده ! —

زه دهر چاښوونکی ښښتن چاروته درزړه په ستر ګو په خیر ځیر ګورم ، چه کرئی ورځ د واړه ځی راځی ، په ښایسته ښایسته منبو کوکښ ختیرا وړی ، اوپهدغهښوریه دېوال یې ټپی . —

ښه نو ، په دې ښو یه دېوال ختمه کله نښلی ؟ هر وار

چه راشی ، نومښو که په دیوال کښېنزدی ، او په ورو ورو په ژبه باندې خټه دخولی نه را وباسی ، چه مښو که تری لیری کړی ، خټه تاپ شی لاندی راولوېږی داور ته دپاسه ښکته و ګوری ، او بیا ځی نوره راوړی . که دخټې را وړو ته دچاپام شی لا به ور ته ګوته په غاښ پاتې شی .

دکوم ځای نه چه خټه راوړی ، نوړو بمی ګوری چه خټه مځینه وی ، شګلنه نه وی . او څه وخت چه یې را وړی نو هغه غلته یې واغږی ، پخه یې کړی ، نوبیا دبوس ډکی ور سره ولړی ، وروسته یې دکور په دیوال کښې لګوی ځکه چه شګلنه ، اومه ، او بې بوسو خټه نینګیږی نه ! ـــ

زه هر څه چه کوم . خو چه راشم ودوئی په سیل اخته یم ! ـــ سړو ! په ما باور مه کوئی ، په ښتن باور وکړئی چه دغه وړ کوتو مرغیو شپېږ ورځې په هم دغه ډول سره یله پسی زیار وکیښ ، ولې ونه شوه ! سره ددې یې نه زړه ولوید ، او نه یې ځای پرېښود ! او تش په دی خبره چه دغه ځا ی ته ئی دمینې په سترګه کتلی وو ، چه نور ې

تو تکی به راغلې ، هغو ئی ته به دواړه یوزړه شو ې ، منګو لې به یې ورسره لګولې ، تر هغه به یې نه پرېښودې چه نه به یې وې ایستلې ! ــ

په اومه ورځ چه دغه ځای دمېښو کو په څوکو لبز زیبز او په ختو تپلوخه اوند شوئی ؤ ، نوورو ورو کله غورزېدلې کله نښتې ، دجالې زومبئی پخسه کښېښودی شوه زومبی بی یکښې هګی ءواچولې ، او بیا یې بچی وایستل ، اوبر دغه ګرانه چاره یې بری وموند !

نو کوم وخت چه مې دا را په زړه شی ، د بابر با چا او دمېړزی خبره مې چګه ستر ګو ته ودرېږی .

قندهار ــ ١٣١٤

# د اصلاح لاره

او ریدلی مودی چه د انګلستان پاد شاه پنځم جارج د تخت د کښېناستلو نه مخکښې یووخت امیرالبحر مقرر شو د هغه ځای قاعده ده چه هر نوی آمر کومې اداري ته ورشی نو رومبی خو ورځی خاص د دغه اداري دفتر ونه ګوری، علم راولی او وروسته په کار شروع کوی.

پنځم جارج په دې سلسله کښې کوم وخت چه مامور ښو دسوانحو دفتر ګوری، د بو سړی دسوانحو پانې یې ولوستلې چه پخوا څو مره آمران په هغه تېر شوی وو، ټولو په سر ورقلمونو په دغه پاطرکښې دد غه شخص بیکاری او بداخلاقی لیکلې وه

امیرالبحر (جارج) دغه سړی راوغوښت او د ده دسو انحو پانې یې ورښکاره کړې، چه دغه دی ستا آمیر ښو ستا په باب دا، دا، یا دا شتونه یې ښې دی. مګر زه نه غواړم چه ستا دسوانحو پانې په بدعملی ډکې وی زه غواړم

چه ته یو کاری او اخلاقی سړی شی ! دغه دی زه ستاپه مخکښې ستادسوانحو یخوانی لائحه شکوم ؛ دده دسوانحو لائحه یې وشکوله دریاب ته یې واچوله ) ددې ور ځې نه وروسته ستا سوانح بیادسره څخه لیکل کیږی . اوس ته یو ره اختیار لرې ؛ چه دخپلو سوانحو یه لائحه کښې دهر شی یه لیکلو راضی اوسې هغه به ولیکل شی ! !

وایی چه ددې واقعې څخه ددغه سړی یه حیات داسې عمیق اثر واوبدچه تر دې وروسته هغه بیخی بل سړی شو ' و ښه ښه خدمتونه یې دلاسه وشوه .

# احسان

داخبارو راویانوائی چه کوم وخت سکندر دپښتو نخوا ممالك ونیول اودیوتان پیرغ یې دآریانااوروه په غرونو کښې لوړ کړو ، نودلته یې دامنیت ، دقیام اوپه سایه دژوړه سره دحکم چلو لودپاره ډېره موده کوښښونه وکړه ، مگر هېڅکله دبغاوتونو او انقلابونو څخه فارغ نه شو ، اونه یې راتول زړه سره په تخت کښېناست .

په آخره کښې چه نور تول دستورونه بېکاره ثابت شول نوخپل مشهور مدبر او حکیم استاذ ارسطاطالیس ته یې ( چه دسکندر دټولو فتوحاتور ازددې په حکیمانه مشوروا وتد بیرو نو کښې پټ وه ) یو مبسوط خط ولیکلو چه دهغې یوه ټوټه داده :

"ډېره موده وشوه چه پدې ممالکو کښې مادامنیت دقیام ، اودقانون دراثجو لودپاره هرقسم زیار وایست ، لیکن دې خلقو چه زما په مقابل کښې کومه وسلهیوړ ته کړېده هغه یې کښېښوده دلته همېشه جنگ او جگړې

اوسی . او دهرې خوانه بغاو تونه ، او انقلابونه پورته کېږی داخلق حکم ته هیڅ غاړه نه ږدی ، زماخپله را یه په دې قایمه شوېده چه په دې عالم کښې یوعام قتل وکړم ، اودنورې په زوریې غلی او آرام کړم . »

ارسطا طالیس چه دیورته خط په ځواب کښې خپله کومه نظریه لیکلې ده دهغې حاصل لاندې لیکل کېږی :

« څه رنګ چه زه ددغه ملك په طبیعی وضعیت او فطری آب وهوا باندې فکر کوم ، نودا معلومېږی چه ددغه ملك طبیعی تقاضا داده چه د دې خاورې نه پیدا شوی ذی جنګجو ، زړه ور ، غیور اوآزادیخواه وی ؛ ته دمملکت طبیعی آب وهوا نه شې بدلولی ؛ که قتل عام پکښې وکړې داخاوره به بیاهمدغه رقم وګړی پیدا کړی اوهغوی به ستا ددغه کړنوپه اثر تاسره لازیات دښمنان شی . نو بهتره طریقه داده چه داحسان په زوری قانع کړې ، ځکه چه داحسان په زور په زړه و نو حکومت کاوه شی ؛ اوداقوت په توره کښې نشته . ! »

# «عملی تعلیم»

او ریدلی دی ، چه یو بادشاه دخپل خوی دتعلیم دپاره یو متدین تجربه کاره عالم پیدا کړو . او دده د آرام اوراحت ټول اسباب یې راغونډ کړه ، او په مال اودولت یې ښه خوشحاله کړو ، نو ، د خپلو ستړ ګونه ر « ګران خوی » یې دهغه د څپیرې لاندې کښینو لو ، او ورته یې وویل : « جناب ! داء زما خوی دی اوس یې ستاپه شاګردی ( نوکری ) کښې در کوم ، چه دې د سلطنت آرزو تیالګی ته دعلم اوادب په باغ کښې داسې پرورش (پالنه) ور کړی چه وروسته د عالم دراحت او آسودګی دپاره د میوی دکه سایه داره (دسیوری ) ونه شی . »

نوهوښیار اوحلال نمکه معلم ، دده په تعلیم او تربیت کښې لکه څنګه چه بادشاه یوره واك ور کړی وده هم هغه سې په پراخ زړه په ډیر اخلاص سره هلك ته په لږه موده کښې دمروجه علومو او فنونو نصاب تمام کړو

اودعلمی تعلیم په مینځ مینځ کښې یې ډاهم ورته په عملی
شان ور زده کړه چه د مشر او کشر سره څنګه سوال
ځواب په کاردی ، په کاله کښې دمور وپلار خوینډو
ورونیو او خپلو خپلوانو او دبا ندې ګاونډ یانو او عامو
خلقو سره څه قسم ګذران کول لازم دی ، اویه ډله کښې
د کښېناستو پاڅېدو اوخبرو کولو څنګه طریقه ده دخلقو
توجه او زړونه خپل ځان ته څنګه اړول کیږی ، او
داسې نور اخلاق اوآداب ئې ورته په دې طور وروښودل
چه زړومبی به یې دیوې خبرې اصول (قواعد) ورښو ده
نوبیا به یې دهغې ډېره موده نګرانی کوله چه هغه به یې
ور باندې عملی کړه ، نونور به یې ورو ښوده حاصل دا
چه هلك علماً او عملاً کامل شو ، نو یوه ورځ استاذ
ورته وویل : . . . . . ! « لاړ شه په طبیله کښې و ګوره
یو ښه مست آس زین کړه ، راپې وله « شهزاده چه
داستاذ په خبره کښې له ادبه (ولې) هم نه ویل نو دستی
روان شواس یې زین کړی راوست .

معلم صاحب متړو که په لاس کښې واخسته په‌اس سوړ شو او شاګردانو ته یې وویل : چه « زما په مخ کښې ځغله ! »

نو شهزاده به په‌مخ کښې ځغلېده او ده به آس وروسته ځغلولو چه‌ور نږدې به شونو په ورمېږ به یې په متړو که ووا هه چه ژر ځه ! هر څو مره به‌چه هغه ګړندی ځغلېده به هم هغو مره وروسته اس جلتولو ، او په متړو که به یې بې پروا شړقونه ور کول ، ددې پورې چه دشهزاده پښې تناکې او وجود یې تغمې تغمې شو او داسې ستړی ستومانه شو چه دلاده باده پرېووت ، نو یې پر بېښود . شهزاده کور ته لاړ ، او استاذ دخپلې استو ګنې ځای ته . نه دده چا پوښتنه کوله چه ولې ؟ او نه ده چا ته حال وایه چه ځکه . چه دشهزاده دمه وشوه ، او دځان دارو درمل یې هم وکړه نو داستاذ حضور ته راغی په‌ادب سره یې سلام واچاوه او ځنګنونه یې ولګول کښېناست :

استاذ ور ته وویل : « شهزاده په ده شوې ! » ده وویل : « نه صاحب ! » ویل یې : « واوره ! مونږ سپین ږیري یو

ته ځلمی یې ، موږ به نه یو ، ته به پادشاه یې ، ما که هر څو مره تا ته د عدل او انصاف ډېر بیانونه کړی دی ، او د ظلم بدې نتیجې مې در ښودلی دی ، مګر ته به د ځوانۍ او بادشاهی په نشه مست یې ، زما دا ټول نصیحتونه به دې شا ته اچولی وی ، په داسې خوارانو مسکینانو چه ، هېڅکله په مړه ګېډه سکړک نه مومی تېری او ظلمونه به کوې : و هی ، شړقوې او ځغلوې به یې . نو ز مې در ته عملا درو ښوده چه هغوی هم داسې ځانونه لری ، تکلیف او مصیبت یې تېر ېږی ، او ازار ېږی نو داورځ به دې ټول عمر یاده وی ، او په هیڅ به ظلم نه کوې .

## شعر

پولوی ډنډدی . شاوخوا ته يې ښکلي غرونه په پوره استقلال سره ولاړ دي . داغرونه دي چه د دې لوی ډنډ دوجود سبب ګرځېدلي دي .

چه سړی ورته ګوري ، خيال کوي چه ګوندې دډنډ دساتلو دعوه دار همدغه غرونه دي ؛ چه لمنې يې هوارې راخوړې کړی دا او پوسطحې ته راارسېدلي دي ؛ اوغړانګې يې اوږدې کړي دآسمان دستورو سره خبرې کوي !

دډنډنه چاپېره دغرو په مينځ او لمنه کښې ښکلي درې ، داګونه ، او ميدانونه پراته دي ؛ چه دهر قسم ودانۍ او آبادۍ قابل دي ؛ خو د ډنډ داوبو نه ـ امېده شوي ـ د آسمان خواته يې مخونه نيولي په ډېره ا سره او تلوسه سره دحال پوښتنه اوپه ناري وهي !!!

دډنډ په غاړه دوه مې شني دي ؛ او خې ولاړې دي : خنګار جوړ دي ، په غرو کښې خدای عرلي ونې ، په لمنو کښې

اغزن ببر برتی او دږنه په غاړه چېر ته یوه یوه
داپونی, ولې و نه ولاړه ښکاری !

د ـ او بومخ داسې قرار هوار او بیحر کته پروت دی
لکه دو یده قام او تاخبره ملت ذهن ـ نه یکښې چېر ته دسرور
موج او نه پکښې دخبکان گنجه څر گندېږی !

دږنه په مخ لا مبوزنو هیلیو خپلې کشتیں اچولی گرځی،
ولې دږنه مهجو اند یتوب او بیحر کتی ددوی دژوند
نشاط ورك کړی ایله ایله خوز ېږی !

نمر خپل شین میدان وهلی، دسترپادلا سه یې بلقېدو نکی
مخ ږیږزېلی بر ېښی . لکه مصیبت زده مسافر، او خوار یء
ترتلی لاروی، چه دږه نـا کـامه د وطن له سرحده
وزی ـ یا لکه ویشتلی عاشق چه دمعشوقې د کورنه په ینماه
کېدو کښ وی او په آخرنی او نیمه خوا کتنه ـ بېرته
گوری، او په تخ مخ زړه جرغونی خندا کوی !!!

دږنه بوې غاړې ته په لږ جگ ځـای داپوتی, ولې
لاندې یو سړی قلم او کاغذ په لاس دفکر او حیرت په دریاب

کنې غرق ناست دی ! په ډېر خیر خیرډ - او بو سطحې ته
گوری ؛ بوخه ولیکی او بیالاس د - زنې کښېږدی !

د - ولې په نرېو نرېو ځانگو بوه وړوکې مرغۍ
او تر اوتر کله لاندې گوری او کله پاس ؛ کله اخوا
او کله دې خوا . په خوشالۍ خوشالۍ هلې دلې توپونه
وهی او ، چت چت کوی ! لکه چه ور ته وائی ، چه :
« یاخه دژوند شخه خوند واخله ، دملگرو سره وگرځه!
ولې داسې غمگین ناست یې !»-

نوځکه دی ور ته جواب ور کوی ، چه « زه که یاځیږم
نو دځپل زړه نه خوتلې نه شم ، زما وظیفه ډېره مهمه ده ! »

مرغۍ - ته نوځه غواړی ؟

سړی - زه غواړم چه دا دورمې او لوخې گلان او دا
دا گونه دبلبلواو طوطیانو دپاره شنه ننو نه شی !

مرغۍ - په کومو اوبو ؟

سړی - په همدې ډنډ - چه حرکت پکښې پیدا کړم

مرغۍ خوطوفانی به شی !

سړی ـ نهٔ لیونتوب یکښې نهٔ پیدا کوم دژوندحس پکښې زدم !ـ

مرغۍ ـ نو داسې طلسم تاسره شته ؟

سړی ـ (مسکی‌دې شی، پورتهٔ دې و ګوری، اوو دې وابې) : «هو ـ شعر ! »

# دتیګی حال

* * *

په پوښار کښې په تیزو پوپوخ سرك وو .

تلونکی موټر د دغو تیزو څخه یوه تیزه بیله کړه

دې تیزې په زړه کښې چرت وواهه : " په دې حال کښې

زه باید دخپلو همجنسانو څخه جلا شم " یو هلك راغی

اودغه تیږه یې پورته کړه ویې وړه .

تیږې دځانه سره وویل : « ماسفر کول غوښتل ، سفرهم

په لاس راغی – تش یو کلك عزم په کار وو . »

هلك تیږه دیوه کاله خواته وغورځوله .

تیږې خیال وکاوه " مایه هوا کښې الوتل غوښتل

داهم وشوه – فقط یوه کلکه اراده ضرور وه "

تیږه د کړ کنۍ په ښیښه باندې ولګیده .

ښیښې داوویل : " ظالمې ! – تاته په دې کښې څه خیر وو !

اوماته شوه " تاد یو ښه وکړه چه زما دلارې نه لیرې شوې ! زه نه

غواړم چه څوك زما لاره را بنده کړی . هرڅه بايد زما دخوښې سره سم وی . ــ دا زما قاعده ده »

دا يې وويل ، تيزه په يوه ديوست لاندستون پر يوتله دير يو تو سره سم يې خيال وکړ : « ما دِ پر سفر کړيدی اوس به نو څه استراحت وکړم . »

يو تو کړ راغی ، تيزه يې دلاند ستون څخه واخسته هيسته يې د باندې په سرك دغورزوله .

دلوید وسره يې دستی خپل همجنسان مخاطب کړل او ورته ويې ويل : « عزيزانو ! خدای دې تاسې سلامت لری . زه اوس دستی ددوې دبيرې لو يې مانئی څخه راغلم . ليكن دهغې شان وشوکت زه هيڅ متأثر نکړی شـوم ، زما زړه ستاسو دليدو پسې ناقرار و ، دغه دی چه زه اوس بيا راغلم . »

# دغمجنو سره

* * *

دوستانه! ولې خفه یې؟ — ! پیسې نشته؟ دولت نشته؟ بوروندی یې؟ سیالی نده برابره! — دا نوخه خبکان دی! خدای لاس در کړی؛ پښې ئې در کړي، عقل یې در کړی؛ فکر یې در کړی؛ کار وکړه؛ کسب وکړه؛ کوښښ وکړه؛ جدوجهد وکړه؛ په ښه دستور، او په ټینګ عزم، خدایتعالی دهیچا عمل نه عبثوي!

* * *

رفیقه! ولې داسې مراوی یې؟ — ! دا کامئی سره مخامخ شوی یې؟ کامیابی نده شوې؟ کوښښ دې وکړو او ځای یې و نه نیو؟ — ! دا نو څه خبره ده؟ — خفه نو ولې یې؟ — سبق واخله؛ پند واخله؛ عبرت واخله؛ — دا د قدرت تعلیم دی! — په تا کښې به نقص وی؛ ستا کوښښ به په صحیح صورت نه وی؛ په قدر نی اساس به نه وی! څه یه ځان

کښې تغير وکړه ؛ څه کار په فطرت برابر کړه ، بيا کوښښ وکړه ؛ بيا کوښښ وکړه ؛ چه کامياب شې! او که نه ، نو ته خو بنده يې !

* * *

ملګر يه ! ولې غمجن يې ؟ — ! دخپلې ګناه په سزا رسېدلی يې ؟ تکليف راغلی دی ؟ مشقت دې ليدلی دی ؟ درددی ؟ زحمت دی ؟ نا ګواره واقعات دی ؟ — دا ټول خودی ؛ داهر څه دی : مګر تاته خوويل کېده ، نه دې اورېده ؛ غوږ دې نه ايښودو ؛ نو بې ددينه بله لاروه ؛ بله چاروه ؛ چه ته ويښ شې ! بيداره شې ! پوه شې ! تجربه دې وشی ، ګناه وپېژنې ! — نو بيا به داسې نه کوې ! بدو ته به ښه نه وايې ! بې ګودره به نه ګډېږې ! بېفکره به نه غبرېږې ! — خير « مينه خووسوه خوديوالونه يې ياخه شوه ! »

* * *

مينه ! ولی دق يې ؟ — ! چادرسره بدکړی ؟ نا کاره

بې کړی ؟ بدېې ویلی ! ظلم بې دربانديې کړی ؟ حسدېې درسره کړی ؟ ستاپه حق کنې لمسون کوی ؟خلق راپاروی ؟ ـ:
مګر ته خوپه حقه بې ! په سمه لارېې ! چا ته خو ـ دضرر خیال نه لرې ! ستا خیالات صحیح دی ! درست دې ! سراسر مفید دی ! ـ ته خدای ته ، وجدان ته او حق بینو خلقو ته ،خجل نه یې ملامت نه ئی ؛ شرمنده نه یې !ـ نوو ګوره ، انصاف وکړه چه ظلم تیر ه ول صبر کول ، دا صلاح دیاره ز حمت ایستل خولې کیدل ، تیل ماتېل کیدل ـ که څه هم لېږ ترخه دی لېږ ستغ دی .ـ لیکن داغم بی اطمینانی نه پیدا کوی ! خجالت نه پیدا کوی ! تردد نه پیدا کوی !— بلکه دا دخوب غمدی چه سباشی بیاهیڅ نه وی ! ! !

* * *

سردار ه ولې غمګین یې ؟ـ ! په څه فکر ؟ په کوم خیال ؟ـ دملت له غمه ؛ دقام له غمه؛ دوطن له غمه ؟ـ رښتیا ده ئن ملت کمزوردی ئن قوم ضعیف دی ! ئن وطن محتاج دی ـ او دا دمسلمان دیاره ، دافغان دیاره او دهر صاحب وجدان دیاره ـ شرم دی ، عار دی ، غم دی

لم دی! مگرو گوره داڅومره خوږغم دی؟ داڅنګه دمزی دردی؟ په دیکښې څومره شیرینی ده؟ څونه خوږلنی ده؟ اوڅومره صاف زړونه سپیڅلی دماغونه تاسره په دې غم کښې شریك دی ؟! او داغم څومره خوږه نتیجه لری ! ! !

* * *

د ـ زړه سره ولې دلګیر ئې ؟ — ! ناجوړه یې؟ مریض یې؟ نمیګړی یې !ـ بیکسه ئی! وږه ئی ! مګر که ته لږ فکرو کړې، تدبرو کړې، لږ ذره ښه باریك شې — وبه ګورې چه خالق څومره عادل دی، څومره مهربان دی ـ ده هرڅه په انصاف ویشلی دی برابری برخه کړیدی: که ته دولږ یې په غم کښې یې اېل دبدهضمی په غم کښې دی ،

که تاته په خمکه خوب نه درځی ، اېل ته په پا لنګ خوب نه ورځی . که ته په خمکه ساور کوې ، آبل په تخت ساور کوی . که د تانه خپل ځان پاتې کیږی دابل نه جهان پاتې کیږی . — که ته دجوړ تیا ارمان کوې ؛ نوجوړ ګوندې نه مری ؟ دهغه ګوندې هرڅه پوره دی ـ ؟ دهغه نه پوښتنه و ګره ؛ پرسان و ګړه ؛ هغه هم تنګ دی خفه دی ـ نه یو هیږی چه داحیات ، داژوند ،

دا تکلیف و لی دی ؟ دڅه دپاره دی ؟ ــ دغسې حال ستاهم دی ! او دهغه هم دی . ــ انږ فکروکړه ! انږ ځان داده کړه ! انږ همت وکړه ! انږ خدای ته راجع شه ! ــ بواخې دا دنیا نده . بل ژوند هم شته ــ هلته د مصیبت زد ګانو دپاره ډېر ډېر اجرونه دی . ــ او که ږښتیامې پوښتې : نو ٬ ټول ژوند هم په دې غم نه ارزی ! ! ! !

* * *

جانانه ! ولې دې زړه بد دی ؟ ــ ! یه دې چه هغه بل معتبر شو نو ولې معتبر شو ! ابل لوی شو ٬ نو ولې شو ! هغه نه خیرو رسید نوولې ور ور سید ! ــ هغه عالم دی نوولې عالم دی ! هغه عاقل دی نو ولې عاقل دی ! ــ دی به پور ته شی نوولې دې پور ته شی ! دی د مانه زیات دی نوولې زیات دی ! ــ ور وره ! داخو حسد دی . داخو بخل دی . دا خونا پېرزوینه ده داخو اخلاقی مرض دی ــ راځه چه د دې علاج وګورو ٬ دارو یې و لټوو او ځان د دې بد مرض نه خلاص کړو ! ــ اوپس له دې به یه چا حسدنه کوو . چا ته به بدنه ګورو . دچا دحقو قو د

اتلاف کوښښ به نه کوو . دخپل طاقت نه به زیات پېټی نه اخلو ، دځان سره لائق ځایته به هڅه کوو . ځان به مستعد کوو نوجګ ځای به غواړو . کوښښ به کوو ، کارونه به له خدایه بولو . قضاته به غاړه ږدو . تل به نور خلق نهملامتوو . پهحیات کښې بهځانته پخپلهدلچسپی پیدا کوو . دخلقو پسې به ډېر غوږونه نه وړو . په فلسفی متانت کښې به اثر کموالی وکړو . دټولې دنیا د اصلاح ذمه وار به ځانته ګڼو : چه موږ هم خوشحال اوسو ، اونور هم رانه خوشحال اوسی ! ! !

* * *

همځولو ! داخوك دی ؟ — ! داولې خفه دی ؟ ولی بوټ سوټ دی ؟ — آخر په څه ؟ ! — بې سببه ؟ ! بې موجبه ؟ ! هیڅ په هیڅه ؟ ! — راځی چه ور شو ! — اوهو ، بېسببه خبګان ! — دانوڅه ؟ — داخو دخندا خبره ده ! — والله ! — وګورئی تریو تندی اربړه اوربوز .

— اهاها ها — ا ها ها ها ! ! !

# ناکامي

دژوندانه د ناکامیو څخه مه مایوس کېږه ! هغه ژوند کامیاب ژوند نه دی چه بواځې کامراني لري ، هغه خوشحالي سړی نه خوشحالوی چه دردونو او خوږ په قیمت نه وی اخستل شوې : دورځې رڼايي دشپې د تیرې څخه ده ، دلید وخوند دبېلتانه په غم کښې ـ او دژوند فتح دژوند په شکستونو کښې ده !

هغه چه دخدای نه ابدی راحت غواړی هغه دیوداسې جنت آرزو لري چه هلته دلیدو دپاره ستر ګو پرانیتو ، دخوږ لودپاره خولې بېرته کولو ، او داو ربدو دپاره غوږ ایستبودو ته حاجت نه وی ! ترڅو چه ژوند ژوند دی نوپه دېکښې برکت دحرکت څخه دی ، ځکه کامل سکون عین مرګ دی !

هغه چه وايي چه په دې دنیا کښې بدی ولې شته ، کمې ولې ، او بندشونه ولې ؟ نو دی په حقیقت کښې دنیکۍ ،

پر بها نی ، او آزا دی قدر نه پېژني ، اوددي مرغلرو پوره قیمت ادا کول نه غواړی !

هر څو مره چه یوه خوشحالي شاندار ه وی ، هماغومره هغه لارې هم سختې وی چه د هغې د حصول دپاره لنډېږی !

دژوند نا کامی په حقیقت کښې داسې کسان غواړی چه د کامیابۍ وړ وی !

# پسرلی

یخنی خپل تغر ټولوی، تودوخې په خپل پوستوالی او نرمۍ سره سړو وهلو او زېړلو صورتو ته ټکور ورکوی دتوروشپو تیری مخ په کمالی او دسپینو ورځو رڼا لسانې مخ په ډېروالی دی ! . . . دلمر دمهربانۍ ناوورځ په ورځ زیاتیږی او خپل تودزړی شال په عالم راغوړوی ! . . . .

دباد تری غوټې خزان تا لاګړی باغونه د چمن مرغان، ونې غنې، دنوی ژوند دتیارېدو دپاره په ورو ورو خوزوی چه پاڅی سبا دی ! ـ دخبګان وخت تېر شو او دخوشحالۍ وخت راورسېد ! . . . .

درحمت وریځې په ډېری جلتۍ او تندۍ سره دآسمان په پراخه او شین دریاب کښې هری خوا ته لاهبو ګیانې وهی : غلی، دقدرت دخزانو څخه په لپو لپو لمنو لمنو مرغلری اخلی او دخمکی په مخ پې شیندی، دا پټ پسته خلېدونکې مرغلری دقدرت په لاس شوو سره دیه ترو ـ رغو ـ

ډا ګو ـ میدانو کښې دسرو ـ شنو زیړو ـ بانجانی او سپینو ګلانو د تخمونو په دود دځمکې څخه تو کېدلی دوطن قدرتی ښایست یو په سلمه کوی ! . . . .

ګویا دټول عالم غوزونه دعام کرم غـګـ رسېدلی دی چه شکېدلی باغو ، لغړو ونو ، خړو دښتو ، سپېرو غرو یو رنګ شنه دجنت دریشی اغوستې ؛ ګلاب په چمنو او غاټول په دامانو کښې دناز په خندا خولې بېرته کوی !

دشنو بڼو نو څخه دطوطیانو او بابلو نغمې راخی : دلوړ و ونو څوکې دکوترو او بلبلو په ناسته ښایسته دی

آ ها ها ها ! ! ! !

داټول ستا برکت دی ؟ !

داټول ستا دراتګ اثر دی ؟ !

دهر زړه د ملهمه پسر لیه !

ستړی مه شې ! په خیر راغلی ! ! ! هر کله راشی ! ! ! ستا پل او زمونږ لیمه . . . ! !

په هرچا ګرانه!

ستا په راتلو سره په وچو ځانګو کښې او به په بخ ز ګوګښې وینه وچلیده!...

غوټی بېر ته شوې، ګلان وغوړیده، سمه او غر په رنګا رنګ ګلانو دجنت مخاوی او په خوشبویه وږمو دختن سیالان شوه!...

ای ښکلیه پسر لیه! ستا قدوم ستر ګو ته نور، زړه ته سرور او روح ته بېشانه خوشحالي ور کوی!!...

تاداد عیش و عشرت سامان دجنت نه دی سره راوړی که دا زلی ښایست نقاب ستا په لاس کښې دی چه نن دې بې نقابه کړ؟!......

د پسرلی! خوږ! ښه!! چه راغلی!!

بس د پسرلی مه دې بېلتون نه ستا و حال د پسر خوږ دی،

خاص پیاپه داسې حال کښې چه دوطن د امیدو غوټی په پرانیتواو دارماندو نهالګی په ګل او ثمر کښې دی:

ستا عیارک راتله موته د نیکبختی فال ګڼو! ستا راتګ

دوطن دپسرلی سره سم‌دی وګوره ! د « روه » په‌اوچتو غروکښې نن د ګلوکر کیږی! ګلشنونه اوچمنونه جوړیږی! دسحر دمرغانو خوږ ونارو دهدیرو مرې غوږ په آواز کړید ی ! . . دغـه دی کـه دراورتـی غـونـد ې په ګلا نومین څوك وی‌غنچې دتیرې جوړی کړی ! ! !

ترهرچاښایسته پسرلیه ! زمونږ دسیمې په کورنی‌ښایست خوتاداډول وسنګـار زیات کړو چه په‌قلم‌نه تصویر یږی ! مګرای دستر ګو توره ! داییمثاله حسن تـا د کوم ځایه راوړی دی ؟!!...

ګرانه ! ستاد تشریف راوړوورځ‌مشتا قانوته داسلام د عروج دپسرلی تصویر ښئی !!! ـ

داد عامې مهربانی‌اوعام کرم‌جواهر تاداسلام داخلاقو دخزانې نه ذخیره کړیدی ـ ؟

جـانـانه ! تـا په دې خـمـکـه ډیر ې مېلمې تیر ې کړی‌دی ! ! . . . دپخوانوحالا تونه خو مونږ تـه‌ لـږ څه ورایه !!! مونږ ته‌خوداسلام دهغه اولو العزمه ځامنو

چه دهندو کش داوړ وغرو په مینځکښې دشنوز مړو په څیر اوسېده څه قصې وکړه !!! هغه چه دباطل ئو ره تیاره دهغوی دتورو دبرېښ اوروڼا نه لکه شپه د ورځې نه تښتېده ! . . . سرداره ! دغاتو ل دهغه قود وڅخه چه تاد جنت نه دېر سره راوړی بوه بوه دهغه شهیدانو په مزار کښېښوده ! چه زمونږ دخوږې مېنې پسرلی دهغوی دمتبرکو لاسو دا حسانو مرهون دی !!! چه دهغوی دخوږ منو سوو اوداغلو زړ و دهغه زخمو اوتپو څخه ترجمانی وکړی چه دملت په مینه یې دخانه سره وړی دی !!!

شیرینه ! بیا دمونږ نه مه ځه ! !..

همدلته اوسه !!!..

افغانستان خپل کور کړه !!!..

داوږدوچه دلې اوسې !! استاصمیعی بنایست او دافغانستان فطری موقعیت !!! . . .

جاړدیشه بیاد مونږ نه مه ځه !!!

# خبري

خبري دانسان په ژوند کښې ډېر لوې دخل لري .
څنګه به یې نه لري ! انسان په خبرو انسان دی ؛ او دنورو
حیواناتو څخه په خبرو بېژندل شوی دی .

کار او عمل خو ، بېشی دی ؛ خو باید چه انسان فکر
وکړي او غافل نه اوسي چه خبري هم کار دی . ډېر
زله په خبرو او وینا هغه کارونه کېږي چه په بل صورت
یاممکن نه وي : او یا ډېر مشکل وي .

دا باید یاده وساتل شي ، چه خبري کول څه اسان
کار نه دی . دخبرو کولو دپاره وخت کتل ، موقع پېژندل
او د - ادا ډول ډېر اهمیت لري . ډېري ښې او طلائي
خبري چه بې وخته او بې مـوقعې وشي ؛ هسې خـو شي
تېري شي ؛ او هیڅ فائده و نه ښندي .

دغه شان ډېري خبري دي چه په بوقالب کښې باهیڅ

فائده نه کوی : یا بندې تلقی کېږي، خو هغه خبرې که بیا په بله پیرایه کښې وکول شي خورا ډېرې فائده ی ور باندی مرتبېږی .

دغسې وا قعات هر انسان ته په خپل ژوند کښې ډېر پیښیږی باید تل انسان له هغو شخه ځان ته تربیت حاصل کړی !

ډېر کمال اداره خلك شته چه ددې کمال نه عاری دی؛ او لکه لعلو نه په ایرو کښې پټ دی .

# په ځنګل کښې یو ماښام

یو ماښام زه ځنګل ته لاړم ، تراوسه لا هغه وخت نه و چه نمر دې لوېد لی وی ، او په ځنګل کښې دې توره تیاره وی ، او ستړی ستومانه مسافر دې وېرېږی چه خدای زده به دې پواخې او کیږي ځنګل کښې به ما ته څه پېښېږی ! —

تراوسه ماښام نه و ؛ خو ، د ګڼو ونو په مینځکښې ماښام شوی و ؛ زما زړه غوښته چه چېرته ر ڼا والټوم — نو هلې د لې په ګرځېدو لګیا شوم ، تردې چه یواوزد شوی سړك ته ورسېدم چه ددې تیاره ځاینه کوم رڼا ځای ته تلونکی څرګندېږی — او په خپله د غه ارزوسره روڼ ځلېږی — .

* * *

اوس ماښام نزدې و ، د اسمان د لمرپرېوا ته خواغاړې دورځې په ورو ستیو رڼا ګڼانو ښایسته وې — او په سړك

څه داسې ایسېده لکه چه د ریا ور کېدو نکې پلوشې پو تر بله سره ( د خدای ښه ) کوی ! په د یکښې مې یو مسافر ترستر ګولاندې راغې ، چه پښمې په شادی ځی ـ ورځ تللې ده ، ما ښام نژدې دی ، اوس هغه وخت دی چه دی باید د خپل کور لار ونیسی ـ

زړه راته وویل " هر کله چه د غمې ستا د ژوند ماښام خپله چتری خپره کړی ـ هغه وخت چه د ځوانی قصه د زوړوالی په وروستینو ناروختمېږی ، نو ته هم باید دلارې توښه در سره واخلې او د منزل مقصود وخوا ته لاړشې ! ! !

* * *

څه رنګ ! انسان ته ګوندې دالیکل شوېده چه دی به هغه و روستی ما ښام ته ګوری چه په هغې باندې د ژوندانه ورو ستی ورځ خلا صېږی ـ او هغه ټول ما ښامونه به د سوبې په خوب کښې تېروی چه هره ورځ د خپلې تېرې سره راځی او ځی ـ . . ؟

نه ، نه ؟ د ژوند هرما ښام د راتلونکي شپې دپاره
د ښوزېږې دی ، او دهرې شپې دا کار دی چه هغه په دې
زېږې کښې ربط و ضبط پیدا کړی او د نوې ورځې غوزوته
بې ورسوی ، چه د غسې ژوندون ورځ په ورځ زیات مربوط
او مضبوط شی !-

اومرګ د مونږ د پاره څه نوی شی نه دی - دا ښکاره
خبره ده چه ګهیځ د ورځې ور کوتوالی ، غرمه یې ځلمیتوب ،
ماز یګر یې زوړوالی ، او نمر پرېواته یې مرګ دی :
دهر چا ځنبتن - په دې تیاره او رڼا دنیا کښې زمونږ هره
ورځ او شپه دژوندانه او مرګ تصویر جوړ کړیدی .

ستر ګې نښته چه دا تنداره و ګوری ، که نه ! هره ورځ
څه دی مونږ یې نه وینو ؟- سبا په زوړ والی کښې د کو چنیوالی
خوندلری . ورځ په ځپل ځپوروالی کښې څومره ارتده ،
او څومره چارې پکښې ځائېږی : مونږ هره ورځ څومره
علم و هنر زده کولی شو ، دځان او د همجنسانو دپاره
څومره ښېګڼې رسولی شو -! ؟ د نیا مونږ دا من ښار جوړولی شو ،

مونږ په‌خپل ښه‌عمل سره هغې ته ښایست اوزینت ورکولی
شو .ـ ځومره ځومره کارونه کولی شو ؛ خو ، کوو
ځومره لږ .....!

ماښام څنګه مینځنی وخت دی ، څنګه ښه شپه ده :
ورځ اوشپه ور باندې پوځای کېږی ، ستړیا ختمېږی او
ددمې وخت راځی ، ستومانتیا په دمه کښې ور کېږی !

* * *

ښه‌نو ، دادمه‌هم ګوندې کارنه دی ؟ هغومره ښه ،
هغومره خوږه ، دژوند دپاره هغومره په‌کار اوضرور ری
نه‌ده لکه ځومره چه کار دی ؟ـ!

مونږ ، کله په کار کښې داسې ننوځو چه دنه کولو
څخه‌نه خونداخستې‌شونه ګټه ! سره‌ددې چه کول‌نه‌کول
ژوندمرګ ، سباماښام ، شپه ورځ ، هریوپه ژوندکښې یوه
برخه لری ـ اوز مونږ دپاره یواهمیت او یومشکلې معنی !

ماښام تېرشو ، شپه راغله ـ راځیء چه زنها هېره کړو ،
او خپل ځان وجهان دبادار دمه ور کوو نه کو
تېروته وـ سبا رو !

# متقابل اخلاق

مراد زما په متقابل اخلاقو سره متضاد اخلاق ندی لکه سخا او بخل ؛ زړور تیا او بې زړه توب ؛ ایثار او خود پسندی . بلکه مراد می په متقابل اخلاقو سره هغه اخلاق دی چه دانسانیت د تلې په مقابلو چاپېر یو کښې یو دبل په مقابل کښې او ښېږی ؛ یا باید چه و لو یږی ؛ په دا سې شان چه یو دبل جواب شی . لکه د کرم په مقابل کښې تشکر ؛ د ښېګڼې په مقابل کښې ممنون کېدنه ؛ د شفقت په مقابل کښې مینه در لودنه ،

په دې خبره کښې هیڅ شك نشته چه د یو ملت یاد کل انسانیت سعادت ؛ خوشحالی ؛ او داجتماعی ګذران سمون په علم دومره اړه نه لرئی لکه په اخلاقو ، ځکه چه علم یو همه ده ؛ او اخلاق کړنه . نو سړی که څه هم ډېر هو ښیار شی چه عمل یې نه وی نه ځان ته فایده رسولی شی ؛ او نه بل چا ته . بله داده چه حیات د یو متواتر فعالیت نوم دی ، تر څو چه

په‌دي فعالیت کښې نظام پیدا نشي او هم آهنگي یکښې نه وي ' تر هغه پوري حیات په‌غم لړلی دی ؛ برابره ده چه‌فردي وی او که اجتماعي . په حیات کښې نظم او هم آهنگي پیدا کول د اخلاقو وظیفه ده .

هو ' اخلاق هغه وخت دسعادت وسیله کیږي چه د فردي دائرې څخه ووځي او اجتماعي رنګ قبول کاندي . مطلب‌مې دادی چه که په‌یوه توده کښې څوکسه اخلاقي خلك پیدا هم‌شي دجماعت داوضاعو څخه تنګ کیږي ؛ او دډیرو مشکلاتو سره مخامخ کیږي .

نو اخلاق څه وخت اجتماعي رنګ پیدا کوي ؟ ـ هغه وخت چه داخلاقو تقابل وپیژندل شي ' او وظیفهٔ یو دبل په مقابل کښې ولوبیږي ' او دانسانیت دتلې توازن پرې برابر شي !

مطلب دادی چه‌انساني حیات یو توازن او تول لري . که‌دا تول برابرو خوښه ' او که نه‌و ' نو بدنظمي ' تصادمات او مدو جزر څرګند یږي ؛ او ډیرې ډیرې خرابيء

پیدا کیږي . دمثال په ډول وایم : یو کوچنی په مکتب کښې ښه سلوك کوي : جنگ و جدل نه کوي ؛ دمکتب دنظام نه نه ووځي ؛ په خپلو سبقونو ښه پام لرنه کوي ؛ او دوختونو ښه پابندوي . نو دا ښه خویونه دي او دا جواب لري . په مقابل کښې بایددي شابس او افرین یوسي ؛ داستاذانو توجه باید جلب کړي شي ؛ او په امتحان کښې بایدپه خپل حق ورسیږي .

بل مثال : احمداو محمود دوا ړه په بیل بیل دفتر کښې په یو کار بوخت دي . احمد ډېره موده تیره کړه ، استقامت یې و کړ ؛ تخصص یې حاصل کړ ؛ کاردذوق او قریحې له رویه کوي . نو دا ښه خویونه دي . په مقابل کښې بایدو نه انحل شي . وړاندې لاړ شي ؛ وحوصله یې زیاته کړی شي .

دریم مثال : شریف ښه سړی دی . تل اجتماعی منفعت په خپل شخصي ښیگڼه مخکښې گڼي خپل راحت او گټه دخلقو په خیر کښې قربانوي . سخا کوي خدمت کوي مینه او محبت کوي ، دنورو دفائدی دپاره ځان بلا گانو ته سپر کوي . دهغي رهبري کوي اوسعادت ته یې راکاږي

داتول ښه خويونه دي ـ په مقابل کښې بايد خلك شريف دروندو ګڼي محترم يې وګڼي ويې نمانځي، مدح او ستايش يې وکړي ، په اخلاص سره يې هدايات ومني ، اطاعت يې وکړي !او سر ومال ورته وښندي ، په دې شان سره متقابل اخلاق ډير مثالونه لري تر دې چه وار ه واړه حرکتونه هم جواب لري، اخلاقاً بايد د له او توده هر حرکت جواب مطابق ور کاندې مثلاً که چا سلام ور باندې واچاوه ، جواب يې " وعليك » دې که ستړې مه شې ، يې درته وويل جواب يې "خوار مه شې دې . » که څوك در ته پاخيد جواب يې پاخيدل دې ، دا سې وار ه او غټ مثالونه بيخي ډير دې چه د طوالت له کبله يې نه شم بيا نولی دا ټول اخلاقي پوروونه دي که څوك يې ادانه کړي او سترګې ور باندې ټيټې کړي ، يا سترګې زړې کړي او منکر شي يا وواېي څه دا وار مې ، د فلاني نه استفاده وکړه او بل وار مې ور ته حاجت نه پيښيږي نو دا سړی اخلاقاً او انساني ډرف په نزد پور وړی دی .

پولوی او عمومی جواب چه دجامعې په لاس کښې دی.
هغه ستاینه او غندینه ده دښو باید حتماً ستاینه او دبدو
غندینه وشی ـ او په دې زمینه کښې باید حائل نه وی.
که دا دوه شیونه بېځایه مستعمل شول نو جامعه دیو جهان
شر او فساد ځخه ډکېږی. ځینې کسان داسې دی چه
دضعف نفس یا پستئی له کبله بدې کښې قصور یا ردو بدل
کوی. مګر اخلاقا دا په لوی خیانت دی چه دوی یې
مرتکب کېږی.

بیر ته ګرځم سر ته: که په سړی دیو فرد یا جماعت
په مقابل کښې احسان، ښیګڼه او نیکی وکړه. نو ده ګویا
دانسانیت دتلی په پوه چاپری کښې څه واچول. نو ده ته
په اول صورت کښې فرد او په دوام صورت کښې جماعت
مرهون دی چه جواب به یې ور کوی. او عوض به یې
ور ګرځوی؛ چه دا جواب دتلی په دویمه مقابله چاپری
کښې پر بوځی او توازن راشی. او که نه، دنیکو په مقابل
کښې هیڅ ونه وینی باید وو یني. نو دا معلومه خبره ده

چه ددې نه سخت ردعمل پیدا کېږی دوبارهٔ پیدا هغه‌سړی نیکی نه کوی !

فرض کړو هغه ښه مکتبی ته دا متحان بده نتیجه په لاس ورغله . یادده نه یو لاندې شاګرد ددنه ښه نمبر یووړ : یا ــ محمود هېڅ په هېڅه داحمد نه وړاندې شو . او احمد هېڅ نتیجه‌ونه لیده یا ـ دشریف دټه لواجتماعی خدمتونو په مقابل کښې ده ته خلکو کنځا کولې . بدیې ورته ویل : او دده دښو کارو تاویل یې په بدو کړلو یاچاته چا دسلام جواب ورته کړو : بدې تولو صورتو کښې دفعا لیت اوعمل قوه ستېږی ــ نو بیا دنیکو پسې نه ګرځي . او دنتیجې اخستلو دپاره انسان دخو شا مندو رشوت اونورو ناجائزه کارو پورې ښلي .

# دژوندانه طلسم

" پس ! همداوژوندون؟» زوړسړی دژوندانه پهغاړه ناست ـ دخپلو آرزو گانوبېړیءبې تلونکې لیده ، سوړ اوسېلی بې وایست ، او داخبره دده دزړه دعمق نه داسې راووته لکه پهاوبوکښ چهیوشی ډوب شی اوداوبوپهسربې خوبړبړیء څرگندې شی !

دماښام وخت دی او دلته دژوندانه ماښام دی !

پهاسمان باندېدلمړو ورڅوسپوږمیء خپلهښایستوکې رڼا خپره کړېده ، مرغۍء په هله هله خپلو جالواو دشپې خایوته ځان رسوی ؛ نمرلوېدلی دی ؛ دغهدی داتنکیء سپوږمیء چهدتیروبه ړوم ښیو غوړسکو باندې لمړه شانې پازه غوړ زوآو دپاره دنیاته راغلې ده ـ پرې به ووځی ـ اوبه هرشی به تورتم شی !

دزاړه په زړه کښ هم دیو لطیف احساس خلك تر څه مخته وځلیدہ ، دده دښکلی خلمیتوب ورځې تېرې دی !

اوس به دازوږوالی او دهغه احساس هم تېرشی ، او دده روح به دخیلې ږ روستۍ ء استوګنې دځای وخواته وزرونه خپاره کړی وابه لوزی !

دخانه سره بې ووې : «ای ژوندونه ! تههمداوې ؟ »

ده بیا سرو خوزاوه وبې وېل « ته تو که بې او که نه ! لیکن څوانی خوا رو مرو تو که ده ! »

دابې ووېل زوږ سری غلی شو ، نورخهبې نو دخولې نه وانوربده شوه . دی هغه اوبوته پهخیرشو چه دبیری ء پهدوولګېدې ؛ دده‌رباپ : دده هغه دخوشحالیء ملګری چه‌درست عمر هر سبا ماښام به‌دده دارمانو سره یه‌یوغګ غګېدو دده له لاسه ولوبد !

بېری ء په‌تلوکښې ده ، زوږخوار خفه‌اوغمجن‌دی ، لیکن بېری ء والا خوشحال اوپه خندادی !ـ

داسوږ تو نـه څـوك دی ؟ زوږ ولـې خـفـه دی ؟ بنه‌نو ! دی ددویء دجلا کېدو په خیـال غرند دی ؟ ـ نه !ـ دی غواړی چه که خدای و کړی زر تر زره دده

دستر گونه پټ شي او ددوی یادهم دده دیاتی ژوندانه څخه
دغلطغوندي توری لیرې شی! ځکه، چه دا هغه زړه غلوونکی
شیان دی چه دځلمیتوب دنشې په ورځو کښې هر وخت دده
دزړه نه چاپیروو ؛ دده په زړه بې پرده غورزولې وه ؛
ده دا گمان کاوه چه ځما ستر گې دحقیقت تصویر وینی،
څه چه وینم هغه هماغسې دی هم ! ـ ده ددنیا په رنگو
کښې خپل زړه رنگ کړو ـ او ددغه رنگ ور کولو څخه
بې دژوند په ښایست سر دتعبیرو کاوه ؛ دنیا دخوشحالیو
یوه سلسله جوړه کړه : لمړی دښایست سبا خپل جعلی نور
خپور کړ ، بیا ـ رڼا شوه نو دعشرت و ربځ په فضا کښې خپله
چترۍ وغوړوله، وربځ ورکه شوه، بیا نو دمستۍ رنگ
دسرې زرغونې په شان په اسمان خپل تال واچاوه ؛
دژوند ورځ په دغه ډول تیره شوه؛ اسمان شین شو چه
وی لیده ماښام نزدې دی ، نوورځ گنده شوه چه دغه
زړه غلوونکی شیونه په اصل کښې دخوانۍ تیر ایستنې
وې ؛ چه وو یوڅه ، او ښکاریده بل څه ! کله دزړه

دمجلس رنګ و رونق به دوی؏ سره وو ، اوس ددوی؏ قلعی لیرې شوه ، نودوی؏ خپله ددې مجلس نه مخ واړاوه.

طاقت ، قوت ، ښایی ، عشرت ، خودی ، ازادی ترقی ، ښایست ، مینه ، عقل ، علم ، باور - ددې ټولو یې ښکاره شوه !

حیات زړه څه فرض ګړی وو ، اوڅه یې ومیند ! لیکن یوقوی روح ته دحقیقت په لیدو کله ضعف پیدا کېږی؛

ژوندون بېشکه یوطلسم دی چه ماتېږی - خو - دیو زړو رانسان دپاره څنګه ښکلی دی داطلسم ، اوڅنګه خوند وردی داماتېده ! - ؟

خبرېده دهوښیارو زړه دپاره اوی تسل دی اودحقیقی ژوندی دپاره مرګ اوڅه مرګ نه دی ! ! !

## د یارانی ژوند

زه نور څه ووایم ؟ـ زه تل باید ستا د مینی سندري ووایم ! . . . .

هو ، د عشق جنون همدا تقاضا کوی ! زه پوهېږم چه زما زړه خو تا سره دی . زما ګوګل تش دی ! مګر دادی له مانه څنګه وا خست ؟ ـ د دوه سترګو په اشارت ؟ ـ په هغه مقناطیسی جذب چه د کائناتو ذره ذره د هغې په وجود ژوند کوی ؟ ـ ډېر ښه دی وکړه ترتا دې جاروی ! ـ

زړه خود همدې د پاره دی چه د عشق متاع پرې واخستل شی . کاشکی چه د ما سره داسې نور هم سل زړونه وی چه تر تا مې جار کړی وی ! ! !

سکندر د نړۍ فتح کړه . چنګیز د نړۍ د ماتو ښکار کاوه ـ نه زړونه ښکار کوې ، د مینې په دام کښې یې نسې ! د عشق په جنګی فصل کښې یې سا نې ، واه !

مبارك دي شه دا فتوحات ! ! !

بنه نو ، ستا متفكر نرگس دچا په غم كښې سره نه ورځي ؟ ستا خوب او راحت چاو يووړ ؟ ــ زه ستا د سوز بد لي اورم ، زه وينې يم . او ستا بد لو وينې كړي يم!

ستا دلربايانه او په خير خير كتنه ؛ ستاد تاب نه‌وتلي ليو القيا ؛ د ياري په شان بيقراري ؛ او ستا دمژ گانو هر حركت ــ ماپوهوي ! ــ

گله ! ته زما دخوشحالۍ د پاره گله لكه د سبائي كوكۍ و عوږ بېزې ! گله دبار داري ونې غوندي زما په سرسيوري و كړې ! اوگله را ته خوږې مېوې را كړې !ــ دا بارو نه دې د ماد پاره په سراخستي دي ؟ ــ

ما ته ووايه ... ستاپه ماد ومره زهير تياده ! دومره خواخوږي ده ! او دومره راباندې تېربېزې ! ــ جاردې شم ماته ووايه ..... چه ته زما مور و پلاربې او كه زما خوږ دلبر ؟ ! ...

جا نا نه ! زه خوستا په مینه مست یم . شپیلۍ و هم.
بدلی وایم . مستانه گرځم . اوپه دغه روح پایم . ــ ولې
ستا حالاتو ؛ ستا او ضاعو ؛ ستاد سوز ستاینو حیران کړم ،
چه ــ زه یه تامین یم او که ته په ما ؟ ... ښه ! ــ څنگه ؟ ــ :
دوا ړه مین یو ؟ ! ــ اخ ، شکر !!! ــ
څه خوند لری د ـ یارانې ژوند !!!

# چه ورسیږم نود مه به کوم

هیڅ پر وانشته، که زه دغه اوچت سرونوته چه ختل غواړم، — و نه رسیږم . — که زمانا از میلی قوت ماته جواب راکړی؛یادغره او چت سرو نو ته د رسیدو نه مخکښ . سخت طوفان ماد تلو څخه را منع کړی ! په هرصورت زه دغه ځای ته ورسیږم او که نه ... مګرزه جدو جهد کړم، ځان ستړی کوم . ځکه چه ماته د ژوند خوند په همدې کښ دی:

چه ورسیږم نودمه به کوم

* * *

هو، سره د دغه ټول محنت او کوشش چه زه یې کوم، که دبریالیتوب خوشحالی زمایه نصیب نه شی، نو نه دې شی کښه ! — که زما لاس ته هغه میوه رانه شی چه زما سیالانوته په جد وجهد سره په لاس ورغلی ده، نوڅه ! ..

که هرڅو دمنزل مقصود نښه هم زماپه نظر نه راځی ؛
مګر بیاهم په دې خیال سره مسروریم :

چه ورسېږم نودمه به کوم

* * *

که زمالاس زما دمطلب په حصول و نه لګی ؛ نو ، نه
صحیح ! ــ څه اندېښنه ده که زمالار په تیاره او کندو کپرو
کښې تېره شوې وی ! څه وشوه که زه دژوندانه دډېرو
خوږو لمحو څخه محروم اوسم ! ځکه چه په دې ار زو کښې
ما ته پوره خوند او مزه حاصلېده :

چه ورسېږم نو دمه به کوم

* * *

# دخپل هر فعل اجر

دخپل هر فعل اجر ماته په دې دنيا کښې ورسيږي، داسې
په نه وي چه ما دې نيکي کړې وي اوز ما زړه دې دنه دننه
دخوشحالي نه نوي ډك شوي ؛ په داسې وخت کښې زما لطيف
جذبات داسې په جوش کښې راځي چه زه په خپلې زړه
فراخي سره دټولې دنيا دتنګ نظرې نه پورته پورته ـــه
ښکــارم ؛ جرأت زما په هر رګ کښې سرايت کوي، نوزه
پوهيږم چه زما خالق تش ديو ورو کي قرض دادا کړ او
په عوض دخپلې خوشحالي سره ماته دقوت او اطمينـــان
بې بهاهديه را اېږلې ده ؛ او ددې دپاره کلونه او ساعتونه
څه چه پوستر ګې رپ هم نه شو لازم ؛ زه نه پوهيږم چه
داڅه رنګ قاصددی چه داد خو شحالي زيری مــا ته په
سترګی رپ کښې رارسوي، ما ته دا سې ځلــيږ ی چه
ګويا دزړه په تيارو کښې دنور دشغلو وړانګې راپرېوځي،
چه دهغې نه داخوږه چينه ګړندی رابهيدلې ـ او يو بې

سرو بره دریاب تر جوړ شوی ؛ دهستی په وسعت کښ خپریږی ! —

پردې بله خوا ـ ما کله دنیکی نه اجتناب ندی کړی ' چه زما زړه دې ددې باغیانه حرکت په سبب توتې توتې نه وی شوی ؛ مادا ماتېده په خپلو ځان غلوو نکو تسلیو او په قصد خندا گڼلو که هر څه پټ کړی او غوښتی مې وی چه ځما زړه هم پرې خبر نه شی ! لیکن دا مصنوعی خوشالی دېو کښې غوندې چوی اوزه ترور اولیونی ښکارم !

هو! کله داسې هم شویدی چه زما زړه دخپل عادتی کبرو تاو له کبله صحیح احساس نه وی کړی ؛ لیکن ددې بې پروایې په جزا کښ یو بې تغیره قانون مادیو سخت ملزم غوندی داسې نیسی چه سااخسته هم مشکلیږی ' نو زما زړه چغې او سورې وهی او دا دعا کوی چه «ای خدایه ! بیا به داسې نه کوم ته د پښېمانه زړونو رښتیانی دعا نه رد کوې!» نو حق بې اوری او قبلوی بې !

لیکن آه ! ــ زه دهغه ددې عفوې څخه په غلط فهمی کښې او بدلی داهېروم چه یوداسې ذات شته چه زما تول ښه او بدیه هره گړی کښې وینی او دژوند دباغ رنګین گلان ومړاوې غوټی په خپله ناز که تله کښې تلی او یوه ذره هم نه عبثوی ـ !

## ښنګه به شی ؟

خوږه مینه ! ... لېژماته و ګوره ! ... .

د زړه سره ! دستر ګو توره ! د تپی ځیګر ټکوره ! ..
لږ وماته و ګوره ! ...

ای چه زما د زړه طوطی ستاد مینې په دام ګیر او ستا
د عشق په لمبو او لیلی دی ! تر تا جار شم : لږ خو وماته
و ګوره ! ....

زما جانانه ! ... ښنګه به شی؟ ! ..

* * *

زه دشر مه ـ نه ځان ته کتی شم ، نه تا ته ، او نه ،
جهان ته ! ...

زما زړه دا میدو ـ نه ډک دی ، مګر ....

زه خپل درد په کومه وسیله سر ه ښکـاره کړم؟...چا ته ئی و وایم؟.

چا ته فریاد وکړم ؟ ... چا ته و ژاړم ؟ ...

پړ یه خلق ....

له تا جار شم ! زما د خوږ دارو ، او زما دسوې درونې

پتهی خو ـ تاسره دی ! ...

زمازړه لکه دپنجري ایساره مرغی په ګو ګل کښې

توپونه وهی !...

په حال خبره !.. څنګه به شی ؟...

* * *

زمانه راته نن او سبا کوی ! ...

اسمان مې په حال باندې خاندی ! ...

زماد درونې تود لو ګیبه د ده بی پروازړه نرم کړی ؟

او دمهربانیٔ په څاڅکو به داوچ کښکر راغه لاله زار

کړی ؟ ...

زماز ګیروی به و او ربډه شی ؟ ...

زماچغې او سورې به غوږ وته ورسیږی ؟..

های زما ! بد بختی ! ....

زه ګوندې بل دامید ځای لرم ؟...

زمابل داسرې ځای چیرته دی ؟...

زړ ګیه ! راته ووایه : څنګه به شی ! ...

زماډېر ارمانونه ! ستانو طاقې ځوانی ! ...
نازك صورت ! .. اوزده لار ! .. او د رانه بار ونه
! ...

دنمر خاتـه شغلـې ، پلو شـی : ڪاروان پـه
خوب ویده !. د«درا» ناري اود ګینګرو خاموشی !...
هك پك دا ګ ، اوزما ډېره تلوسه !...
لو ګیدې شم ! څهخوراته ووایهچهځنګه به شی ؟...

* * *

ستااوبی ستاعظمت ، ستا محبوبانه وضع ، لوړشان ، زما
لوبدلی زړه راپورته کوی !

زه ددې تول آه وارمان ، ستړ یوالی اوستو مانتیـا
سره ، ستادرنې اوپراخې تندې په آئینه کښ دراتلونکې
ورځې عکس وینم ، اودهغې په تینګه تمه ـ هررنګ ستغ
اوسپور ، دګبینو اوغوړو ګوټ ګنم ! ...

ستا دطلوع نه دنصف النهار علامې ځرګندې اوستاد

کړو وږونه درشد اثار ښکاره ، دی !

مګر بیاهم ، څما تخ مخ زړه ته را ټولیږی ، نوسپیلنی دي شم لږ څه خوداراتــه و ښیه چــه "څنګه به شی ، دپښتنولیء نیالګی به ګل اوثمر شی ؟» آه !..

# دستورو دنیا

دستورو په‌دنیا کښې خدای زده چه هغه څه شی دی
چه ماخپل ځانته را کاږی ؟ هغهٔ څه شی دی چه‌هغه‌ته
گورم یومضطرب اطمینان مې‌په زړه کښې ځای نیسی ؟ـ

زه وینم چه‌په‌دغه ستړو کښې څه‌داسې غلی‌اوچوپ
دی لکه دخیال ژوروالی ، اوڅه داسې خړاو لړې دی
لکه دتېرو ورځو یاد !ـ

څه‌رانه اوځلېدونکی دی لکه دپاك زړې اوصاف
باطنې محبوبې ستر گې ؛ اوڅه داسې بربښې لکه دهغې
مور دمینې ډکې ستر گې چه دورك اولاد پسې چه‌نارې
وهی اودا اوښو ډکې شی !

ښه‌نو ! په‌دې آئینوکښې دانسان‌دژوند عکس‌ښکار ی ؟
یادا ! چه دادیوې زمونږ په غم اوښا دیء بـاندې خپله
رڼا غور زوی ، اوهره شپه په اشارتونو اوستر گکو نو
مونږ ته څه وایی ؟

کەدانەوی نوبیا ددې ستورو په دنیا کښې نورخەدی چەماخپلې خواته را کاږی - چەورته گورم نوزمازړه کله غمجن شی او کله خوشحاله !

ژه دیوهیبرم چەزه یومسافریم ؛ دسمې لارې نەاووښتی؛ او کەڅەهم خلاص اوپرانتی یم ، مګر دخپلو رنګا رنګ خواهشو یەرسیو تړلی یم ؛ ددنیایەقسماقسم خوندو مینیم ، لیکن دخپلو اکثرو قوتو څخه بې خبر ؛ د هرشی طالب (غوښتونکی) یم لیکن دهغەموندلوسره دخپلې آرزونه بېزار ؛ زماورځې دهوسابی اوسکون نەخالیدی ، اوزما فضادتخیلدا لوتو دیاره تنګەاوناموزونەده؛ لیکن دمادیاره دخوشحالی‌یواځی ! یوسبب موجوددی : څه ؟ هغەدا چه څماشپې تراوسه په‌دې‌چرت کښې تیرېږی چه گوندی دحسن پەدې لوبو ونو کښې هغه رڼا چرې پټه پاښکاره شته چه زما زړوند اوسوی قسمت (برخه) یې لټوی ؟ اوهغەعصمت یکښې چیرې موندە شی‌چەزما په گناه ککړ زړه بې‌پلټی ؟ ـ اوهغه راز پکښې ظاهر یامستور شته چه د هغه پسې

زمازړه په تلوسه کښې دی او تو پو نه وهی؟ ښه نو دنا قراری څخه گوندې چېرته دېښدو ځای نشته ؟ - او که دا نه وی نو دستورو په دې دنیا کښې نور څه دی چه ما خپل ځانته راگازی ؟ -

* * *

زه په دې یوهېږم چه زما په ژوند کښې ترټولو ثابته جذبه، دعشق جذبه ده، او په مخلوق کښې رښتینې جلوه، دحسن جلوه ده، اوزه ددې هم احساس کوم چه هر کله زه په دې لیري لیرې رڼا گانو نظراچوم نو زما په جذباتو کښې تلاطم پیدا کېږی او زما ژو ندون ورا ن ویجاړ ښکاری ، په هغه وخت کښې زما زړه پوهېږی چه ده دخیالی آرزو گانو پسې خپل قیمتی وخت بایلو دی دی، او خپل بې بها فطرت یې د عبث شیانو په عوض کښې خرخ کړی ؛ یوه زمانه داسې تېره شوه چه ما مینه دغرض سره ملگرې ومینده، وفا مې د بېوفایې سره یو ځای ولیده، ضمیر مې د خپل نفس سره لاس

وگرځوان وليد، زما دعمر خوږې ورځې داسې تېرې شوې!ـ افسوس!

ليکن ډېر شکرونه دی چه ځومسرت تراوسه ماديار باقی دی: چه زما شپې اوس هم په هغه ښکلو قنديلو رڼادی چه دهغو شغلو زما پهغمجن زړه کښې نوې آرزو پيدا کړېده، زه وپوهېدم چه دانسان دژوندانه صحيح سکون داضطراب سکون دی؛ زه پوه شوم چه آرزودځه اسان شانې حصول دپاره نه ده؛ عشق دېوارزان وصل دپارهٔ ندی؛ اوزه ورسيدم چه د ښتيني کشش هغه دی چه تل زړه وخپلې خوانه را کاږی رښتينې آرزو هغه ده چه تل د تکميل پهتلاش کښې وی، او ښتينې محبت هم هغه دی چه دمحبت دمدعا دپاره پله پسې جد و جهد وکړی ـ اودغه جدوجهد دژوندانه مآل وګڼی!

# تنگ نظری

دعقل کتلو ته بصیرت او دسترګو لید لو ته بصارت وایی. دسترګو دید دظاهری حواسو څخه شمیرل کیږی او دعقل کته دباطنی حواسو څخه.

لکه څه رنګ چه دغه ظاهری حس (بصارت) کله کله ماوف کیږی او امراض ورته عارضیږی، دارنګه دغه باطنی حس هم دامراضو دحملې نه مامون ندی.

بصارت ته کله کله داسې یو مرض عارضیږی؛ چه سړی نږدې شیونه ښه واضحه اوصاف وینی؛ مګر لیرې شیونه تت او خړپړ ورمعلومیږی، اوسړی یې سره ښه بیلولی نه شی.

په طبی کتابونو کښې دې مرض ته «نزدیك نظری» وایی. په جدید تحقیقاتو کښی داخبره ښه ثابته شویده چه دامرض دتهذیب دسوغاتونو څخه دی. هرڅو مره چه تهذیب او مدنیت زیاتیږی هغو مره دامرض هم خپله

لمن ارتوی . لکه‌چه دیورپ اکثره‌مهذب خلك په دي مرض اخته‌دی . دغه وجهه‌ده چه اکثره یې‌ستر گی‌ء (عینکی) زدی .

همدا رنگه )بصیرت) ته هم کله کله داسي یومرض وریپښیږی ؛ چه دی دقضایاؤنه نتیجه نه شی اخستی لنږو ړاندې اموراو هغه څه‌چه لنږ تد بیر او سنجش غواړی ؛ دهغو دفهم اوادراك نه عاجزوی د کلیا ئو په فهم نشه نه‌وی قادر فقط روز مره اوعادی امور وړاندې پوهیږی - بلکه کیدی شی چه داسي یوسړی په داسي کارو کښي دیو حکیم اودور رس فکر والا نه ښه وی خمایه خیال دي مرض ته باید مونږ ( تنګ نظری ) ووایو . دبصیرت‌دامرض دبصارت دمرض نه برخلاف په‌جهل اوبي علمی کښي ترقی کوی . لکه څه رنګ چه‌دبصارت دهغه‌مرض دفعیه په ستر ګیو اوعینکو کیږی ؛ دغه شان دبصیرت ددې مرض علاج دعلم په کجل سره کیږی .

هو کله کله داسې هم‌و شی چه دعلم کجل پەستر گو کښې واچول شی خو بیاهم دتنگ نظری مرض و ربا ندې رفع نه‌شی . په‌دې‌وخت کښې نوعلم‌ته‌علم نه‌ویل کیږی . لکه چه شاعر وائی :

درنه‌ور که چه تنگی د نظر نکړی
ددې علم په کجل باندې نو څه ؟
« امیل »

دامرض په‌دوه قسمه دی :

یو خلقی‌دی . اوبل‌غیر خلقی ـ خلقی دادی چه دماغ په طبیعی طور سره نشو ونمانه وی کړې . اوله‌خلقته‌څخه یکښې دا استعداد نه‌وی اچول شوی چه دمبادی و نه‌دې نتائیجو اودجز ئیاتو نه‌دې کلیا نو ته ورسیږ ی ـ دد ې علامه‌داده چه داسې‌مریض هیڅکله دېته نه ملتفت کیږی چه‌زه هم گوندې څه‌عیب لرم .بلکه بالعکس هغه کسان چه عقلا ، مفکرین او حکیمان اوسی ؛ هغوته‌تل خپرې څټې اوغاښونه ورنه چیچی !

غیر خلقی دادی چه ماغزه خود اصل نه کـــا مل
او صحیح راغلی وی . په دوی کښې یوزه استعداد پروت
وی ؛ لیکن دانکشاف زمینه ورته نه وی مهیا شوې .
اویا داچه په غلطوا صولوئی تربیه‌شوې وی . او دغه
صحیح استعداد دغلطې تربیې په زورمختنق شوی وی .
ددې علامه داده چه داسې کسان کله کله دخپل دماغ
تیرې ته‌ملتفت کیږی‌اوددغه تور ژور گړنگ ته د کتلو
څخه‌دده په زړه ورهم اوتړ هه‌را ځی کله خپل فکر
دنورو روښن دماغانو دافکارو سره مقایسه کوی؛ او په
دغه وخت کښې حسرت او افسوس کوی ! په‌دې دوا ړو
قسمو کښې داول قسم علاج محال اودد ویم قسم مشکل
دی . دادغسې یومرض دی چه‌څو مریض پخپله د ځان
دروته متو جه نه‌شی په‌مشکله سره د معالج علاج پکښې
اثر کوی .

تنگ نظری عجب مرض دی اوعجیبه خواص لری .
تنگ نظران دعصر په سیلاب کښې نادانسته‌دغسې رغړی

لکه دخوړ تېرزی دسیلاب په مخکښې . دوی روان وی خونه پوهېږی چه کومې خواته روان دی ، دوی وینی چه خوړ روان دی ولې نهرسی چهله کو مه را ځی ، او کومې خواته ځی !

یواځې دانده چه دوی په خپل صبا بیګانه ی خبر بلکه هغه چه څوك په دغه چپو کښې لامبووهی ؛ اویو خوابل خوا دتجسس لاس اچوی دهغو سره همسخت تصادم کوی .

دوی ټولو کائینا تو ته په غټو غټو ګوری ؛ اودا شیاو اوحقائقو په نسبت دوی سره غلط اوخود ساخته تخمینونه وی چه هماغه حقیقت ګڼی اوورباندې کلك ولاړوی !

یخپله دانسانیت دعوی کوی په انسانانو کښې لاندې باندې کېږی اودانسان دفطرت او خلقت په نسبت ددوی سره هیڅ نظریه نهوی . اویاداچه دده خپل غلط ذهنیت وی .

په داسې کسانو کښې دبد بینی ماده زیاته وی ، دوی

اکثرو شیونو ته په کینه ستر گه گوری . اوتمامه‌و رخ
دا گوی‌چه «چت کوزدی چت سم‌دی» اودهغه کسانو
سره چه‌په حیات کښې خه گـول غواړی دوی مشت
و گریوان وی .

دا کسان اکثره داجتماعی نظام سره په اخستلو او
ایښودلو کښې وی – دوی نه غواړی چه‌څه‌دې وشی‌بلکه
غواړی چه هیڅ دې ونه‌شی !

دا بیچاره گان دخپل مریض طبیعت له کبله ټول عمر
په‌عذاب‌وی - یوازې دانه ، بلکه نورعالم همدد وی نه‌په
عذاب اوسی . تمام عمر جگر خونه گرځی ؛ وایی گوره
داخلك دومره کم عقل‌دی . په‌څه شانو وانو سر دی ؛
که‌زما چامنلی ؛ مابه‌دوی ته‌دا ، دا ، ښودلی وی . او چه
سړی ورته غوږ کښیږدی ؛ نو هغه ، هغه خبرې وی چـه
یوازی همدوی ته‌ور باندې خندانه ورځی !

ددی مریضانو شافی علاج دادی چه (۱) دوی دې
په‌ځان زورو کړی اودیوه ، هوښیارو اودانا خلـکو په

صحبت کښې دی ځان شر یك کړی (۲) هغه‌چه‌دوی نه‌وی
لوستی اوددوی دفکر نه برخلاف وی هغه د ې لو لی .
(۳)په‌دې کښې که‌دوی ته‌قهر ور تلو قهر دې ځغمی .او
(٤) په‌سره سینه‌سره‌دې بیا بیا اوپه‌وز گاروو ختونو کښې
په موضوعاتو فکر کوی (٥) که‌ممکنه‌وه دیوې دائرې
نه‌دې بلې اوخه‌زمانه پس ته‌دې‌بلې ته‌شی .او (٦)
دمسلك تبدیل‌دې و کړی .او (۷) که دلاسه‌یی کیده‌څه
زمانه‌دې په مختلفو ممالکو کښې سفر وکړی .(۸)ضمیر
اووجدان دې وپیژنی؛ اوذوق تربیه دې و کړی .

مدنیت اومونږ :

دمدنیت کلمې‌ته ورځ په‌دنیا کښې لاحده زیات
اهمیت موندلی دی ددنیا ټول افراد جوامع اوملل همدا
کوښښ کوی‌چه‌مدنی‌وبلل‌شی - هیڅ فرداوهیڅ جامعه‌دې ته
تیاره نده چه دغیرمدنی (شامر) نوم‌په‌ځان‌قبول کړی!
نن‌ورځ چاته‌شامر (غیرمدنی) ویل‌دومره زوروز کوی

لکه لنړه موده مخکښ بهچه د کافر یادبدینه کړ عیږن
لقب خلکو بدمنلو . که څههم شکر دی ننهم په دنیا کښ
ددین او خصوصاً داسلام ددین پیروان او عقید تمندا ن
شته دی ؛ لیکن زماو ینادا کثریت اوتوري دنیاپه لحاظ ده !

هو ، د مدنیت ، کلمې دنن ورځې و ګروپه زړ داودماغ
داسې طلسم کړی دی ؛ چه دوی هرڅه دلاسه ورکولی شي
مګر دغه ښکلې معشوقه له لاسه نهشی ور کولی !

لکه د تیر وورځو انسان بهچه دنورو قسم قسم اشیا ؤ
اومفهو ماته په مینه کښ سرور کولو؛ او دزړه په شوق سره به یې
دحیات قربانی کوله ؛ دغه رنګ ننني انسان ددغه مفهوم
په مینه او محبت کښ داسې فانی دی چه اوو یته یې نه لګی۔
او ددغه دلفریبه مفهوم په حمایت کښ دځان مال اوهر څه
نه تیر دی !

داخو ددې کلمې عام مقبولیت او محبوبیت دی چه که یو
قوی جماعت یاملت وغواړی چه ځان ته د آغا لقب حاصل
کړی او خپل تسلط اواقتدار په بل چاومنی ؛ او په دغه شان

سره دبل وطن داقتصادی ، ثروتی منابعو څخه استفاده
وکړی ؛ اوور یاغلامان ځان ته پیدا کړی - نو پرته له دي
هیڅ چاره نشته چه ووایی مونږ مدنی یو ؛ اودغه قام غیر
مدنی یا شاړدی - اومونږ غواړو چه دوی ته مدنیت
وښیو !!!

نن ورځ ددنیا لویې لویې هنګامې ؛ اوډېر ډېر
نهضتونه ددغه کلمې دنفسي اثرپه واسطه سره دی ، چه
دټولو بیان زه دلته نه شم کولی - البته بې مبالغې به وی
که ووایم چه دانسانی ټولنې دسمندر مدو جزر ددې
بسیطې کلمې دجذب اوراښکودنې په ذریعه دي !!!

نوراځی چه دغه کلمه لږ ښاغلې سره وشیندو اوو یې
سپړو وګورو چه په دې کښې څه دی ؛ اوواې یې دومره
ډېر اهمیت موندلی دی ؟ !

یو شاعروایی :

« دخلکو خولې دخدای نغاره ده »

هرشی چه دومره عمومیت اومحبوبیت وموهی هغې ته

په‌معمولی ستر گه کتل دانسان په‌خپل حماقت اوناپوهی محمولیږی . نو ښه ! مدنیت ــ یعنی څه ؟ ــ

مدنیت : شهریت ؛ ښاروالي ــ دادري و ایزه کلمی یوه‌معنی لری-یعنی ښار ته منسوبیدل. مدینه :اوشهروالی ښار ته ـ مدنی ؛ شهری ـ یعنی دښار سړی . دلته یوه بله کلمه هم شته چه اکثره د مدنیت سره یوځای خولی ته‌راځی ؛ څه ـ ؟ ـ (تهذیب) ـ دتهذیب معنی ده ـ شایستگی او " ښکلیتوب " . ـ اکثره ویلی‌شی ـ مدنی او مهذب سړی دی . ـ یا ـ هیڅ تهذیب اومدنیت نه لری . ـ یا ـ مثلاً : داروپا تهذیب اومدنیت . اوسنی تهذیب او مدنیت .

دادواړه کلمې‌سره په‌معنی کښ بیخی نږدي‌دی‌مگر څه لږ فرق چه لری هغه دادی چه دمدنیت په عمر انـــی ؛ معاشرتی اواجتماعی امورو ډیر اطلاق کیږی ـ اودتهذیب په‌علمی اخلاقی اوادبی شیونو زیات اطلاق کیدی شی ! کله داسې هم کیږی چه‌یوه کلمه دبلی په‌ځای مستعمله شی ! اویوه ددواړو معنی ور کړی ـ ځکه‌چه کوم فرق

چه مونږ بیان کړو دااعتباری فرقدی ، په خارج اوذهن
نه د باندې دنیا کښې مدنیت اوتهذیب لازم اوملزوم لیدل
کېږی - دښار خلك مهذب وی . یا مهذب خلك په ښار
کښې وی !

اوس نوخبره داده چه دتهذیب اومدنیت په کلـما تو
انسان څنګه شیدادی ؟ -

دحکماؤ اوپوها نورایه ده چه « دانسانی فردتوله پوهه
او کمالات دجماعت داحسان مرهون دی . که دی دجماعت
اوماحول نه زده کړه ونکړی نودی هم دنورو حیوانا تو په شان
یو حیوان دی . »

هوښیارانو تحقیق ته رسولې ده چه انسان په اول
سر کښې دکور کهول ؛ کلی او ښارنه نا اشناؤ ، نو ځکه
دی دعلم ، فن ، اخلاقو اوشایستګی نه عاری ؤ ؛ اوژوند
بې کټ مټ دنورو حیوانا تو په شان ؤ - دغرنو او دهورو
په تېر بدو ، اوددېرو پېړیو داوو ښتورا او وښتو په سبب
بې دخپل همجنس سره ویېژندل ؛ اودیوتر بله فعل وانفعال

او کسب دا کتساب په برکت دنن ورځي طلائي عصر ته راووت .

وايي چه دانسان دهغه حال نه دي حال ته انتقال به همدو مره موده کښي شوی دی ؛ لکه په څو مره کښي چه دهماليه دايورسټ څو که چه د ځمکي د سطحي سره برابره وه او دمعمولی بادو باران په ذريعه تري نور د ځمکه وبهول او ويوړلی شوه ؛ اودغه غريه دغه عظمت او لويي سره تشکيل شو .

وايي چه که انسان اوس هم د جماعت نه ويستل شي او دانسا نانو نه لري په کوم ځنګل کښي لوی شي ، نو بيا به هم دحيوا نا تو څخه يوحيوان وی .

داخبره مونږ ته ډيره بعيده معلوميږي ؛ ليکن ددي تجربه زمونږ په مخکښي پرته ده ـ راځی ؛ يو دښار او يو دليرو او ځانته کلو يو سړی به سره کښينوو او وبه ګورو چه ددوی په افکارو ، احساساتو او تعقلاتو کښي سره څو مره فرق دی ـ ددېنه مونږ هغه حالت قياسولی

شو چه انسان بېخی دانسانی ټولنې نه وتلی لوی شوی وی !

هو ، داهم مونږ وینو چه دکلو او اطرافو سړی لېږه موده په ښار او ټولنه کښې و و سېږی ، دهغه ټول استعدادونه بروز کوی او دکم استعداده ښاریانو نه وړاندې پل ږدی !

نو گویا دنن ورځې ټول هغه څه چه انسان وربانديې دا فخر کوی چه :

برخیز که آدم را هنگام نمود آمد
این مشت غباری را انجم بسجود آمد

دمدنیت ، گهون او ښار والی په برکت سره دی دنن ورځې ټول علوم، فنون ؛ حکمت فلسفه ؛ محیرالعقول ایجادونه او اختراعات ؛ لوی جمعیتونه او تشکیلات ؛ حسن او شایستگی ؛ ادبیات اومستظرفه صنائع داوړه ددغه چینې نه راوتلی دی چه (مدنیت) یې بولی . نو دمدنیت کلمه دانسانیت ټول محتویات په غیږ کښې نیسی ـ او دا

معلومه ده چه سړی دومبی انسان کېږی او وروسته متمدن کېدی شی!

پخوا که هر څه وو هغه به وو. ایلان نن ورځ دمدنیت دا معنی نده چه سړی دې ضرور به تنګو، تیرو کوڅو او متعفنو کوڅو کښې اوسی، دفطرت دټولو مظاهرو دتماشې نه دې بې نصیبه وی اشیاوته دې ګوری که څه هم بې ونه ویني، خبرې دې اوری. که څه هم فکر پرې ونه کړی بلکه دمدنیت معنی داده لکه څه رنګ چه په ښار کښې دکتلو، لیدلو، اوریدلو اواوغوږ باسلو ذریعې ډېرې وی سړی کولی شی چه په لږه موده ډېرې تجربې وکړی، اوډېر څه زده کړی؛ عالم صنعت کار، کتاب، اخبار، او نور دزده کړې اسباب مهیا وی هر رقم شی اوهر رقم خلك موجودوی، دانه کېږی چه یو معمولی شی ته دسړی لوی کار بند پاتې شی او په دې واسطه سره هر استعداد اوفطرت چه سړی یې لری ښکاره کولی یې شی! دغه رنګ که یو سړی په کلو کښې وسیږی،

او هغه ته دغه ټول وسائل ورسپېړي او پلاس ورشي نو دا سړي مدني دی . او دغه کلي کلي نه دی بلکه ښار دی .

نن ورځ دمدنيت د تعميم او انتشار دپاره ښه ښه اسبابونه او ډېر ډېر ذرايع پيدا شوي :

سړکونه ، موټرونه ، گاډي ، ريلونه ؛ تليفونونه ، تلگرافونه راديو گانې ؛ ډاکخانې ، برق ، اخبارونه ، مجلې ، کتابخانې ، ښارونه هوټلونه ، مسجدونه ، شفاخانې مکتبونه ، دارالعلومونه ، انجمنونه ، بانکونه ؛ شرکتونه ، صنعت گاهونه ، ميلې ، سينما گانې ، تفريح گاهونه او داسې نور نور .

دا ټول دمدنيت لوازم او دانسان داستعداد دبروز او عقلي انکشاف دپاره ممد اومعاون شيان دي .

ددغه ذرائعو په واسطه دخلکو په مينځکښې دناستې ولاړې او دافکارو دتبادلې موقعه پيدا کېږي ــ سوء تفاهم او تباعد په ميل او اشنايي بدلېږي ، خلکو ته دتجربو ، زده کړې ، اومعلوماتو حاصلو لوزمينه تيارېږي او په آخره

کښې په ټولو اذهانو کښې یوه نظر یه او په ټولو طبائعو کښې یو کولتور محکمیږی - جګړې ، جنګونه په اتفاق او مشوره تبدیلیږی . او د توحید ملی نقطه لاس ته راځی .

د ټولو حکومتونو اوله وظیفه داده چه په مملکت کښې مدنیت عام او ملت مدنی ګاندي . ځکه چه تهذیب او مدنیت د ټولو خوبیو سر دی ؛ او شاه والی او یا غیتوب د ټولو معائبو بیخ دی ! ! !

دلته نوري ډېرې خبرې د مدنیت په اقسامو او ویش ( لکه مادی او روحانی ) او دده په انتقالاتو او تحولاتو او ځینې معائبو کښې شته ؛ چه د بحث داوږدېدوله ویرې یې نه شو لیکلی . زمونږ ګران وطن هم یخوا ډیر مدنیتونه لیدلی دی : بلخ ، بامیان ، هډه ، ګندارا ، بست ، هرات ، غور ، غزنی په منځنیو پیړیو کښې د ایشیا د مینځ تجارتی ، صنعتی او علمی مرکزونه وو . مدنیت ځمونږ د پلرونه پاتی میراث دی .

سوچه پښتو

## د کوترو کور

دلمر سپینې اوسترګې تتوونکې شغلې مخ په زیږېدو وې؛ شپو رو ورو خپله کرښه ارتوله او دورځو برید به یې په چل چل دخپلې خپړې را لاندې کاوه؛ په سپېڅلې وینا؛ اوړی په تېرېدو او منی په راتلو کښې و.

زه د کابل د ښار د کوز نی خوا په یو داسې ځای کښې اوسېدم چه د کوټو د پاسه کوټه لیا پـه بله ژبه د پوړو نو د پاسه پوړ یې ـ (چه کابلیان ورته دسپو زمی کوټه وایی؛) مخ په نمرخاته، خورا جګه، مخه خلاصه خونه وه؛ زه به د غه خونه کښې چه زما د لیکلو او لوستلو، څېزونه پکښې پراته وو ـ د ګنګېځ له خوا، لیاد مازیګر له پلوه کښېناستم چوټ به مې واهه؛ څـه به مې لیکل لوستل؛ لیا به مې د کوم ملګری، سره خبرې کولې؛ لیا به مې مخامخ دمېنې ښکلو غونډیو، غرو نو،

لیا جگ شین در یاب ته کا ته ! ! !

د کوټې په مخکښې لنړ شـانې غولی و ؛ اپلو دې پلو اوږدې دا گې ولاړې وې ؛ چه دبرېښنا او د غگ مزی ورباندې تېر شوی وو .

دېر زاله به چه زه دلته ناست وم ؛ زما سترگې به په دوه وړو وړو ، سوربخنو ، ښکلو کوترو لگېدې ، چـه کلـه به په دېوالونو ، غمزو جوړه نا ستې وې ، لیـا به په ورو ورو دکوټې د مخه په غولی کښې گرځېدی ، یو زل به بې مـاته کاته اوبیـا به بې په ځمکه ټونـگې وهلې ! کلـه به بې خورا خوند ورې ناري هم کولې او څه به بې ویل !

زما دا دېرې خوښېدلې ، خوهیڅ نه پوهېدم چه ولې ؛ ددوې گـلاایتوب او ښـکلی والی مې ځان ته را کاږی ؛ که دوی په خپل مینځکښې خورا خوږه مینه لری او هغه مې پخسوی ؛ او که دا زما د ننـگیالـیو پښتنو نیـکو نو ساگـانې دی چه داسې د مینې په ډکوستر گوماته گوری ،

اوپه خپله ژبه را ته څه وايي چه زه پرې نه پوهېږم ! ! ؟

په دغه شان ورځې شپې تېرېدې : اوړی تېر شو ، منی شو . اومنی هم لاړ خپل ځای یې ژمی ته پرېښود . خلك دستورو د لاندې ویده کېدونه سیبونو ته شوه ، او لږ وروسته کوټو ته ننواته ، اودسرو د تېری دلاسه داور دبوټی شول !

په شنو پاڼو پټې او خېر ازه وني روممې زېږې او ورپسې لوڅې لغړې شوې . هغه ځایونه چه د هر خيل شينلو او کوکيو په غوږ سکو ښايسته او ښکلي وو سپيره دا ګونه شول ! هغه خوزېدنه اوخيرازه توب چه دژوندد سره تړلی دی ، دو نوغنو ، مرغيو اوساهو څيزونوڅخه ورو ورو لږېدو ، په روستمبال کښې ښکسته پورته هرڅه داسې غلی شوه چه تا به ویل په خوب ویده دی ! وربځو هم د واورو د پاغوند وڅخه ښېرې د کولي او په دوی یې اچولې ، چه څوپې سمه غر ، جګ وتیټ هر څه د خپلې سپینې برستنې لاندې پټ کړه !

په دغه بخنی او سوړژمی کښې چه چرچني زېړانکې، نورانړي، توتکی، او کوکوشتکې تولې تو دوهوا دوته تللې وې، کله کله به ما کاته چه دغه جوړه کوترې به ژ مونږ د کاله په دېوا او نو د یخنی نه ټوغی ناستې وې. او کله به په انګړ کښې ګرځیدې! نوویل به مې «ویش! دوی دا سوړژمی د لته منلی دی، دوی ارو مروژمو نبز دکوره سره څه کلکه اړه لری و یش، دوی به دشپی چیرته کښېنی!»

هروېده وېده نه پاتی کیږی او هر کله چه وی وېښېږی دغه پرسټن چه توری وریځی دځمکی په مخ غورولی وه، دنمر دژوند بښونکی تاواو لاز ښودونکی رڼا په مرسته وغورزېده، دسپاوږمې په وروورو هرڅه له خو به راو ښی کړل! ـ وریځو په خپلو کړوپه کوکا رو کوکا رو وژړل غرونو په خپل بی وخته وېده کېدو دستر ګو نه اښتی وبهول! په دی او بودا ګونه پنه ثوه شنیلی شنه شوه کړ کی ء وغوړیدلی !ـ په ونوغنو کښې دژوند ساوغړ یده، سمه اوغړ

شین بن شوا۔ دښې ورځی هرخوك ملګری دی هغه
تللی مرغی بیر ته‌راغلی، په‌ځالوجوړو لو بوختی‌شو ې اوهر
بن دمر غیو د شخول او چو نهار ځای.شو ! اوس نود
کوتر ویه‌مو نبزد یره‌ویسا پیدا سوې وه‌دوی به‌دمو نبز
سره ډیری نزدی نزدی ګرځیدې ، پوهیدې چه مو نبز
ورته څه نه وایو!

یوه ورځ ګورم چه‌د کوتې دمخه برنده کښ چه یوزوړ
ندی‌زوړ ندوء، کوترې‌وا رپړوارځی د کی‌اوخلی‌راوړی
اویکښ بې زدی یوځو د کی ئی لاندی باندی کښیښو ده
بله ورځ ګورم چه دوه سپینی سپینی هګیء یکښ پر تې
دی په دی دواړو کوتر وکښ یو له‌بله پیپر ند ګلوی په
دی کیدل شوه چه‌دیوی په حخبوره ټکی اویه غاړه کښ
اوزی شانته وه‌او دهغه بلی دانه‌وو ـ زه‌به په‌دی لاره تلم
راتلم لاس به‌می نه‌ور ووړ اویه‌بل څه دوی نه‌تر هیدی
لیده به‌می ، چه‌کله به‌یوه به‌هګیو ناسته وه‌بله به‌تله ځان
به‌ئی مړولو، چه‌دا به‌ستړی‌شوه هغه‌بله به‌راغله دا به‌لاړه

ـ څو ورځې وروسته ئې دوه سره سره ښکلي بچي وايسته
دبچو پالل ئې هم په هغه ډول سره وو، دواړه به وار په وار
تلې شمکې، غنم، او داسې څيزونه به ئې په خولو کښې راوړل
چه مور ليا پلار به ئې راغى، بچيو به ورته وزرونه رپول،
او نرى نرى چو نګهار به ئې کاوه مور يا پلار به د بچى
مښو که په خپلې خولې کښې ننيسته، بيا به يې له جوړې
څخه خوړلى څيزونه را ايسته او ر کول به يې! په پنځلس شل
ورځو کښې بچى غټکى شوه؛ يوه ورځ زه ناست يم دواړه
کوترې راغلې (په دې ورځ ورسره دوه درې نورې کوترې
هم وې.) په زوړندى کښېناستې، بيا والوتې لاړې په دېوال
د نورو کوترو سره کښېناستې. دويم ځل يې بيا داسې وکړه،
په دريم وار يې بچى د ځانه سره والوزول په دېوال يې
کښېنول. چه سړى ورته کتلى، نو ور څرګندېده چه د غه
کوچنو تو کوتر وزر ګوتى په دغه ورځ خومره ښه دى!
تر دې وروسته به هم کله کله په انګړ کښې ګرځيدې،
تونګې به يې وهلې څه به يې انول او بچى به ورپسې وو هغو ته

بهٔیې ورګول ! ترڅو چه پېچی یخپله دګېډی مړولو شوه ، نویې پرېښوده ؛ او دوی بیا په هګیو لګیا شوې !

دوزسمتبا له پورې زه یوه نه ښوم چه خاوند کوم یو دی ؛ او مېړمن کومه یوه ده . دې ؤ بهٔ هر څه په ګډه کول ؛ په دې ؤ کښې یو تربله ځار نې ، او هغه څه چه ملګر تیا پرې ماتېږی نه وو . ددې ؤ به مینځکښې ځینې ډېره مینه وه !- زوز ادیې هم په داسې ډول پاللو چه دخپل وزرشی ، او خپل ځان یخپله وساتی !- تردېرو مودو پوری بهٔ ماددې ؤ ګذران دځینو وګړو د ګذرانه سره تللی ! رښتیا ده چه ځینې وګړی تش د سړیتوب په نامه ویادی ، که سړی وګوری دوی ددېرو بې ژبې ژوو څخه لاندې او ټیټ وی !

# نجات په سه کی دی؟

د نجات په باب چه زه په کومه موقعه کښې او د کوم تقریب په مناسبت قلم پورته کوم د دېنه پخپله معلومېږی چه زما مراد هغه نجات ندې چه گوتم بده و ربسې سر گرز دانه گرځېدو ؛ او نه هغه څه دی چه ځینې اشخاص یې د فطرت په غېږ او خارجی دنیا کښې موندلو نه مایوس شوی دی او د ذهنی دنیا په پټو گوټو نو کښې یې لټوی ، او چه په هر څه یې لاس و لگېږی نو گمان کوی چه همدا دی .

زما مرا د په نجات سره هغه با شرفه ، آزاد او با افتخاره ژوندون دی چه دنیاوی او اخروی ښېگڼې تولې د هغې مرهونې دی په دغه معنی سره فرد او جز یوا ځې او په تنهائی هېڅکله نجات نشی موندلی چه څو د ټولی او کل سره یوځای نه شی او دهغه په ضمن کښې د خپل نفس تکمیل و نه غواړی . څاڅکی که څه هم د صدف غېږې ته ور شی مگر بې د دریاب له پالنې نه مر غلره

کېږي ــ اوپس له‌مرغلري کېدو هم که احساس ولري
نو تل به‌یې ارمان وی چه مرغلره شوم ولې دریاب او
بحر نه شوم ! ! !

نو نجات په‌قومی ژوندون کښې دی ــ لکه ددریاب
دتشکیل دپاره چه‌دبیشماره څاڅکودیوعمومی اواجتماعی
حیات قانون ته ځان سپارل ضروری دی ، دا رنگه د
قومی حیات دحصول دپاره‌هم دفردی مدار جوطی گول
او بین‌الافرادی مرکزته ځان رسول لازم دی ، په‌قومی
حیات کښې فرد دجماعت او جماعت دفرد دپاره کار
کوی . لکه چه‌لاس مړی را اخلی ، ژبه یې اړوی او
غاښونه یې میده کوی . دا خود بدن دپاره ؛ مگر بدن
هم دهمدغې مړی نه هغه کار اخلی چه‌دلاس ، ژبې او
غاښو نو حیات پرې موقوف دی .

که معده غذا هضم کړی خو به دې غرض چه یواځې
خپل حیات وساتی او زړه ددې دپاره حرکت وکړی
چه ځان ته وینه را غونډه کړی ، نو معلومه ده چه‌بدن

فاسد بېږي او هلا کېـږي دنجات دحصول د پاره ټول
افراد بايد دهغه يوغرض او يو نصب العين وخوا ته وځغلي
چه د فرد اوجماعت په مينځکښې دقدر مشترك حيث لري .

دلته ايثار ، فدا کاري او شخصيا تو پرېښو د لو ته
سخت ضرورت دی . سوء ظن ، بې اعتما دی ، او بيلتون
زهر قاتل دی . دايثار او حسن اعتماد برکتو ، چه
اعليحضرت غازی محمد نادرشاه شهيد په سختو مواقعو کښې
دقوم بېړ ی دهلاکت دڅپو نه دنجات غازي ته وايستله!
که همد غه دده خوېونه په مونږ کښې وی اميد دی چه
ډېر ژر به مونږ دقومی ژوند اعلی معيارته ورسېږو !!!
ولې چه بې ددېنه نه څوك ومانديتلی دی او نه تلی شی !!!

# سیلاب

* * *

اوه ! دا څومره تیاره ده ! څومره توره وربخ ده په دې تکنده غرمه کښې دومره تیاره ! – ته به وایې چه د تروږمۍ ما ښام دی ! ! !

د نمر خاته او نمر پرېواته له خوا تورې تورې غونډی غونډی ور پځي . اوه ! څومره په سرعت حرکت کوی ! – رنړا هیڅ نشته ! ! !

* * *

او هو ! غرهار ! دړهار ! سړی به وایی چه ګونډې کوم لوی ښار بمبارد کېږی ! – اوه ! برېښنا ګانې ! داسې ښکاری لکه داور مترو کې ! یا لکه آتشی ښیښې چه په کوم ځای وروول کېږی !

سخت حال دی ! بده ورځ ده ! اوضاع ډېره خرابه معلوم مېږی !

ددي ور يځي د شان سره باران ، زلې ، تندر ، او
سيلاب لازم بريښي ! ! !

* * *

آه د سيلاب مخه ، او دغـه کلي ! دا څوك دی !
دا ولې داسې بېخبره دی ، د لته هيڅوك خو ژېدونکی
نه ښکا ری ، آوازونه ــ نه اور بده کېږی ؛ دا ولې ؟ ــ
د خدای د پاره ـ دوی ويده دی او که مړه ؟ ! !

دغه دی سيـلا ب را ځی ، دغـه يې مخه ده ، ټول
به يوسی ، آه ، په دوی کښې به ما شومـان وی ، ښځې
به وی ، ښکلې ښکلې نازينا ن به وی ، دا ر ماندونو او
آرزوگانو ډك زړونه به وی ـ ټـول به يـوسی ! آه ،
بر باد به شي ! ! !

* * *

هلی ، ويښ يې کړی ، ور غبر کړی چه پاڅی ، څـه
چـاره وکړی ! دومره غفلت ! ــ دا غرمه او دا د ر وند
خوب ! ! ــ آه ، دا ټول ويده دی ! ــ ټول ويده دی ؟!!

فرض کړو چه څو مره غر یږي ، هغو مره نه وریږي . توره وېرول کوی او سپینه ور ول کوی . څو مره چه وایی هغو مره نه خیږي . مګر بیا هم – په لو ړو غرونو خو باران کیږي ؛ واوري وریږي ؛ او ددې نتیجه سیلاب وی . هر کله چه وی دا سیلاب به را شی او ټول به یو سی ! ! !

* * *

دا – چه « د سیلاب مخه چانیولې ده . سیند ونه چا بند کړی دی . بل ځای هم نشته او نه د تېښتې لار – چه څه وی هغه به وی . » بې همتی ده !

* * *

سیلاب خو د کلکو ګټا نو او سختو تږو سره لګیږي مګر ډډه تري کوی ! – د انسان عزم ، همت او اراده د زمانې د سیلاب مخه لاهم ګر زوی . پاتی لا د باران سیلاب ؛ او اسمان تل د همتنا کو دارادې به موا فق حرکت کوی ! ! !

# په نننۍ دنیا کې د فکر قیمت

دنن دنیا مادی دنیا ده په همدې سبب زیاتره کسان تولو کارونو او مسائلو ته د مادی خوا څخه ګوري، او د مادیاتو سره ډېر اړ وي. سره ددې چه په نړۍ کښې نورې داسې مسئلې هم شته دي چه په وارو وارو یې له مادی مسئلو څخه ارزښت او اهمیت ډېر دی. له دې موضوعاتو څخه یوه موضوع د فکر د ارزښت موضوع ده.

په دې کښې خو هیڅ شك نشته دی، چه شته او دولت د انسانانو د ژوند د لوازمو څخه دی. او د ژوندانه ډېرې وسیلې لکه د کور او کلي وښارونو ودانول د مځکو جوړول او د اسبابو برابرول په پیسو باندې برابرېږي. مګر کله چې خوا ورته وګورو، پیسې هم د فکر په زور پیدا کیږي او بیا یې ښېګڼې د انسانانو دپاره ښکاره کوي. د دې څخه پرته د روښانه او ښو فکرونو خاوندان د نورو کسانو څخه

زیات خپل ځان اومینی او مملکت ته گټه او فائده رسولی شي.

که چیري مونږ وغواړو چه دفکراوزښت دمال اوشتو په مقابل کښې وسنجوو نوناچاره یوچه دیوهانومختر عینو او د بشریت داوړ تیادسر کښو کسانو دژوندانه تاریخ ته وگورو ، اودهغوی لوړ خدمتونه دمدنیت دلوړتیا په لاره کښې راپه زړه کړو.

وایي . یوچا دیوه لوی عالم څخه پوښتنه وکړه چه آیامال او شته دبشر د ژوندانه داوضاعو په ښه والی کښې ډیر تاثیر لري او که دیوه عالم فکر؟ هغه عالم په ځواب کښې ورته وویل چه دیوه عالم دیوه . فکر سلمه برخه د ډیر دولت څخه چه په بده لار کښې ولگول شي ډیره فائده لري .

په دي کښې خو هیچ شك نشته چه دبشر دپیدایښت د ورځي څخه بیاتر اوسه پوري مادی او معنوی وسیلي یعني مال اوفکر دواړه اوږه په اوږه ددي لوړ مقصد

دپاره په کار لویدلی دی او دغه نن ورځینې مدنیت هم ددوارو په زور پیدا شویدی او هغه کسان چه دهر شی ځنې زیات مادی وسیلو ته اهمیت ورکوی دفکر دقوت او دبشر د ترقیو د سرچینی ځنې ناخبره دی .
که دبشر ژوندون تجربه کړو اوپه ځیر پکښي وګورو وبه وینو چه اول ځلي چه بشر دنورو ټولوموجوداتو بلکه ملائکو ځنې لوړي درجې ته وختلو سبب یې بس دده فکرونه نورڅه ؟ آیا سره ددې هم په دې خبره کښ چه ( فکر له مال څخه دبشرد لوړتیا په لاره کښ ډیر خدمت کړی دی ) څه دنه ، او نوځای شته دی ؟ .
داوو پا دنن ورځینی مدنیت په پیدا کولو کښ چه څه خدمت شوی ترټولو لوړه برخه یې ددنیا لویو علمی او ادبی ټولنو کړی ده ، او دروښانه فکر خاوندانو دبشریت لاره بدله کړې اودمقصد په لوري روان کړیدی .
دامریکا دیوه پخوانی جمهور مشرپه وخت کښ دفکر دخاوندانو اوپو هانو څخه یوه لویه ټولنه جوړه شوه

اودمختر عينو دفكرونو دلوړتيا او وړاندې تګ دپاره يې ډيره موده خبرې اترې سره وکړې اوپه آخره کښې دټولنې هريوه دخپلې کيڅې ځنې بوڅه پيسې وا چو لې چه دفکرونو دروښانو لوپه لاره کښې ولګو لی شی .

څه مو ده تيره نه شوه چه دهغو کسانو شمېر چه په دې ټولنه کښې وواو دمختر عينو دکار په وړاندی تګ کښې يې زيارا يستلو اودکار وسيلې يې ورته برابر ولې ډير شو . اوهر يو ددې کار دپاره ترخپلې وسې پورې بوڅه پيسې پخپل ځان ومنلې . د دې اقدام په آخره کښې ډيرې پيسې غونډې اوپوځاى شوې ، اودمختر عينو سره يې ډيره مرسته وکړه . ددې په مقابل کښې هغوى هم په ډيره مينه اوواژو متودښو مسئلو په څيړنو اوپلټنو باندې پيل وکړو .

دننني عصر دښيګڼو څخه يوه داده چه فکر اومال ديوه اوبل سره مرسته کوى . اوديوه اوبل په مرسته دانسان دترقی دلارې موانع ور کوی .

یوه ورځ وه چه دمعلوماتو دائیره ډیره تنګه وه او هرچا دخپل وخت د مختلفو علومو څخه ګټه نه شوه کولی او هغه کسان هم چه دخپل وخت دعلومو څخه یې څه نه څه استفاده کولی شوه هغوی دمادی وسیلو له خوا په زحمت کښې وو .

یوه تن لیکوونکي دډیرو کالونو یاراو زحمتخنې وروسته یو کتاب تالیف کاوه خوددې له پاره چه څونسخې یې ولیکي اویوه او بل ته یې ورو لیږی پیسې یې نه درلودې اوپه دې واسطه به ډیر په زحمت کښې لویدلو ، مګر نن ورځ څرنګه چه یوتن لیکوونکی و غواړی چه یو کتاب ولیکي اوپخپل فکر کښې یې نقشهواچوی ، په ډیرو موسسو ورته تیاریږی چه هغه تا تألیف کتاب یې چه دلیکوونکی دفکر خنې یې پرته نور هیڅ اثر نشته وپیری ، او لیکوونکي ته ئې ډیرې پیسې ورکاندې .

یوتن مخترع څرنګه چه یوه څیزاوډ کوټې اختراع وکوی ، دهرې خواځنې به لیولیوسره اوسیپین زرونو باندې

ور تو یږی او دغه وړ کوټی فکرېي په خورا زیات قیمت پیری .

په پخوا زمانو کښې مختر عین او لیکو نکی ناچاره و وچه د تیاری په کنج کښې کښینی او پوا ځې ژوند تیر کا ندې مګر نن ورځ داسې نده نن مختر عین او لیکو نکی په لوړو او ښا ئسته ما نیو کښې دخپلوا نوا ودوستانو سره ژوند تیر وی او دیوه او بل په مرسته دخپلې لارې بند شو نهاو مشکلات ور کوی .

نن ورځ دفکر ارزښت او اهمیت هرچا ته ښکاره شوی او پوهان او لیکو نکی دخپلې بدبختی څخه دنا لښت ځا ی نه شی پیدا کولې ځکه دیوې خوا څخه دمادې وسیلو وړاندې تګ او دبلې خوا څخه دخلقو عقلی او فکری ترقیو دفکر او فکری شیانو اهمیت او ارزښت په ښه ښان ثابت کړیدی . نن ورځ معنویات هم قدر من لری او دهغو کسانو د احتیاجو دوور کړ او دپاره چه خپل عمر دعلم او ادب دلوړ تیا په لاره کښې لګوی ددنیا په ټولو ځایو کښې خورا ښه او لوړ اقدا مونه کیږی .

توبناپر دي ویل کیدلی شیچه‌ئن ورځ ادیبان اولیکوونکی اومخترعین دهر وخت څخه زیات دخپلو عقلی کارو څخه استفاده کوی. په پخوانیو زمانو کښې بوتن لیکوونکی اویامؤلف یامخترع ناچاره وچه دخپل کار تول لوازم اوضرور یات پخپله برابر اوغونډ کاندي اوهیچاله هیڅ لوری څخه مرسته‌ورسره نه کوله‌مګر ننورځ تول هغه کسان‌چه فکری کارونه لری‌دنورو دلویه شان په‌رازراز وسیلو تشو یق او ترغیب کیږی ، او بیله‌دي چه‌بل چاته و ګوری د کار تولې وسیلې‌یې ورته غونډې شوې‌وی .

په‌همدی‌سبب ! هغه کسان‌چه‌یه بوه‌فن کښې بوهنداو لیاقت لری باید زیار وباسی چه هغه‌خپل لیاقت بنکاره کاندی ددې لپاره چه‌هم پخپله استفاده‌ځنې وکوی او هم‌نورو ته فائده ورسوی او په‌عین‌حال کښې باید شکر هم وباسی چه‌په داسې قدرمنه زمانه کښې پیدا شویدی .

دغه دبشر دیوه‌تن دیوره استعداداولوړفکر دوظیفی دادا کولو خوارابنه لاره‌ده .

# استقلال او ازادی

و گوری دغه ورځې وړې مرغی څومره خوشاله دی ـ دوی پخپله خوښه سره جوړه غوره کوی . په اتفاق سره دجالی ځای خوښوی جاله جوړوی !ـ بچی پـکښې اچوی . په مینه او محبت بې پالی . ـ

په خپله خوښه سباله وخته پاڅیږی . دونو په ڼریو ڼریو لښتو دپانو په مینځکښې دخپلې جالې سره دبچو په خوا کښې ناستې وی . اوپه خوږو خوږو نغمواو اوازونو ښې سامعه نوازی کوی . ـ

دوی څومره په بشاشت سره اخواد بخواالوزی . په پټو کښې وا ړه واړه او جلت جلت تو یونه وهی ـ اودځان او د بچیو دخوراك دپاره کوښښ کوی !ـ

رښتیاچه دوی ډیرې خوشحا له دی ـ اوداځکه چه ازادې دی ! دغه دزانو سیلونه گوری چه په مني ښکـته او په پسرلی پورته ځی . ـ

دوی ثومره مسعودي دی ؛ يخنی په ئودو اوگرمی پهيخوابل بندو تېروی ، دوی ثو مره ښکلی ښکلی قطارونه جوړوی یوه پخپله خوښه دلاري مشره کاندی؛ اونوري ټولې وريسې ځی ، که هغه ستړي شی ؛ یالا رهغلطه کاندي نوزر بلهوړاندي شی -

دوی پهخپل ژوند کښې څومره ښهنظام اری ؟- څه خوږحیات تېروی ؟ دژانهولوی اوی سیلونهپههوا تیریږی . ښایسته ښایسته ناري وهی !- وایهواړه کوچنیان ورته له کوره راوځی ؛ اوورڅخه دسرږززو کټوری غواړی !- اودهرېوه پهزړه کښې تیریږی : کاشکیچهزه زانهوی- اویه دغه سیل کښې الوتی !

هو ' دوی ډېري مسعودي دی ؛ اوداڅکه چهدخپلې خوښې دی !!!

* * *

دښمنې قضايخې يخې ربنی چهسهار دوخته را الوزی ؛ ثومره نیکبختي دی !ــ دسبایه خو شگواره وخت کښې

په‌لوړو ژورو پرزی ولاړ ښزی ؛ دګلانو په رنګارنګ چمنو ورووړو ګذر کوی د کوکیو خوشبوئی اخلی ښه ښزی- اودغه ګل بدنو قرمزی شونډې او ګلالی انګی مچی کوی ؛ چه‌په سره‌سالو کښې دبام‌پسر ځانګې و انګې پرتې‌وی !- هغه‌چه زرګونه‌زړونه ددوی‌دوصل په‌آرزو دشوې دپانو پشان رپیږی !!!

صحیح ده‌چه دار بڼې د پرې نیکبختې‌دی ؛ اودا ځکه چه‌په خپل اختیار دی !!!

دسیند ماهیان چه‌دسیند په‌هر ه خوا کښې ګرځی‌څومره دژوندانه دمزې څخه محظوظ دی ؟- په‌ژورو او شنـو د نډونو - کښې ' چه‌ته‌به وایې وېلې کړې فیروزې دی ؛ په‌تېزو چړونو کښې‌چه اوبه‌یه شوق اومستیء سره ښکته پورته کېږی اونغمې کوی : په‌جګوجګو اېشارونو کښې چه‌اوبه دسیالې نقرې په‌څیر زېب کوی !- هرچېری‌چه وغواړی ځی‌اودانګونه وهی !- تولې تولی جوړ وی - څیرې څیری روان‌وی . دخپلې سینې اووز رونویه‌زور

ددرباب زړه څیروی . اوچه خوښه‌یی وی‌هلته اوسی دوی دژوندانه څخه‌یوړه خونداخلی ، اوداځکه چه‌یه‌خپل واك‌دی ! ! !

نوای ازادی ! ای‌استقلاله ! هوښیږ تاپیژنو - تـه‌یـی ژوند اود ژوندانه محصول ! -

بې‌له تاژوند - یو لفظ دی ، چه‌معنی نه لری ! -

یا - درسام مړه‌ده چه‌نه‌بوی لری او نه خوند ! -

# ویده ماشوم

مازیگر لمر په غر غره دی ؛ دانګړ په مینځکښې ؛ د ګلانو د کیاریو په غاړه ؛ وړوکی ماشوم په اوبو بخت دی ؛ په لمن کښې خاورې اخلی له یوه ځایه یې بل ته وړی ؛ او هلته یې غونډوی ! ! !

مور د کاله په کار اخته ده ؛ په ډېره بېړه لګیا ده ، کالی کوندی سنبا لوی ؛ ځکه چه ماښام دی ؛ اوو خت ناوخته دی !

د کار په مینځکښې یې چه پام شی نوغږ کړی چه «زړګیه څه کوی؟! راځه ناوخته دی ! ـ هله ځاردې شم !!!»

ماشوم په خپله نیمګې او خوږه ژبه وایی: «ډوډوډیکه کم !»

مور: « څه کوې ؟ ! »

ماشوم: « ډوډوډیکه کم ! » ـ یعنی « ډوډۍ پخوم ! »

مور د کاله په کار و بخته او ماشوم په خپلو لوبو بخت دی !

وړې وړې مرغۍ چه په کیاریو کښې تو یو نه وهل -
خو شحاله خو شحاله او جلتې جلتې گرځېدې ، یوه یوه
والو ته ، او تو لې خپلو بچیو او ځالیو ته لاړې !

وخت تېرېږی : نمر ولوېد ، له شکیه تیاره راپورته
او دځمکې په مخ راخوره شوه ، د آسمان په شنه او نامحدوده
فضا کښې ځای په ځای ستوری را ښکاره شول !

مور ، چه د کتار دبیرې نه خلاصه شوه ، دځانه سره
یې وویل ! « آه ، ماښام دی - تیرغونې شوه ، بچې مې
هلته لوږې کوی ! - آه ، زماهیر شویدی ! »

ورغله : څه گوری - : ماشوم دخاورونه وړې وړې
او پلنې پلنې دویکنی جوړې کړیدی !

خرپېر پروت دی ، چه ستړی شویدی ، په خاورو کښې
یې سرایښی دی ، او دخوب دقاصدانو لاس ته یې ځان
سپارلی دی !!!

دماښام په خړه تیاره کښې مور دخپل ماشوم سر ته

ولاړه ده ؛ زړه يې د دوعالم ترحم اورقت نه ډك دی ؛ اوچرت وړي ده !

ــ : « هو ، دژوندانه مثال همدادی !

مونږ په خپل ژوند کښې همدغسې په خاورو اوبې کوو! ـ په دغه لوبو اخته اوسو چه دمرګ دروند خوب په مونږ خپل چپاورا وړی اوبل عالم ته مو بوزی !!!

مګر ـ آه ـ څومره خوږې دی دا لوبې ! ـ

او څومره خوند وردی داخوب ـ چه په خپله خوښه او آزادۍ سره وی !!! ــ »

# استعداد

په دې بيان کښې زه غواړم چه تاسو ته دهغې خبرې جواب ووايم چه تاسو يې اکثره يو تر بله پوښتنۍ، او چا تاسو ته پوره جواب ندی درکړی !

ښه نو، داخبره څه ده، چه ټول عمر يکښې ستاسو سوداده، او هيچا ستاسو دا سودا نده ايستلې ؟ - غوږ کيږدیء، زه يې درته وايم : مونږ او تاسو ټول عمر په دېکښې اريان يو، چه داڅه سبب دی چه داپرنګيان دو مره هوښياران دی چه داسې ښه ښه څيزونه جوړوی ؛ اورنګا رنګ حکمتونه را وباسی ؛ اومونږ او تاسو يوهم نه شو جوړ ولای ! جوړول يې لاڅه کوی، ور باندې پوهيږو هم نه !-

زمونږ هرسړی چه په موټريا - اورګادی کښې سوريږی ؛ يا - هوائی جهاز ګوری ؛ يا - په آبګړې کښې کښيني ؛ يا - د ګنډلو اوليکلو ماشين وينی ؛ يا - د تيلفون،

راديـو، او تلگراف خبري اوري؛ ساېي داسې نوري نوري دحکمت خبري غوږونو ته رسېږي؛ نو بووار خو ضرور اريانيږي، چه دا ځنگه کيږونه دي؛ دا به چاجوړ کړي وي؛ او ځنگه به يې جوړ کړي وي؛ او دوي يې ولې جوړولای شي؛ اومونږ يې نه شو جوړولای ؟! —

داسو دا گاني زمونږ او ستاسو د هر يو مزره ته راغلي دي؛ په اوله کښې خو يو د بل نه پوښتنې هم وکړو؛ خو چه پوره جـواب وانورو؛ نو پــه آ خــره کــښې غـلي شو؛ اوسو دامو ونه روځي!

لوي سړي خو لا پر بېږده؛ واړه هلكان او نجوني هم چه دا عجيبه شيونه وگوري؛ او يا داسې د اريانتيا خبري واوري؛ نو پوښتنې کوي؛ او داپوښتنې اکثره د ميندو څخه وي — دوي وايي:

«ادي جانې، دا شيونه څوك جوړوي ؟!»— نو ميند ې ورته وايي:

«بچيه، پرنگيان يې جوړوي!» — مگر په دې جواب

باندې د ورو زړه کلــه صبر یږي ؛ دسټی ور پسې دا پوښتنه کوی ، چه :

« ادې ، موږ ېې نوولی ته شو جوړو لای ؟ ! » - پهدې وخت کښې نو که موږ کم عقله وی ، او دا طفا لو یه پا لنه نه پوهیږی ، نو دهغې جواب داوی :

« پر یږده فلانیه ! څوم ره دیرې پوښتنې کوې ، کاتیه دې کړو ! » - او که موږ لیږه هوښیاره وی ، او پوهیږ ې چه دما شو مانو دا پوښتنې دیر ښه کار دی ، او په هره خبره باید د وی ته پو مطلب وښود ل شي ! نو داموږ ، ورته داقصه راواخلی ، چه :

« خو یه ، پر نسکیانو دا تو ل حکمتو نه دمسلمانانو څخه زده کړیدی ؛ په مسلما نانو کښې پخوا پخوا یو سړی و ، لقمان حکیم بې باله ، هغه داټول شیو نه لیکلی دی ؛ او هغه کتابونهددوی لاس ته ورغلی دی . دوی داټولې خبرې دهغه کتابو نو څخه اخــتی دی . »

خینې میندې لا داقصه هم کوی ، چه :

« په یوځای کښې یولوی دریاب دی ؛ ددې دریاب په مینځکښې یوبرج ولاړدی ؛ دبرج نه هرې خواته اوبه په ډېرې تېزۍ سره بهېږی ؛ ددې برج په دېوالونو دلقمان حکیم صاحب خبرې لیکلې دی ؛ دې برج ته هیڅوك نه شی ورتلای ؛ — نوپرنګیان څه چل کوی ؟ —

دوی په کښتی کښې سواره شی ؛ او کښتئی ددې برج خواته را برېږدی ؛ چه نزدې ورته راشی ؛ دو ی سره داخکلواوړوغوندې یونرم شی وی ؛ هغه شی به دی دېوال ووهی ، او بېرته یې راواخلی . په دېوال چه هرڅه لیکلی وی هغه په دغه نرم شی ولیکلی شی . دوی بیا هغه لولی ؛ او عقل ورنه زده کوی ! »

داسې قصې به تاسو ټولو اورېدلې وی . ووړکی چه دا خبرې وا وری ؛ نونور خونه پوهېږی ؛ وایی رښتیا همدغسی ده مګر بیایی هم په زړه کښې دا خبره پاتې شی چه دا دریاب اودابرج به چېرته وی . کاشکې چه دې برج ته سړی ورغلی وی ! —

ځینې له دغه اطفالو څخه چه انزه زیاته پوهه لري
چه لوی شی ، او کتابونه او لولي ، نو هماغه زور کوتلوالی
خبرې یې په غوږ کښې وی ؛ نو کتابونه ورپسې اتوی
یاد استاذانو نه پوښتنې کوي . ولې سره ددې یې هم نه
په کتاب کښې سه داووځی؛ او نه ورته استاذان داسې څه ووایي
چه زړه یې ورباندې او به وسکي ! — په آخره کښې خو
دده یام نه وی ؛ مګر دا یې په زړه کښې تینګه شي چه ددې
تولو خبرو سبب دادی چه " د پرنګیانو عقل زیات دی ،
او زمونږ کم دی ! " —

اوس زمونږ دا کشرو خلکه په مغزو کښې همدغه خبره
ناسته ده . او دی خبري د ځینو په مغزو کښې تردی حده
تینګ ځای نیولی دی چه چاته پکښې د خبرو کولو حق هم
نه ورکوي . پرنګیان هم چه زمونږ په دې فکرپو شویدی
هغوی زمونږ د کم عقلتوب د باره پوبلا دلیلونه راایستلی
دی ، او په کتابونو کښې ئې لیکلی دی .

که رښتیا مې پوښتې ؛ نو زمونږ د کمبختی او تیتوالی

لوی سبب همدادی چه مونږ خپل ځانونه ټيټ او کم عقل گڼلی دی :- په سړی چه ووائی چه زه دفلانی څخه کم عقل يم ، نو دی بيا دهغه سره دځان دسمو اوکو ښښ نه کوی نوچه سړی کوښښ نه کوی ؛ نوکه هوشيار وی هم کم عقل شی !- دغه خيال دی چه نن ورځ بې دټول مشرق زمين او خصوصاً دمسلمانانو په دماغو نوپرده اچولې ده او دکاره يې غورزولی دی ! مگر په اصل کښې داخبره چوري غلطی دی اصله خبره داده چه داټول کارونه چه شويدی يا کيږی -بنيادم يې کوی په بنيادمانو کښې هم هر بنيادم نه ، داستعداد خاوندان يې کوی !- دمشرق او مغرب ، يا - دمسلمانانو اوپرنگيانو په استعداد دکښې دوم ره لوی فرق نشته چه دوی گوندی په اصل کښې دغومره لوړ او پورته پيدا شويدی او مونږ دومره ټيټ او لاندی يو که مونږ ټول دهغوی تولو په مقابل کښې ځانونه شمېرو ، نوداف رق ادو شته دی نه ! هو دسړو او افرادو په عقل او استعداد کښې چه په خپل مينځکښې بې سره واخلو ؛ تفاوت شته دی . په دی صورت کښې لـله

پەدوی کښې چه هوښیار او کم‌عقل شته‌دی، هغسې‌موښږ هم یو :ــ دافرادو او اشخاصو عقل اواستعداد سره برابراو یو شان ندی هر سړی اوهر شخص ځانته استعداد لری مثلا دیوه سړی په معماری‌ء ښه فکر رسیږی، دبل په آهنگری، دیوبل په ترکاڼی !ــ یوسړی د دهقانی سره ښه تناسب لری، بل دجولا ګری سره، او یوبل دنقاشیء سره‌همدا رنګه‌یوسړی ښه‌شاعر اوادیب کیدی شی!ــ بل سړی ښه سیاست دان کېدی شی، اویوبل ښه حکیم‌او فلسفی کېدی شی، ــ مګر دا هیڅکله نه شی کیدی چه‌یو سړی‌هم‌ښه‌عسکر، هم‌ښه ادیب، هم ښه سیاست دان، اوهم ښه فلسفی شی !ــ پەدی ځای کښې ستاسو په زړو نو کښې ضرور دا خبری تیریږی چه ښه‌نو !

(۱) ــ استعداد څه‌شی دی ؟

(۲) — موښږ څنګه‌معلوم‌ولای‌شو چه کوم سړی دکوم شی استعداد لری ؟

(۳) ــ هر کله‌چه زموښږ اودیورپ (مغرب‌زمین) دخلکو

پهاستعداد کښې فرق نشته نو کسر په کوم ځای کښې دی ؟- راځی داخبرې بهزه تاسو ته ښې وڅېړم ، غوږ کېږدیء اول دا وایم چه استعداد څه شی دی ؟ ــ دمثال په ډول یوه دغنم دانه واخلیء کهدی دانې تهمناسب تو دوالی، رطوبت ، خاوره ، هوا ، او رڼا ورسیږی ، ـ نودا دانه زر غونیږی . پس له زرغونېدو کههمدغه اسباب مهیا وی اوبدانع نهوی ، نولو یږی او ثمری ته رسیږی . نودادانه دنشته کېدو اولوئېد واستعداد لری او که خداشی یابې چینجیووهی نو دا استعداد ضایع کیږی اوبیا نهزرغونیږی!

دوهم ــ یوه خمکه واخلیء ، چه که غنم پکښې وکرلی شی، ښه کیږی او که جوار پکښې و کرلی شی نو نه کیږی نوداځمکهدغنمو دښنه کېدواستعدادلری اودجوارونهلری

دریم ــ په للمی ځمکه کښې غنم یوه لوپشت ونه کوی اوپه آوی ښهځمکه کښ نزدی گزیونیم گزته رسیږی— نو دادغنمو استعداد دی چه د یوې لویشتې نه دیونیم گز پورې لوییږی ـ مگر په هیڅ صورت دجوارو

قدر نه کیږي ځکه چه دا استعداد نه لري په دغه شان سره د هر شي دپاره بیل بیل استعداد وي دی انسان هم دغسې دی : - یو طفل چه دمور نه وځیږي ' دی دځانه سره ډیر استعدادونه راوړي . یو دجوړ تیا او تند رستۍ استعداد دی بل دعقل او یو هم استعداد دی دا دواړه بیا په خپل مینځکښې . یش او تقسیمونه لري مثلا دصحت په خوا کښې یو طفل داوږدو استعداد ډیر لري هغه ښه اوږدیږي او دنګ سړی جوړیږي بل دچاغیدو استعداد ډیر لري دی ښه چاغیږي یو د پهلوان کیدو استعداد لري هغه پهلوان کیږي بل بیا داسې وي چه اوږد 'چاغ ' او پهلوان جوړیدی شي ' هغه هغسې کیږي !- دعقل په خوا کښې هم لکه چه وموویل یو اصل کښې ځوک شاعر ځوك ادیب ' ځوك ' صنعت کار ' ځوك ښه حاکم او مدبر ځوك د فکر او ژ دو نظریاتو خاوندوي . نو چه موانع ورپیښ نه شي او شرائط موجود شي نو هم دغه کمال ته رسیږي .

مولانای روم دغه استعدا ونه ته اشارت کړیدی چه ویلی یې دی :

« هر کسی را بهر کاري ساختند ! »

مونږ پخوا ویلی دی چه هر استعداد شرائط لري که دغه میسر شي نو استعداد ظهور کوی اوخپل کمال ته رسیږی . او که میسر نشول نو استعداد ضایع کیږی . او که په شرائطو کښې نقص راغی ، نو په کمال کښې نقص پیښیږی :-

فرض کړو یو طفل دروغتیا ښه استعداد لري ؛ نو که ده ته ښه غذا ورنکړی شي ؛ ورزش ته پرې نښو دل شي ؛ د مرضونو جلوګیری ورنه ونه شي ، او ښه ونه روزل شي نو په آخره کښې ضعیف ، ناتوانه او کمزوری لوئیږی .

دارنګه یو کوچنی چه د نطاقيء او فصاحت ښه استعداد لری که ده ته دخبرو کولو او بیان موقعه ورنکړی شی ؛ نو ګوز موز شی . یا یې ژبه کړکیچو پاتې شی .

همدغسې یو کوچنی چه دعلم او ادب ښه استعداد لری ؛

که دی مکتب ته وانه چول شی ! او یا ـ ښه تعلیم په لاس ورانشی ؛ نونالوستی او کم فکره پاتې شی !

همدغه شان یو هلك چه د صنعت او جوړ واو ښه استعداد لري ؛ نو که ده ته د ښه تعلیم او په بوه ښه کار خانه کښې د مطالعې او کتلو او مشق کولو وخت په لاس ورنشی ؛ نو په پای کښې دده او د یو بې استعداده سړی په مینځکښې هیڅ فرق نه شی کاوه !ـ

دیو رته مثالونو څخه به تاسو د " استعداد » معنی پیژندلی وی او که نه موو، پیژندلې ؛ نو دغه دی زه یې درته وایم : "استعداد هغه پټ قوت دی چه د وجود او کمال شرطونه یې تکمیل شی ؛ نو بروز کوی او کمال ته رسیږی . »

دو بمه خبره دا ده چه څنګه به معلوم وو چه کوم سړی د کوم شی استعداد لری ؟ـ ددې جواب دادی چه هر استعداد یخپله خپلې علامې ښکاره کوی ؛ که څوك یې وپیژنی ، او زمینه ورته تهیه نه کاندې نو بیر ته مضمحل کیږی . او ورکیږی . که تاسو یخپله خپلو کوچنیانو او وړوته

ځیرشيء اوددوی په طبیعی خواهشونو کښې ډېره مداخله و نکړیءنودر معلومه به‌شی ، چه هر یو طفل یوې خواته زیات میلان ښکاره کوی . اودهر طفل میلانات دبل نه جدا دی . او همدغه دېتو استعدادو علامې دی . دااستعداد معلومو لو وظیفه زیاته دیا لو نکې ، استاذ او مکتب په غاړه ده .

دریم سوال داوچه هر کله زمونږ او دېر نکیانو په اصلی استعداد کښې فرق نشته ، نو کسر په کوم ځای کښې دی ؟ — ددې جواب دادی چه ترټولومهم اوضروری شيءچه تولې ترقۍ دهغې پورې اړه لری . هغه استعداد معلومول او دهغه پاللدی .

ترقی دهما غه قومو نو په نصیب کیږي چه هغوی استعداد معلو مو لی شی ؛ او پس له معلومو لو او پېژندلو څخه یې روزلی اوپا للی شی !

زمونږخبرې په‌هوائی‌جهاز،رادیو،او دغسی‌نورو شیونو کښې وي . دا شیونه داسې ندی چه یا بوسړی جوړ کړی دی

او - یایه یوزل جوړ شویدی . عمرونه عمرونه یه‌دې شیونه کښې فکر شویدی ، او ډېرو کسانو پکښې کار کړیدی ؛ یونې یوشی ، او بل بې بل شی جوړ کړیدی . په‌اوله کښې بې ډېر نقصانونه لرل . دانقصانونه ورنه‌ورو ورو اصلاح شویدی او په آخره کښې دغه جهاز یا - را دیو جوړه‌شویده چه مو نیې وینو .

په‌مونږ او تـاسو کښې هم دغه استعداد شته دی چه‌دا شیونه جوړ کړو یاددې په څېر اختراعات‌وکړو . په دې شرط که مونږ داشخـا صو استعددو نه وبېژنو ، او دغه استعداد ونه وروزو . اومخه‌ور کړو یه مونږ اوتاسو کښې هم افلا طون اوارسطو ؛ بیکن‌او ډیکاوټ پیدا شو یدی ؛ مګر دهغو استعداد ونومخه نده موندلې ، اودخاورو سره خاورې شویدی !

دغه‌سړی چه‌جوالی ګری کوی ، یادغه‌سړی چه په غرونو کښې رمه‌ییایی ؛ یا ـدغه حٔلمی چه‌بې له‌یوه کاره یوخوا اوبل خوا ګرځی ؛ یا ـ دغه بې موروبې پلاره ووړ کی چه

دسوال لاس ستااو زمامخې تهاوزدوی ـ څوك خبردی چه دا دډېرلوی استعداد خاوندان ندی . اوڅوك ویلی شی چه که دوی ته اساسی تعلیماو تربیتور کړی شی ؛ نودار سطو اودیکارټ ځای ته به ونه رسیږی ؟ ! ـ

نن ورځ چه پر نگیان له مونږه پورته دی ؛ په عقل او استعداد کښې ندی . بلکه په همدغه دوه شیونو کښې له مونږه پورته دی چه هغهاستعداد پیژندل اودهغه پالل اوکمال ته رسول دی !

اوس نو که تاسوداستعداد پاللو ، اوددې داسبابو په باب دمانه پوښتنه کوی . نوښه ده کنه ؛ په بل مجلس کښې به په دې باب کښې تاسوسره خبرې وکړم ! که خدای کول دستی دخدای پامان !

# دپشتونولی روح

انسان یو عجب مخلوق دی ـ دعالم اسرار خو تر یوې اندازې پورې معلوم شوه ، مگر دایته خزانه لا همغسې سر مهره پر ته ده .

دده دحالاتو څخه بیداری ، خوب ، مرگ دی ؛ دبیداری او خوب په مینځکښې یو بل حال هم شته چه دماسره تراوسه دهغه دپاره نوم نشته .

په داسې حال کښې ناست ، دحس مشترك په سینمایی پرده رنگارنگ صورتونه متحرك وینم . ناڅاپه پرده لوېږي یوداسې ښکلی او بې عیبه روغ ، صورت گورم ، چه په ښایسته مخ کښې ئې رعب ، وقار ، شجاعت ، دیانت ، توره ، ناریښتوب . . . . بلقیږي . زه دده مفتون شوم ، نود پیژندگلوی خواهش وکړم ، نوز مااو دده دا گفتگوی شروع شی :

دی ووایی : تهٔ ما نه پیژنې . . . ؟ شك نشته چه ته به ما نه

پېژنی ! پهدې سبب چه‌ته خوکه وېده نه‌يې نــو ويښ هم نه‌يې !

زه ــ البته همداسې بهوی ، مگرزه ستاسې وتعارف آرزو لرم !

ـ زه ورته واېم خوپه دې شرط چه‌زمـا وينا لکه دگنبذې‌غگ همدلته ور که‌نه‌شی ، بلکه‌لکه دسبادشمال غوندې دوطن په‌فضا کښې نشرشی ، چه‌زمامتعلقين پوه‌شی چه زه‌څه غواړم !

ـ په دواړو سترگو ! داخوبيخی آسانه‌فرمايش دی ، مهربانی وکړی .

ـ زه‌هغه شوکېم‌چه‌په تاسې ، ستاسې‌په‌پلرونو ، نيکونو، دافغان په تاريخ ، تردې چه د آرين په‌نسل‌زه حقونه لرم .

ــ منم‌صحيح ده ، مهربانی ! . معاف مو کړ ی که‌په خوب کښې موڅه‌هېر شوی وی نوتاسې !...

دېښتو نخوا ښاغلی ماد ېرښه پېژنی !.!.

ـ په‌دی کښ هیڅ شك نشته ! مگر ستاسی آمال ؟ . .

ـ « دپښتو ژوندون ! »

ـ اوه ! ـ اوس پوه شوم ! . .

دپښتو دنهضت څخه خبر یی ؟ . .

ـ په خندا، خو همدې زمونږ احساسات راوخوزول !

ـ زه تاسې خپلو ملګرو ته په خپل نامه ښودلی شم ؟

ـ ارو مرو ! اوس خو دې و پېژندم ـ زه یم

« د پښتو نوی روح » ! چه‌لکه‌دلاله‌دتخم‌غوندې‌دوطن

دخاورودلاندې،پوره‌جلوې‌ته‌درحمت‌دباران‌انتظارباسم !

# مشر او کشر

دادوه در جې دی چه ټول انسانی افراد دقدرت له خوا یه دې وېش وېشل شوېدی .

که دېوې ټولنې ټول افرادد، دې وېش په لحاظ هر یو خپله خپله وظیفه وپېژنی ؛ او اجرا یې کړی . نو ډېر ډېر مشکلات به حل شی. او ډېر زړه بدوالی به په خوشحالیء سره بدل شی .

مشری په درې قسمه ده : د رتبې ؛ علم ؛ او دعمر په لحاظ نو کشروالی هم ، دغسې په درې قسمه وېشل کېږی .

په جامعه او ټولنه کښې لکه څه رنګ چه مشر په کشر حق لری . دا رنګه کشر هم په مشر حق لری .

دمشر حق په کشر باندې دادی چه باید دخپل مشر خبرو ته غوږ کېږدی ، وېې منی ؛ او په درنه سترګه ورته وګوری .

او د کشر حق په مشر باندې دادی چه مشر باید ده سره زړه سوی، خواخوږی. اومهربانی څرګنده کا.
نومشران باید دکشرانو دښیګڼې دپاره سعیه وکړی: ویې روزی اوتربیه یې کاندې. او کشران دخپلو مشرانو منښت وکړی اوپه عزت ورته وګوری.

کهپه یوه جامعه کنې پردغه اساس عمل وشی، نوریښتیا خبره داده چه تر دېره حده پورې به جګړې او ښتی ورکی شی!

ځکه چه ددې قسم ګذران څخه مینه اومحبت پیدا کیږی. مینه اومحبت د ګډون بلکه دژوندانه دپاره قوام بلل کیږی. هغه کا رونه چه په مینه او محبت باندې کیږی، په بل هیڅ شان نه شی کیدی!

* * *

# ترقي

ددې لفظ لغوی معنی جگوالی ، او پورته والی دی . په عرف او اصطلاح کښې ترقی دېته وائی چه سړی په علم ادب ، فضل ، مال ، دولت ، یا اعتبار سره په خپلو سیالانو باندې تفوق او زیا توالی حاصل کړی .

د ترقی دغوښتلو حس دانسان دخټې سره اغېزل شوېدی . داسې بنیادمان به ډېر لږ وی چه هغوی خپل دغه فطری حس دخپله لاسه وژلی وی . نور ټول خلک دا حس لرو ډېر لری .

په اجتماعی حیثیت سره که سړی و کوری نو دا یو ډېر ښه او ساؤ حس دی چه باید په اعتدال سره وروزل شی : فرض کړو چه هر فرد دخـان ترقی وغواړی نو په نتیجه کښې دغه حس قومی او وطنی رنگ پیدا کوی او دوطن دودانی او عمران دپاره ډېر مفید او کاری ثابتیږی .

هو ! ترقی غوښتل باید په جائز او روا صورت سره وی

داسې چه دعلم ، هنر ، خدمت او فعالیت په واسطه سره چه انسان څو مره استعداد حاصلوی هما غو مره دې ترقی غواړی . او دخپلې اندازې نه دې پښه پور ته نه ږدی چه بیر ته لاندې ایښو دو ته مضطر نه شی

او داسې هم باید سړی ونګوری چه خپله ترقی دبل وروریه تیټو لو او غوړ ځولو کښې ولټه ی ځکه سره ددې چه دا کار شرعا منع دی او دقومیت او ملیت شرافت هم ددې خبرې اجازه نه ور کوی ؛ عقلا هم بد دی ؛ داسې ترقی که حاصله هم شی ثبات نه لری : شنې په غلانه چېچل کیږی او نه قافلې په غلا تیر ول کیږی ددا سې کارو عاقبت خراب وی رحمان بابا څه ښه ویلی دی .

کانې مه ګذار وه دبل چا کور ته
ګنبدې کانې به دستا کور ته ګذار شی

# دثروت چل

یو وخت یوسړی په اخبارونو کښې اعلان وکړو، چه « زما د دولت دګټلو چل زده دی زه دا چل خاص في سبیل الله دملك او وطن د استفادې د پاره وړیا ښیم؛ هرڅوك چه غواړی چه د دې موقع څخه نفع واخلی نو ښکاردی چه دخپلې صحیح پتې سره د جواب ورکولو د پاره دوه آنې یاد دوه آنو دا ګ ټیکسونه راواېږی ده نه به داسې چل ورونبو دل شی چه په کاله نا ست وی او معقوله ګټه وکړی شی! »

پداسې وخت کښې چه ډېر عالم د بیکاری او بې روزګاری نه سرټکولو؛ دا اعلان زر هاؤ کسانو په ډېر شوق سره ولوست او د هر یوه په زړه کښې دا را غله چه څه با با! دوه آنې څه شی دی، ګوندی خدای مهربانه شی او پدې دوه آنو راته یوره کشایش وشی؛ او د هرې خوانه د سړی په نامه کاغذ ونه راورسیدل

څو ورځې پس نـه سړی په اخبارو نو ټسي دا بيان شايع کړ « د جنوری په ٥ تاريخ چه ما ددولت د کټلو د چل د بنو د لوبه باب اخبار و نو ټسي اعـلان کړی و د هغې په اثر ـــــکښې ما ته ١٦ زره خطو نه را غله ؛ هر کله چه زه دې تو لو ته انفرادا ځواب نشم ورکولی ، نو حسب الو عده خپل ځواب داخبارو نو په ځوله خپلو منتظرينو ته ورکوم :-

دا ( ١٦٠ ) زره خطو نه چه ما ته راغلی دی د هريو سره دوه دوه آني هم دی ؛ نولې دوه زره کلـدا ري شوې ؛ زه خود تمام عمر دباره دمفلسی دبا ره خلاص شوم د دولت دگټمې دپا ره ددينه بهتر چل بل څيز ي دی ، دغه دی تاسې ته مې ور يا وښود ! »

# دچا کچری مه تر هوه!

داسې وائی چه چیرې یو ساده سړی په ونه کښې ختلی ؤ دمنده دسر خوا ته ناست ؤ او دمنده سته ئی په تبر وهله،

په دی وخت کښې یو لاروی دونې لاندې تیریدو؛ پور ته یې وکاته، نو ویې ویل: "ای سړیه! داڅه کوې وبه لوېږې!" یاس سړی په دې خبره څه پروا ونکړه، او وی ویل! څه . . . څه بزرگ خو نه یې!»

لږ وروسته چه دمنده بیخ کمزوری شو نو مات شو او سړی لاندې را پریوت. یو ساعت خو بیخانه پروت ؤ، خو چه لږ په سد شو، نو دلاروی پسې یې منډه کړه، چیر ته لیرې یې ومومند، نو په ډیره زاریې سره یې په پښو کښې ورولوید، او په ژړغونی ژغ یې ورته وویل: «چه دخدای دپاره! ته ما وپیژندې؛ ته بېشه سړی یې، تاما ته ویلی وو چه ته لوېږې، او زه رښتیا ولویدم. اوس نو ما ته داهم ووایه چه زه به کله مرم؟»

لاروی که هرڅه عذرو کړ چه زه په دي خبرونه يم خبر ! ولې ده پرې نه ښود ، اوهمد اوچه خدای اورسول بهٔ يې ورته مخکښې کول .

په آخره کښې ورته لاروی وویل چه" ته به سباماز یګرمري * شپه تیره شوه ، سباشو سړی خو ، څه دڅایه ، ژوبل وو او څه ورباندې وهم غلبه وکړه ، نودمر ګ په لاندستون (بستره) کښې غلی پریوت چه مازیګر شو ، نوداسې غلی شو چه تابه ویل مړدی چه څنګه دی وو هغسې پې کورهم وو ، دکاله خلقو دی مړی وشمیره ، وپې امباوه ، کفن پې ورکړ او ښخ پې کړ .

شپه به تیرېدوده ، سړی دلوږې تندې څخه بې طاقته شوی دی ، ځان پې خوزولی دی ، دسرخښته پې لیرې کړېده ؛ خاورې لاحلی اودېښو خواته پې تنباسی پهآخره کښې پې قبرسوری کړی دی ، کفن په غاړه دنامه پورې سپیره دقبر نه راوتلی دی !

دسبا ستر ګه جګه راغلی ده ، سبائی مال دی ؛ په دې

وخت کښې یوه لویه قافله پردغه هدیره باندې تیریدې، سړی لیږ ځان خوزولی دی، او څاروی ترهیدلی دی، داو ښاو کچرو اسونو او خرووری یو تربله سره ښتی دی د ځښاوانو ځیرې شوی دی او ځینو ماروته غوږ زولی دی؛ تور گرد چاپیر شوی دی

په دې کښې دقافله والاؤ پام شوی دی، ورنساری کړی یې دی چه څوك یې؟ سړی په تیت اواز سره ویلی دی، چه « مړی یم »

چه قافله والاو ته راسیدلی دی، ویل یې «کوردې خراب شه، ته څنگه مړی یې؟ » اوپرې راباندې کړی یې دی، ښه‌یې وهلی دی، څه موده‌خو دصورت په‌خوږ اخته، بې دمه پروت وو؛ خو، چه لیږه متره پکښې پیدا شویده په دې وخت کښې نمرهم ایله څرك وهلی وو، سړی‌غریب خرپرمات گوډ د کباله‌خواته راروان‌شویدی.

چه‌د کلی خلقو لیدلی دی یووار هاها جوړه شویده چه فلانی ژوندی شوی دی.

ته راځه، اوزه راځم، چي خلق را ټول شوي دي، دوی ترې پوښتني کوي او دې ورته لګيادی بيان کوي.

په آخره کښې بوډه ورته پوښتنه وکړه چه دهغه جهان حال څوهم څه ووايه :— ده ويلي دي : « دچا کچري مه تره هوی، هيڅ نشته » — او که دچا کچري موونږ هولې وهلی تکول او رنګا رنګ عذا بونه دي ! »

# دغوگوخدمت

داسې وايي چه اېر يې چير ته په يو ملك كښې يوسړى وو ؛ چه سليم خان نوميدو او په غوږ ونو دروندو . دده غوږې ورك شوي وو ! دى له كوره راوتلى دى يو خوا بل خوا گرځي ؛ دخپل غويي پوښتنه كوي . نا څاپي په يو سړى ور پيښ شوى دى ، چه لگيا دى د ديوال رده ږدى . سليم خان لبزشاني بير ته ولاړ دى ، سلام يې ور اچولى دى . سړي سر قدري را پورته كړى دى ؛ اونور بير ته په خپل كار بوخت شوى دى . سليم ور غبز كړيدى چه كا كا ! زمايو غويې ورك دى تا خو ندى ليدلى ؟

سړى : ختمه كوم ختمه !

سليم : يو تور چر گى غويې وو !

سړى : ړوند خو نه ئى ، گورى مې چه ختمې كوم !

سليم ديرون راهيسى ورك دى ! (ورنږدې كيبږى)

سړی : هلکه ! ته خو لیونی یې ! دا زما خپل ځای دی، خپل ځای !!!

سلیم ته خپل ځای کښې مېز ته وته !

سړی : ته خو د هر خناسړی یې ، زه به خپل پټی کښې ختمه کوم ، او ته وایې چه نا ، دا ځای ستا نه دی نا ! — (بیل راواخلي ورپسې راځي ؛ بوچ وایی او کښنځا کوی )

سلیم : وای ! ته خو جنګ ته تیار یې ! — دا کښنځا دڅه دپاره ؟ ! چه جواب نه را کوې ، مه را کوه کښنځه ؛ د کښنځاؤ دی څه حق دی او د رېږه زه به در سره یوه شم !!! سره لګیږي ( په دیکښې خلك راځي . سره خلاصوی یې . دوازه قاضی ته ځی ) اتفاقاً په کوم ماښام چه دوی دوازه محکمې ته ورځی . دا د روژې وروستنی ماښام دی . قاضی صاحب بوا ځې ناست دی . دوی دوازه په ادب ولاړ دی ، یو د بل نه چابکی کوی چه خپل عرض مخکښې بیان کړی . قاضی صاحب وویل « ته اسو دوازو ؟ » — دوی بیاور ته په تقریر شروع کړیده .

قاضی : بس بس ! نور حاجت نشته ـ او، محتسبه ! ورشه
جارچي ته ووایه چه سبا ته اختر دی جار دې ! ووهی ! ـ
سړوولیده چه محتسب په منډه ووت دوی پوه شوه چه
خدای کو خر راولی او دوانړه ورپساندي سوړ وی !
دوانړو دقاضي ستر ګې څار لی دی چه دهغه پام بلـې
خواته شوی دی : دوی خپلي پښي سپکي کـړي دی ،
او تښته چه تښته . سړی وتښتیده او سبا ته اختر شو ! ـ

# پېر دی خط لوستل

یو سړی خپل کوم یو دوست ته خصوصی خط لیکلو . یو بل سړی راغی خوا کښې یې کښېناست . چه ده به څه لیکل هغه به اوستل په آخره کښې لیکونکی په خپل کاغذ کښې ولیکل : « نور یې خبری به بیا درته ولیکم . ځکه چه اوس زما یو دوست زما تر څنګه ناست دی . چه زه هر څه لیکم دی یې لولی . »

سړی وویل : » خپل خط لیکه ما خو ستا خط نه دی کتلی »

لیکونکی ورته وویل : « چه کتلی دي نه دی نو عذر ته څه حاجت دی ؟ »

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989